میاشتنۍ

مې ۲۰۰۶ء

# پښتون

چیف ایډیټر
رحمت شاه سائل

پېښور



**په وزیرستان، فاټا او بلوچستان کښې**
**ناقلارۍ د حکومت د ناقصې پالیسۍ نتیجه ده**

## د طالب ریاست په افغانستان یا پاکستان کښې؟
## امریکه، ترهګرۍ او د مشرف مستقبل





قصه خوانی کښې په ۲۳ اپریل ۱۹۳۰ د توپې شوې وینې عکس چې نن هم په خپله ژبه کویا دے او وایي:

که دومره اوشی نو هم فرض به پوره شی اشنا
چې د ارمان په مزار اوښکې بلول شی اسان

دریم ټوک، پوښۍ گڼه، ۲۰۰۶


| مخ | لیکوال | لیک | شمیره |
|---|---|---|---|
| ۲ | اداریه | سیاسي دیني مغالطې | ۱ |
| ۶ | ډاکټر سباوون | د ازادۍ جنګ او د لیکه | ۲ |
| ۹ | پیکاټیوسین روح الامین | امریکه، ترهګري او د مشرف | ۳ |
| ۱۱ | فرهاد ریاض | څرګ چې خیال کوي نه | ۴ |
| ۱۸ | ایمل خان مومند | د طالب ریاست په پاکستان | ۵ |
| ۲۲ | ډاکټر اسرار، رحیم زاده | شاعري | ۶ |
| ۲۳ | رحمت شاه سایل | د غیر جمهوري حکمرانانو | ۷ |
| ۲۸ | پښتون مجاهد | د خلیل ملک په نوم | ۸ |
| ۳۰ | ډاکټر خورشید عالم | نه منم نه منم بابا | ۹ |
| ۳۴ | اسرار د طورو | د سیاسي کارکنانو او عوامو | ۱۰ |
| ۳۷ | غني خټک | د مشرف د کارکردګۍ جاج | ۱۱ |
| ۴۱ | ایس ایس یوسفزی | بلوچستان بیا مسئله ده | ۱۲ |
| ۴۶ | لیلا شبنم | د جهالت محاذ | ۱۳ |
| ۴۸ | احمد جان | د بشر په نوم | ۱۴ |
| ۵۱ | خان زمان کاکړ | څنګونه څېرې بدلوي | ۱۵ |
| ۵۵ | سایل، س و س سحر | شاعري | ۱۶ |
| ۵۶ | جمال | په سائنسي دور کښې | ۱۷ |
| ۵۷ | اسماعیل ګوهر | ژوند قیصې قیصې | ۱۸ |
| ۶۰ | محمد عارف ساقي | د وخت چغه | ۱۹ |
| ۶۱ | محمد پرویش شاهین | پښتانه په منطق وهلی کېږي | ۲۰ |
| ۶۴ | ډاکټر اسرار | د نوي پاکستان په نوي ائین | ۲۱ |
| ۶۵ | پروین ګل | زما مشران | ۲۲ |
| ۶۷ | شیخ جهان زاده | د پاکستان ائین او قبایل | ۲۳ |
| ۷۱ | اداره | ثقافتي سرګرمي او پښتانه | ۲۴ |
| ۷۳ | شیرین ګردیوال | د ډاکټر کبیر ستوري سره ژمنه | ۲۵ |
| ۷۴ | ادبي رپورټ | د خان عبدالولي خان په یاد | ۲۶ |
| ۷۵ | محمد زبیر حسرت | د پښتو خبره د (پښتون) خبره | ۲۷ |
| ۷۸ | فضل خالق بونیرے | غزل | ۲۸ |
| ۷۹ | خورشید ثاقب، افضل شاه | نظمونه | ۲۹ |
| ۸۰ | عطاالله جان، شاهین خادم شاني | غزلونه | ۳۰ |



د باچا خان

# پښتون

رحمت شاه سایل

معاون امجد شهزاد
فوټوګرافر زاهد اعوان
کمپوزر چارج عبدالله

**ګڼون بیه**

پاکستان
د یوې ګڼې بیه: 30 روپۍ
د کال بیه: 300 روپۍ

افغانستان
د یوې ګڼې بیه: 25 افغانۍ
د کال بیه: 250 افغانۍ

یورپي هېوادونه
د یوې ګڼې بیه: 5 امریکایي ډالره
د کال بیه: 100 امریکایي ډالر

خلیجي هېوادونه
د یوې ګڼې بیه: 8 یو اې ای درهم
د کال بیه: 80 یو اې ای درهم



**د خط او کتابت درک**

پي او بکس نمبر: 306، پېښور
**دفتر** باچاخان مرکز، پجګي روډ، پېښور
**ټيلي فون** 3-2246851 – 091-2252404
**فېکس** 091-2252406
**ای میل** pukhtoonmag@yahoo.com



چاپ خانه
**مظهر پرنټینګ پرېس جنګي محله، پېښور**

**پبلیکشن سېل باچاخان ټرسټ**

شروع کوم په نامه د خدائے چې ښونکے او مهربانه دے

انور علی
کتاب کا نام ________
سیریل نمبر ________
فون نمبر 0335-3199661

# ستاسو وینې مشالونه

اے د ۲۳ اپریل ۱۹۳۰ د پېښور د قیصه خوانی شهیدانو، چې ورځ تېره شی، او ماښام شی، نو اکثر پښتنې میاندې بچو ته وایی، بچو دعا وکړئ. زمونږ د مرګ په لوری تلی روحونه هر ماښام راځی، او مونږ ته لکه د یتیمانو زمونږ د دعا دپاره ولاړ وی، چې مونږ دعا اوکړو، نو هغوی دعا واخلی او هله روان شی، نو زما د ازادی د جنګ رومبنو نرانو شهیدانو، تاسو چې د کومې ادا سره د قیصه خوانې په سرکونو خپلې وینې وشیندلې، او زمونږ د قام او اولس د روان تحریک لار مو ګل و ګلزار کړه، نو چې ستاسو د یاد دغه ورځ راځی، نو ستاسو روحونه به هم په قیصه خوانی کښې زمونږ د یاد او دعا په تمه ولاړ وی، تاسو به د وینو په کفنونو کښې زمونږ لارې څارئ، ولې زمونږ د خاورې د ازادی نرانو شهیدانو، زمونږ زړونه او روحونه که ددغې یاد په وخت موجودګی نه هم لری، بیا هم دغه زړونه او روحونه، ستاسو د هغې لېونی ادا اسیران خو دی، ځکه چې تاسو خو ددې خاورې دې قام او دې اولس د تاریخی روایاتو د پاسداری یوه داسې رده ایښودې ده، په کومه چې مونږ د مسلسل جدوجهد دپوالونه ودرولی دی، اے زمونږ د ازادی د جنګ غېرتی شهیدانو، تاسو خو په یوه دغسې نره ابتدا زمونږ په سرونو کښې د فخر داسې تخمونه وکرل، چې هغې نه یوازې زمونږ سرونه د غلامی د بوج نه ازاد کړل، بلکې زمونږ روحونو ته یې د یو بل پرواز دپاره مېدان جوړ کړو، په دغه مېدان کښې نه یوازې مونږ د پرواز چل زده کړو، بلکې د نوو جذبو او ارادو وسعت ته مو اوس دغه مېدان هم لنډ تنګ کیږی

د انسان د بې ګناه ولې نرې تویې شوې وینې رنګ که په خپلو شغلو کښې نه ځائیږی، نو شغلې یې هم په ورو مېدانونو کښې نه شی الوتے، وینه وینه وی، د هغې خاموشی چې خبرې شروع کړی، نو اول خبرې وی او بیا سندرې شی، او چې سندرې شی، نو نه یې څوک په سم رامنع کولے شی، او نه په غر

اے زمونږ د قامی ازادی د رومبنی جنګ شهیدانو، تاسو چې په قیصه خوانی کښې په کومه ورځ په هره لاره خپلې وینې وشیندلې، هم دغه ورځ د پرنګی نه د ازادی د اخستو ورځ وه، او هم په دغه ورځ تاسو د ازادی په ناوې سرونه کېښودل، تاسو د ازادی ناوې سینګار کړه

بیا ازادی کله راغله، او پرنګی کډه کله وکړه، دا خو یو تسلسل ؤ د ۲۳ اپریل د هغې ورځې، دا خو تسلسل ؤ د هغو رومبنو قدمونو، دا خو تسلسل ؤ د هغو سترګو او هغو نظرونو، چې تاسو لارئ او د پرنګی په سترګو کښې مو سترګې ورواچولې، او په صفا تکو کښې مو ورته ووې، چې مونږ دادی خپلې تودې او سرې وینې په خپلو لپو کښې

نیولې دی، راغلی یو . دا زموږ د پلرونو او نیکونو وطن دے. موږ که ژوندی یو هم دلته به یو .او که مړه کېږو هم دا زموږ خاوره ده، هم دا به په خپله لمن کښې ځائے راکوی، موږ له دلته د ژوند چل هم راځی.او د مرګ چل هم راځی. دا موږه، دا مو وینه، دا مو سترګې،دا مو خوله، زموږ نعره د ازادۍ نعره ده، د انقلاب نعره ده، ازادی دې ژوندی وی، او انقلاب دې ژوندے وی

نو اے زما د قام او اولس د ازادۍ شهیدانو . دغه نعره چې په کومو شونډو وه، هغه شونډې په وینو سرې وې، او حقې وې،او هم دغه د ازادۍ ورځ وه،۲۳ اپرېل ژ . او ۱۹۳۰ کال ژ . نو اے شهیدانو ،دا خو د دعا یو رسم دے. ګنې ستاسو په یادګار چې کوم ګلونه غورولے شی، دغه ګلونه که هر څو د هر رنګونه لری، خو ستاسو د وینو د هغې سور رنګ سره د هر سمے هم نه خوری، دغه ګلونه که هر څو خوشبوئی هم لری، خو دغه خوشبویی ستاسو د وینې د هغې خوشبویی مناسب نه ده، کومه چې د قیصه خوانی په سړکونو هغه وخت محسوس کېده

اے زموږ د ازادۍ رومبنو شهیدانو . زموږ خاورې لا هغه ګلونه نه دی کړی، کوم چې به ستاسو د شان مناسب وی، او که کله یې یو ګل هم چرته وکړو . نو موږ درسره لوظ کوو . چې تازه په تازه به مو په رومبنی فرصت کښې درسولے وی

ښه به وه، چې موږ ناشکرتو ،ستاسو د بچو هم احسان منلے وے، او هغوی ته مو عزت او عظمت بخښلے وے. اے زما د قام او اولس د ازادۍ غېرتی شهیدانو . موږ ددې ملک د صدر نه،وزیر اعظم نه او نورو واکدارانو نه علاوه دخپلې صوبې د هغو واکدارانو نه هم مطالبه مناسب نه ګڼو . چې تاسو ته خپل مقام درکړی، یا دومره خو درشی، چې یوه لپه دعا خو مو په یادګارونو وکړی، دغه خلک پخپله ګداګر دی، د اقتدار سوالګری دی او د اقتدار اوړی دی، د ضمیرونو سوداګر او تاجران دی، د دوی د لاس ګلونه به لګه د ازغو ستاسو په سینو پرېوزی، نو ښه ده چې نه درځی، او نه موږ ستاسو د یاد سفارش چاته کوو . ځکه چې موږ ته دغه ستاسو د وینې د تولو نه لویه بې قدری ښکاری، او خدائے مکړه، چې موږ د خپلو شهیدانو د یاد خواست د چانه وکړو . موږ ستاسو د وینو قرضداری یو . موږ به ستاسو د تویې شوې وینې،د ارمانونو په لار تر هغې په مخکښې روان یو ، تر څو چې مو ستاسو د ارمانونو منزل ترسره کړے نه دے، د لوئے خوشحال بابا په قول

تـر منزلـه پـورې شـرط د رسـېدو دے
کــه تمامــه لار پــه وینـو شـی الـوده

تاسوخپل کار او عمل کړېدے، تاسو که موږ ته ضرورت لرئ، نو صرف دا چې موږ ستاسو د قربانیو او ارمانونو کاروان په مخکښې بوځو ، تاسو موږ ته هیڅ ضرورت نه لرئ، البته موږ ته ضرورت دے، په قدم قدم کښې ستاسو د غېرتی روحونو رابللو ، چې ستاسو وینې په هر حالت کښې زموږ د هرې لارې مشالونه دی

ډاکټر صابر



# د ازادۍ جنګ او د قیصه خوانۍ قیصه

قیصه خوانی د پېښور زړه دے، په دغه زړه د پښتنو د ملی ژوند ګڼې قیصې دی، خو یوه قیصه د خپلې واقعې او خپل تاثیر له ګبله د دغه ټولو قیصو مور ده. خدائے بخښلے باچاخان په خپله (اپ بیتی) کښې د دغه واقعې د اهمیت په هکله وایی
"۲۳ اپریل کا دن، جس دن یہ واقعہ ہوا تھا ایک عظیم تاریخی اهمیت سے وابستہ ہوگیا"
۲۳ اپریل ۱۹۳۰
بیشکه چې دغه ورځ د پښتونخوا په سیاسی تاریخ کښې د ډېر لوییے اهمیت وړ ده، په دغه ورځ د قیصه خوانۍ په تاریخی بازار کښې د پرنګی استعمار فوځونو ددې خاورې په هغه رېښتینو بچو ګولۍ ورولې وې، چې د عدم تشدد دلارې یې د خپلې ازادۍ دپاره احتجاج کوو
د پښتنو دپاره د ازادۍ په مبارزه کښې خپله مرګ ژوبله نوې خبره نه وه، تر دغې واقعې د مخې هم ډېر واقعات شوی وو، او پس ته ترې هم ډېر څه شوی دی، خو دغه واقعې د پښتونخوا په راتلونکی سیاست هر اړخیزه اثرات ولرل
پښتنو د ډېر وخت راهیسې د پرنګی خلاف د ازادۍ مبارزه کوله، د پښتونخوا په غرېزو علاقو کښې د پښتنو قبایلو او پرنګی فوځونو ترمینځ وسلئیزې نخښتې روانې وې، خو په میدانی علاقو کښې د عدم تشدد د لارې په جلسه او جلوس ازادی غوښتلے شوه ددغه ډول احتجاج دپاره یې د باچاخان په مشرۍ کښې اول د انجمن اصلاح افاغنه او بیا خدایی خدمتګار په ډول تنظیم کاری کړې وه، دغه دواړو تنظیمونو د پښتنو د هر اړخیزې اصلاح سره سره د پرنګی استعمار څخه د ازادۍ په مبارزه کښې پوره پوره برخه لرله، پرنګیانو به ددغه تنظیمونو په مشرانو او کارکنانو رنګ رنګ ظلمونه کول، خو هغوی دغه یو ظلم او یو زور د خپلې لارې نه شو ستنولے

د خدايي خدمتګار تحريک مشر باچاخان د خلاف تحريک د صوبايي صدر په حيث د هندوستان لويو لويو ښارونو ته تللي راغلي ؤ. د لويو لويو ښارنيو او تحريکونو د مشرانو سره يې پيژندګلو شوې وه. د هغوي په سياسي غونډو جلسو کښې يې ګډون کړے ؤ. د دغه پيژندګلو او غونډو په هغه باندې ډېر ښه اثر کړے ؤ. په دغه ډلو او خلکو کښې هغه کانګرس پارټي او د هغې مشران زيات خوښول

کانګرس د دغه وخت په ټول برصغير کښې د پرنګي خلاف د ازادۍ د ټولو لوئې منظم او فعال تحريک ؤ

خو د ازادۍ د شريک مقصد باوجود هم د فيصله خوانۍ د فيصلې پورې خدايي خدمتګار تحريک د کانګرس سره کومې تنظيمي اړيکې نه لرلې. ولې د دغه اړيکو د نشتوالي باوجود يې هم په دغه فيصله کښې شريکه برخه لرلې وه. د دغه فيصلې سر د کانګرس پارټۍ د کلکتې د سېشن څخه انځښتے ؤ

په دغه سېشن کښې د کانګرس مشرانو د هندوستان دپاره د Dominian Status غوښتنه وکړه، دا فيصله يې وکړه چې که د کال ختمېدو پورې زمونږ خبره ونه منلے شوه، نو د مکملې ازادۍ اعلان به کولے شي. په دغه لړ کښې د کانګرس د مشرانو او پرنګيانو ترمينځ څو واره خبرې وشوې. خو پرنګيان دغه ازادۍ ورکولو ته نه جوړ ېدل

کوشش يې کوو چې د هند او سېدونکي په څو عمومي اصلاحاتو رضا کړي، خو د کانګرس مشران په دغه مراعاتو رضا نه شول. په دغه لړ کښې يې د کرپس مشن او ګول مېز کانفرنس دواړو بائيکاټ وکړو. او په کال ۱۹۲۹ کښې د لاهور په سېشن کښې په ۳۱ دسمبر د مهاتماګاندهي هغه قرارداد منظور کړ، چې په کښې د مکملې ازادۍ (purna suaraj) غوښتنه وشوه. په دغه قرارداد کښې اووئيلے شو، چې د مهاتما ګاندهي، نهرو او وايسرائے ترمېنځ د خبرو اترو هېڅ جوړ نه شو

او د نتيجې په توګه وئيلے شو، چې په راوتلي ټېبل کانفرنس کښې برخه اخستل هم بېځايه دي. بس اوس يوه خبره ده او هغه مکمله ازادي غوښتل او اخستل د خپل جدوجهد په اوله کښې به په مرکز او صوبو کښې د هر قسمه قانون سازي څخه بائيکاټ کولے شي، د حکومت د ټولو جوړو شوو کمېټو نه به استعفاګانې ورکولې شي. د کانګرس سره ترلي خلک او قامي جدوجهد کښې برخه اخستونکو کسانو ته خواست دے، چې په هر قسمه انتخاباتو کښې د برخه اخستو څخه ځانونه وژغوري، د اسمبليو ممبرانو نه د استعفاګانو ورکولو وئيلے شي. د قام څخه غوښتنه ده، چې د کانګرس د فيصلو مرسته وکړي. او ال انډيا کانګرس کمېټۍ له اختيار ورکړي، چې کله هم مناسب ګڼي نو سول نافرماني اعلان کړي. او د ټيکسونو نه ورکولو فيصله وکړي. دغه که د خاص خاص علاقو دپاره وي او که عام وي

د ال انډيا کانګرس کمېټۍ غړو پنډت ملاويه په مسټر کلکار، ډاکټر عالم، مسټر رائے، مسټر ګونداچار، او نور يو شمېر کسانو په دغه قرار داد کښې ګڼ ترميمونه تجويز کړل خو ګاندهي د هغوي ټولو جوابونه وکړل، اخر کښې دغه قرارداد رائے شماري ته وړاندې شو، او د ډېرو لږو کسانو په مقابله کښې ډېرو ګڼو کسانو منظور کړ

د سېشن په اخر کښې د کانګرس صدر پنډت جواهر لال نهرو حاضرينو ته يو جذباتي تقرير وکړو، او د نوي کال سره سره يې د ازادۍ مبارکي هم ورکړه، ټول ملک کښې لړې ورځې پس د کانګرس کمېټۍ پخپله غونډه کښې ۲۰ جنوري ۱۹۳۰ د هړتال او ازادۍ ورځ وټاکله، د هندوستان د مسلمانانو مختلفو نېشنلسټ پارټو هم په خپلو غونډو کښې د کانګرس د فيصلې مرسته اعلان کړه، استحصال څخه د عوامي ازادۍ د علامت په ډول يوه درې رنګه بېرغ قومي بېرغ غوره کړے شو

په ټاکلي ورځ په ټولو ښارونو کښې مظاهرې وشوې.

گرفتارۍ شروع شوې. په جنورۍ او فرورۍ کښې جلسې جلوسونه روان ؤ. خو لوبه هغه وخت توده شوه چې کله په مارچ کښې مهاتما گاندهي وایسرائې ته اخرې کرښه راښکله. او د عدم تشدد دلارې د سول نافرمانۍ دپاره یې د ټول ملک په دوره لاس پورې کړو. د اپرېل په اولنیو ورځو کښې د سالټ ایکټ لاندې مهاتما گاندهي ونیوے شو. او سزا کړے شو. بیا نور ونیوے شول. پولیسو د کانگریسیانو په کورونو چاپې وهل شروع کړل. حکومت دغه احتجاج په زور قابو کول وغوښتل. په پونا، کلکته، کراچي، چټاگانگ او مدراس کښې پولیسو په جلسو جلوسونو ډزې وکړې

خدايي خدمتگارو په دغه قامي جدوجهد کښې پوره پوره برخه لرله، خو د اپرېل په اخرې ورځو کښې یې خپله برخه مبارزه نوره تنده کړه، په اتمانزو کښې یې یوه لویه احتجاجي جلسه وکړه، د جلسې نه پس باچاخان د پېښور د ملگرو سره د صلاح مشورې دپاره پېښور ته راتلو، په لار د ناقعې سره خوا کښې پولیسو ونیو، واپس یې چارسدې ته بوتلو. هلته د تحریک صدر میا احمدشاه، سکرتری عبدالاکبر خان، سالارسرفراز خان، او د جلسې منتظم شاهنواز خان هم پولیسو نیولی وو، د چارسدې جېل کښې بند کړے شو، چې خلک خبر شو، نو د زرگونو په شمېر کښې د جېل نه تاؤ شول، او غوښتل یې چې خپل مشران په زور ازاد کړي، خو ډاکټر خانصاحب ورغے، او خلک یې د تشدد نه منع کړل، فوځ دغه مشران په خپله نگرانۍ کښې مردان ته بوتلل، سبا له رسالپور ته بوتلے شو، د چارسدې مجسټرېټ خان بهادر علي قلي خان دغلته ورغلو، او دوی ته یې د اېف سی ار د څلوېښتمې دفعې لاندې درې درې کاله سزا واوروله، دغه وخت پېښور کښې هم سیاسي مشران نیولے شوی وو

د باچاخان او نورومشرانو نیولو حالات نور تاوژن کړل، په ۲۳ اپرېل د پېښور ښار د مختلفو کوڅو او بازراونو نه جلوسونه راوتل. د خواوشا کلو خلک هم راورسېدل. په اکثرو کوڅو او بازاراونو کښې د پولیس او خلکو ترمینځ ورې ورې نخښتې روانې وې، خو اکثرو خلکو خانونه قیصه خوانۍ ته ورسول، دغلته ورته هغه مشرانو تقریرونه وکړل، څوک چې تردغه وخته گرفتار شوی نه وو. دغه پرامنه جلوس مخ په وړاندې خیبربازار ته تلونکے ؤ. خو مخې ته یې گڼ شمېر پولیس ولاړ وو. او د دوی مخ نیوے یې کوو، تر ډېره وخته د خلکو او پولیس ترمینځ مخکښې روستو کېده، کله خلک مخکښې شوی او کله پولیس را مخکښې شوی

دغه وخت د پېښور پرنگے ډپټي کمشنر په ارمډ کار کښې ناست راغلو، د خلکو مېنځ له دوه خله ورغے. غوښتل یې چې خلک وویروی، او یا یې مشتعل کړي. چې په دوی د تشدد بهانه په لاس ورشي خو چې خلک نه وېرېدل او نه په اشتعال کښې راغلل، نو ډي سي غضب واخست، او په خلکو یې ارمډ کار وروخېژوو. خلکیې وچقول، یو سړی کوشش وکړو، چې ډي سي د ارمډ کار څخه راوغورزوی، خو اوویشتے شو، د خپلوملگرو په دغسې مرگ ژوبله خلک غصه شول، په پولیسو ورغلل، تانه یې ونیوله، خو فوځ او پولیس په خلکو شریکې گولۍ اوورولې، فوځ او پولیسو د عام ټوپکو سره سره درنې وسلې هم په کار راوستې

او په لږ وخت کښې یې د قیصه خوانۍ بازار د خپلو مشینو په وینو کښې پټ کړو، په دغه ورځ د فوځ په ډزو بیخي گڼ کسان مړه ژوبل شو، چې له سوونو یې زرگونو ته شمېر رسي، خو حکومت په دغه باب په هر قسمه تحقیق او اطلاعاتو باندې پابندي لگولې وه، حتی چې په دغه هکله د صحیح معلوماتو راغونډولو دپاره د کانگرس لخوا رالېږلے شوے وی، جي پټېل له یې اجازت ورنکړو، چې صوبې ته راشي، هغه په راولپنډۍ کښې کښېناست او غېر سرکاري انکوایري یې وکړه، خو حکومت په هغې هم پابندي ولگوله

د پېښور انتظام يې فوځ ته حواله کړو. په اخبارونو يې سنسر ولګولو. د صوبې کانګريس کمېټۍ او نوجوان بهارت سبها باندې يې پابندي ولګوله. حکومت خپله اعلاميه جاري کړه، چې د معلوماتو ترمخه يې د کانګريس او نوجوان بهارت سبها غړي په جزوي ډول د سول نافرمانۍ او په جزوي ډول د مقامي اختلافاتو په بنياد د خومياشتو راهيسې په صوبې کښې د ګډبړ پيداکولو کوششونه کوي

د کانګريس کارکنان په مجموعي ډول د خلکو او حکومت ترمېنځ لرېوالے پيداکوي، او د حکومت د منظور شوو قوانينو خلاف کوي، ميرج ايکټ د مذهب خلاف ګني او د مذهبي جذباتو رالړزولو هڅې کوي، د نوجوان بهارت سبها غړي د پېښور په چاپېره کلوکښې کميونسټ نظريات خوروي، د يو ممکن احتجاج د بدو اثراتو څخه د صوبې د خلکو محفوظولو دپاره حکومت د څه کسانو د نيولو فيصله وکړه، په يوولسو کښې نهه کسان ونيوے شو، خو چې نور دوه نيولے شو، نو خلکو هغوی د پوليسو څخه په زور ازادکړل، ډی سی ته اطلاع وشوه، هغه په خپل ګاډی کښې سمدستی د کابلي دروازې په لور ورغے، ځان سره يې دوه ارمډ کارز بوتلل، هلته هغه ته معلومه شوه، چې متعلقه دواړو کسانو ځانونه پوليس ته حواله کړی دی، هغه ارمډ کارز ته د روستو کېدو اووئيل، او په خپله مخکښې ورغے، هلته ورته د پوليس اسسټنټ سپرنټينډنټ اووئيل چې دکابلي دروازې سره نزدې يوه داسې ګڼه ګوڼه ده، چې بيخی تشدد کول غواړی، خو پوليس د دوی دقابو کولو توان نه لري، ددغه پوليس افسر سر هم يو تن په خښته ويشتے ؤ

ډی سی ارمډ کارز راوغوښتل او هغه ځائے ته ورغے چرته چې دخلکو او ريزرو پوليس ترمېنځ نخښته روانه وه، خلکو د ډی سی ګاډی له لار ورکړه، خو د کابلي دروازې دننه خلکو په پوليس افسر د خښتو باران جوړ کړو

د ډی سی ارمډ کار په بازار کښې رو رو روان ؤ، او بيا کابلي ګېټ ته واپس شو، چرته چې دويم ارمډ کار تيار ولاړ ؤ، دغلته ارمډ کار يو يا دوه تنه وران کاري وچڅول، خلک په دې جذباتي شو، ډی سی ورته د خورېدو خواست وکړو، د خبرو کوشش يې هم ورسره وکړو، خوخلکو په کاڼو او خښتو اوويشت، يو ورانکاري د ارمډ کار د يو فوځي افسر د تماچې اخستو کوشش وکړو، خلک په تاڼه ورغلل او د هغه خابه يې دپوليسو د ويوستو هڅې وکړې، ډی سی او ايس پي کوشش کؤ، چې خلک په قلاره خواره کړی، خو يو ورانکاري ډی سی په خښته اوويشت او هغه بې هوشه شو، پوليس سټېشن ته دننه يوړے شو، دغلته پوليسو او د پوليسو افسرانو هم پناه اخستې وه، دغه وخت خلکو يو ارمډ کار ته اور ولګولو، په دويم ارمډ کار کانی ورولے شول، دغه وخت ډی سی په هوش کښې راغلو، او د فاير کولو حکم يې وکړ، فاير اوشو او خلک سمدستی خواره شو، بيا د ښار په مختلفو برخو کښې خلک راوتل، د دوی د قابوکولو ټولې هڅې شنډې شوې، په ډېرو ځايونو کښې د خلکو او د حکومت د انتظامیې د اهلکارو ترمېنځ لاس په لاس نخښتې وشوې

د حکومت د وينا ترمخه دغه فايرنګ ډېر محدود او مخصوص ؤ، صرف يو سل نهه ګولۍ چلېدلې وې، د مړو شمېر تر شلو زيات نه ؤ، او صرف دېرش تنه زخميان شوی وو، ګورنمنټ اف انډيا دغه فايرنګ په ځائے وګڼو د واقعې ذمه واري يې په کانګريس اونوجوان بهارت سبها ورواړوله

حکومت چې هر څه اووې او هر څنګ يې اووې خو خلکو خپله واورېده، او خپله يې وکړه، هم په دغه ورځ په چارسده کښې لويه هله ګله وشوه، څوورځې پس په ټکر کښې يوه درنه احتجاجي غونډه باندې هم د پرنګی سرکار اهلکارو ګولۍ اوورولې، بيا د بنو د سپين تنګی واقعه وشوه، په قبايلي علاقو کښې ناقلاري جوړه شوه

دغسې د قیصه خوانۍ قیصه اورده شوه. د باچاخان د یاد شوی اثر د معلوماتو ترمخه د ناقعې خلکو په دې بد وګنیل چې حکومت باچاخان د هغوی په علاقه کښې ونیو. او د احتجاج په توګه ټول په خدایی خدمتګار تحریک کښې شامل شول. هم د هغوی وینا ده چې د حکومت د تشدد په ردعمل کښې خلک زمونږ ملګری شو. او چې مونږ د جیل نه بهر راغلو. نو زمونږ تحریک په خلکو کښې ډېر زیات خور شوے ؤ



دغسې د قیصه خوانۍ خونړۍ واقعې د پښتنو په سیاسی ژوند ګڼ اثرات ولرل چې په کښې

۱) په خلکو کښې د پرنګی سرکار د زور خوره شوی یره ورکه شوه، او د مزاحمت توان یې وموند

۲) د پرنګی د زور ظلم خلاف بې د خپلو جذباتو د اظهار دپاره د ازادۍ په تحریک کښې د برخې اخستو مثبت عمل ته دوام ورکړ

۳) د عدم تشدد د لارې د مزاحمت کولو اهمیت او افادیت ورمعلوم شو

٤) د قیصه خوانۍ په غم د ټولې پښتونخوا غمژنېدو دیو قامی وجود احساس مخې ته راوړو.

٥) د قامی بېدارۍ احساس پښتانه مشران په خپل مرام او خپل شعار نور ټینګ کړل

٦) د خپلې تجربې په رڼا کښې پښتانه مشران په دې نتیجه ورسېدل چې د پرنګی نه د ازادۍ اخستو دپاره خپل تحریک د ملک دنورو هم خیالو تحریکونو سره وتړی، په همدغه خیال یې د مرام او منزل د اشتراک په بنیاد د کانګریس پارټۍ سره خپل تړون او سمون راوست

۷) څه ورخې پس حکومت مجبور شو. چې سیاسی قیدیان پرېږدی، راونډ ټېبل کانفرنس راوغواړی، او هغې کښې د پښتونخوا د حالاتو د جایزې اخستو او ضروری اصلاحاتو د سفارش دپاره کمېټۍ جوړه کړی، حتی چې دغه صوبه یې د ګورنری صوبه وګرزوله، (اتر دغه وخته دا د چیف کمشنر حیثیت صوبه وه)، د پارټۍ په بنیاد انتخابات یې وکړل، چې د نتیجې په ډول یې په کال ۱۹۳۷ کښې خپل منتخب حکومت یې ودرلود، ایف، سی ،ار- ختم شو او نور ګڼ شمېر اصلاحات اوشو.

دغسې د پښتنو په زړونو لیکلې شوې د قیصه خوانۍ قیصې د پښتونخوا په راتلونکی سیاسی تاریخ ،ملی ژوند او د پرنګی خلاف د ازادۍ په مبارزه ژور اثرات ولرل.

• • •



# امریکه، ترهګری او د مشرف مستقبل

د پاکستان صدر پرویز مشرف په سخت مشکل کښې دے د اکتوبر ۱۹۹۹، راهیسې، چې کله ده په یو پوځی کودتا (Coup) کښې د حکومت واګې تر لاسه کړې، په دې کوشش کښې دے چې ملک استحکام او ترقي ارخ ته بوځی. د بې ودې اقتصاد، اسلامی انتهاپسندی او د انډیا سره د کشیده تعلقاتو غوندې مسئلو کښې د راګیرتیا باوجود د ډیرو پاکستانیانو په ابتدا، کښې د مشرف انتظامیه د بدلون لپاره یو مثبت قوت ګڼلو، او د یوولسم ستمبر د پیښې نه وروستو مشرف د ترهګرۍ په ضد جنګ کښې د امریکې یو اهم اتحادی جوړ شو، خو نن ده واک او اختیار څه زیات بې اتباره کیږی، او مستقبل یې په شک کښې دے

د دوام داره اتحاد د یقینی کولو لپاره امریکې له په کار دی، چې په مسئلو کښې د راګیر لیډر نه ځان را خلاص کړی، او په ادارتی توګه داسې دوه ارخیزې اړیکې جوړې کړې، چې هغه به په مستقبل کښې د حکومتونو د بدلیدو نه وروستو هم دایمی پاتې شی

د پاکستان سره په اتحاد کښې د امریکې غټه Geo-Strategic فایده به یو پلوه ګره سیمه کښې د پاکستان د یو ترقی پسنده کردار د اداکولو د صلاحیت سره تړلې ده، حسن عباس چې د وروستنو دوو صدارتی انتظامیو یو پخوانے اهلکار دے، هارورډ پولټیکل ریویو(HRR) ته دا څرګنده کړه چې «موږ نه ،پاکستان ته، د نورو ډیرو اسلامی هیوادونو له ارخه د ډاګماټیزم (Dogmatism)

په ځائے په ترقی پسندی کښې د ملګرتیا او مناسب کمک ضرورت دے. ځکه چې پاکستان یو قوی پوخ، یو جمهوری تاریخ او استعداد لری او پاکستان په راتلونکو شلو یا پنځه ویشتو کلونو پورې د امریکې لپاره یو مثبت اتحادی هېواد ثابت کېدے شی» خو د موجوده پېښو نه دا څرګندیږی چې د مشرف په مشرۍ کښې د داسې قسمه مستقبل خوب رښتیا کېدل ګران دی

د حکومت واګې په لاسو کښې د اخستو راهیسې د امریکې او مشرف ملګرتیا د امریکې مطالبو ته په غاړه اېښودو باندې مرکوز ده، او هغه دا چې مشرف دې د پاکستان په حدودو کښې دننه ترهګر تنظیمونه وځپی، بیا هم داسې ښکاری چې مشرف د خپل جوړ توړ مقصد تعبیر کړے نه دے. ځکه چې د انتهاپسندو اسلامی ډلو د وجود د دوام سره د مشرف سیاسی مفاد تړلی دی ولی نصر. چې په کونسل ان فارن ریلشنز (Council on Foreign Relations)- کښې په پاکستان ماهر دےHPR ته اووئیل چې مشرف د عربو انتهاپسندو سره سخت دے. خو کورنو انتهاپسندو سره نرم دے، د افغانستان د اغیزکولو او کنټرول کولو لپاره طالبان را اوچتول یوه لاره وه او انتها پسندې ډلې کشمیر د تیلو په کړی کښې د اچولو یوه لاره وه. دا ډلې طالبان او پاکستانی انتهاپسندې ډلې، د پاکستان لپاره د وسلې حیثیت لری. او پاکستان به کله هم دا ډلې په اسانه پرېنږدی

په حقیقت کښې اسلامی ریډیکلز (Radicals) مشرف ته د لبرل ګوندونو د کمزوری کولو په لړ کښې کمک ورکوی کوم چې د مشرف اقتدار او قانونی جواز ته یو لوئے خطر دے. عباس اوونیل «که چرې نن هم صفا او څرګند انتخابات اوشی، نو مشرف به د شړلی شوی ترقی پسنده پخوانی وزیر اعظمانو بې نظیر او نواز شریف په مقابل کښې دا انتخابات بائیلی» داسی ښکاری چې پاکستانی

عوام د اوو کالو د پوځ د امرانه حکومت نه ستړے دے په سختو کښې راګېر مشرف بغېر له څه ښکاره حل د مبارزو سره مخ دے. په بلوچستان کښې چې کومه د پاکستان په څلورو صوبو کښې د ټولو نه غریبه صوبه ده، موجوده هیجان د قبایلی خلکو له اړخه د قدرتی ګیس او معدنی دولت په ګټه کښې د زیاتې برخې د غوښتو په وجه پیدا شوے دے. او په تشدد کښې بدل شوے دے. د ګوادر نوې بندرګاه کښې د پاکستان او چین مشترکه تعاون په بلوچستان کښې بغاوت نور هم پاروله دے. ځکه چې بلوچ ریډیکلز (Radicals) په ګټه کښې خپله برخه غواړی. دا پېښې د امریکې لپاره مشکلات پیدا کوی. د ترهګرۍ په ضد د جنګ په لړ کښې په بلوچستان کښې استحکام ډېر ضروری دے. ځکه چې بلوچستان د افغانستان سره په پوله پروت دے، او د طالبانو او د القاعدې د جنګیالو لپاره یو جنت دے. د چین سره د مرستې به مطلب دا کېدے شی، چې چین د پاکستان په معاملاتو کښې زیاته موجودګی لری

بل اړخ ته غېر مطمئنه امریکه د مشرف لپاره ډېره د



خطاري خبره وه، ځکه چې د امریکې مرستې د مشرف حکومت ته دوام ورکولو کښې لو فیصله کن کردار ادا کړے دے، Stephen Cohen چې د Brookings Institute سره تړلے دے، HPR ته اوویل چې د اسلام اباد حکومت د مرکزي په مقد جنګ کښې د مرستې په بدل کښې ډېر لوئے رقم د امداد په شکل کښې ترلاسه کوي، بیا هم داسې نه کاري چې د مشرف د سیاست څخه د واشنګټن انبار پاسی Christine Fair چې په US Institute of Peace کښې په جنوبي اسیا څانګړې ده، HPR ته اوویل چې په کومه توګه امریکني پوځونو په شمالي وزیرستان کښې هوایي حملې اوکړې، دې نه دا څرګندېږي چې د امریکې پالیسي بدلېدونکې ده

د نصر د وینا مطابق ،،د پاکستان د وسله والو ځواکونو له ارخه مرسته د مشرف حکومت د راتلونکي لږ وخت لپاره یقیني کوي،، د مشرف استبدادي حکومت د رنګولو لپاره یا خو ،، په پوځ کښې دننه سخت مخالفت په کار ؤ، چې د هغې امکانات مشرف د مخکښې نه ختم کړي دي، او یا د عامو خلکو له ارخه د یو ډېر سخت

پاڅون په ورته ... چې د پوځ مقابله په کولو کښې اوکړي،،

خو د ګوند د اختلاف باوجود په پاکستان کښې داریګه انقلابي حالات لا موجود نه دي

په مشرف باندې د ډېرې بې اعتمادۍ باوجود واشنګټن له په کار دي، چې د استحکام په لړ کښې د څه په تدبیر لرلو نه بغیر د مشرف د کمزورۍ کولو کوشش اونه کړي. په پاکستان کښې د عامو خلکو او بیا په خصوصي توګه په پارلیمنټ کښې دننه د ډېر قوي حزب اختلاف د ډلو په مینځ کښې د امریکې خلاف جذبات ډېر زیات دي، Christine Fair یقین لري چې د مشرف نه وروستو، چې د حکومت د ختمېدو نېټه یې نزدې ده،



اتحاد ته دوام ورکولو لپاره د امریکې او پاکستان مفاداتو ته بیا د سره تازه کېدل په کار دي، هغه د مفاداتو د مکمل موافقت او په جنوبي اسیا ،افغانستان او پاکستان کښې د استحکام لپاره اواز اوچتوي، که چرې دا هر څه په نزدې مستقبل کښې ترلاسه کول ګران وي نو امریکې او مشرف ته بیا په کار دي چې صبر اوکړي، او د ښې ته Best اوسائي

په ډېره منته د (Harvard Political Review)




لرماد روانس

# څوک چې خپل کور ته د تمامې دنیا شر راوړي!!

په کوم ملک کښې چې اداري تباه کړے شي،د جمهوريت حقيقي قوت د خلکو نه اوتروړلے شي، او قانون د حمکرانانو دپالسيو د کور وينزه شي، هلته د اخبارونو د ازادئ تصور، د بېگانگئ د تصور نه کم نه وي، مونږ نن هم ددغې قسمه ازادئ باوجود، او د انټرنېټ د موجودگئ باوجود، نن هم هغه څه نه شو ويلے، نه شو ليکلے، کوم چې زمونږ حق هم دے او ددې ملک او د ملک د خلکو ضرورت هم، زمونږ په ملک کښې چې څه واقعه اوشي، نو مونږ قياس ارايۍ شروع کړو، او د هغې اندازې لگوو، ولې دغه اندازې،نه مونږ ددغو واقعاتو تل ته رسولے شي، او نه مونږ ته درست معلومات راکولے شي، د مثال په طور د کراچۍ په ښار کښې چې په تېر ۱۲ اپرېل کومه دهماکه اوشوه، اگر چې دا په دې ملک کښې کومه نوې واقعه نه ده، بياهم ددې واقعې شدت ،درد او تکليف په څو حوالو ډېر زيات ؤ، يو دا چې دا عيد ميلاد النبی صلی الله عليه وسلم په شان کښې د مسلمانانو په يوه لويه اجتماع کښې اوشوه، دويم دا چې په دې کښې ډېر لوئے لوئے عالمان په حق اورسېدل، دريم دا چې ډېر لوئے تعداد په کښې د خلکو زخمي شو، څلورم دا چې دا د فرقه واريت د تولو نه لويه مظاهره اوشوه، او پنځم دا چې د هرې فرقې د مسلکی او دينی جذبې د اظهار دپاره هره اجتماع د مستقلې بدامنئ د شک ښکار شوه، او شپږم دا چې دغسې واقعات نوې پېدا کړے شوې جذبې په نوی جنون کښې بدلې کړي، او په فرقه واريت کې د کمی په ځائے د زياتی امکانات ډېر شي، په دې کښې شک نشته چې په دغسې واقعاتو دتولو بې گناه او بې خطا مسلمانانو زړونو ته صدمې رسي، او دې زړه سوزونکې

صدمې هم د ټولو مسلمانانو روح ته داسې درد ورکړے دے، چې د هېرولو نه دے، په دې واقعاتو زمونږ اخبارونو خبرونه خواره کړی دی، او کالم ليکونکو پرې خپلې تبصرې کړېدی، او ددې واقعې مذمت هر هر چا په خپل خپل ځائے کړے دے، ولې مونږ ددې ټولو معلوماتو نه بيا هم څه نتيجې ته نه شو رسېدلے. او نه څو ورځې پس هم رسېدلی يو، او شايد چې څه نتيجې ته او هم نه رسو، سوال دا دے چې ولې نه رسو؟

ملک شته، اسمبلی موجوده ده، قانون شته، پوليس شته، انټيلی جنس شته، سياسی پارټۍ موجودې دی، مېډيا شته، کېمرې شته، د ځنې خطرناکو څيزونو د معلومولو الات شته، خو بيا هم يو اخبار په خپل اېډيټوريل کښې ليکی، چې اندازه داده چې په دې واقعه کښې استعمال شوے بم کم از کم د پنځلس کلو ګرام وزن طاقت لرلو والابم کېدے شی.

په اسمبلۍ کښې چې په دې بحث کېږی، نو وزير داخله د خپلو اندازو نه اسمبلۍ ته د خودکشې حملې د شک يا يقين معلومات ورکوی، او دا هم وايی، چې د حکومت او د عيد مېلاد النبی صلی الله عليه وسلم د جلسې د انتظاميې ترمنځه ليکلې معاهده اوشوه، او د امن او امان په صورت حال تسلی ښکاره کړے شوه،

سوال دادے چې پنځلس کلوګرامه وزن تقريباً درې دړۍ وزن لری، چې د تېرو حالاتو او واقعاتو په رڼا کښې که د جلسې منتظيمنو او انتظاميې ددې جلسې په امن و امان نظر لرو، نو داد ومره وزن يو داسې ځائے ته په کومه لار داخل کړے شو، په کوم ځائے چې هغه خپل ټيک هدف ته اورسېدو؟

زمونږ بعضې تجزيه نګارانو، دا خيال هم ظاهر کړيدے، چې اوس د افغانستان او پاکستان د خلکو زړونه يو ځائے درزيږی، او شيروشکر دی، د هندوستان او پاکستان ترمنځه د دوستۍ د نوی سفر اغاز شوے دے. د مسلکی يا فرقه پرستۍ نه زخمونه خوړونکی خلک اوس رونه رونه شوی دی، د بلوچستان دننه د فوجی کاروايۍ په نتيجه کښې د خلکو د خفګان يا په وزيرستان کښې د خلکو د خفګان يا په نورو قبايلو کښې د محرومۍ يا نور خفګان په نتيجه کښې هم داسې نه شی کېدے، ځکه چې دا ټول خلک ډېر ښه مسلمانان دی او دا جلسه د حضور صلی الله عليه وسلم د ياد او ذکر فکر ،عقيدت او احترام يوه خالصه روحانی جلسه وه، دا د طالبانو يا د هشتګردو هدف هم نه شی کېدے، يو شک کېدے شی هغه دا چې لکه د يورپ خلکو چې د حضور صلی الله عليه وسلم په شان کښې ګستاخانه کارټونونه جوړ کړل، او مسلمانان يې را اولړزول، دا واقعه هم ددغې سلسلې يوه کړۍ کېدے شی، په دې کښې شک نشته، چې مونږ خپل هر قياس رښتونے هم ثابتولے شو، مونږ ددې ټولو بمباريو تشخيص هم کولے شو، مونږه يوه يوه بيماری معلومولے او شمېرلے هم شو، خو شايد ددې علاج نه شو کولے، ولې نه شو کولے؟ دا ځکه چې مونږ د علاج کولو سامان نه لرو د هرې بيمارۍ خپله مخصوصه دوايی وی، يوه دوايی د بلې په ځائے استعمالول مرګ ته دعوت ورکول دی، مونږ دعوت مرګ ته ورکوو، او طمع د ژوند لرو، دا دواړه په يو ځائے ممکن نه دی.

زمونږ ليکونه او کالمونه معلومات لری، خو ګرفت او اثر نه لری، ځکه چې مونږ هر ليک د ليک د ضرورت دپاره کوو، خپل ذات په خپل ګرفت کښې ساتو، ځکه چې زمونږ ذات زمونږ د اجتماعيت هغه برخه نه ده، کومه چې د اجتماعيت ضرورت دے، زمونږ ذات زمونږ د ذات د ضرورت اهمه برخه ده، ځکه چې زما ذات زما د اجتماعيت نه شو کولے شوې يوه بوټۍ ده، چې ماته حواله کړے شوېده، او ماته يې د اجتماعيت نه زيات ضرورت دے، دا زما مسئله هم ده، او زما د هر ازاد ليکونکی مسئله هم ده، مونږ شايد د زهر يا رنځور صحافت اخری نښې نښانې يو، مونږ د ډېر همت باوجود بې همته يو، مونږ د حس لرلو باوجود د بې حسۍ اخری رنځوران يو، ځکه چې په يو داسې ملک کښې پيدا يو،

یا د یو داسې ملک خاوندان یو، چې نه په ځان ژړلے شو، او نه په خپل قام او اولس، زمونږ په شاه شاید هغه قوت نشته، کوم چې زمونږ ربنتاؤ ته ژوند او حوصله راکړی، کوم چې زمونږ قلم ته عظمت اوبښی، کوم چې زمونږ ربنتیاؤ ته پشتی ورکړی

بیا هم مونږ په لاس کښې قلم لرو، او د خلکو درد هم لرو، نو راځئ چې په دې بیماریو لږ غور او فکر اوکړو، زما د ملک هر قام او د هر قام تولو اولسونو ته به یاد وی، چې داملک دجمهوریت په نوم جوړ کړے شوے ملک ؤ، او دغه دعوه تر ننه کیږی هم، ولې د خپلې ابتدا نه تر ننه پورې، په دې ملک کښې دیوې ورځې دپاره هم جمهوریت نه دے بحال کړے شوے، سره ددې چې ددې ملک لکونو او کروړونو خلکو د جمهوریت دپاره د سرونو او مالونو قربانی هم ورکړیدی، دلته چې کوم تش په نوم جمهوری حکومتونه جوړ کړے شوی دی، د هغې شرایط هم د سول او فوجی بېروکرسی په ګرفت کښې پاتې شوی دی، اوځکه جمهوریت خپل عملیات او کرکرونده نه ده کړې، زمونږ خارجی سیاست دملک د ضرورت دپاره نه بلکې د امریت او ډکټېټرشپ د ضرورت دپاره د ابتدا نه تر دې وخته پورې د امریکې د پالیسیو تابع پاتې شوے دے، دا خبرې که هر څو د سرد جنګ په زمانه کښې په څو پردو کښې پټې هم وې، ولې ددې صدی ګستاخی ددې هر څه نه پردې پورته کړې، او اوس خو لکه چې مونږ ژوندی هم د امریکې په رزق یو، او لکه چې ساه هم د هغوی د پالیسیو په هوا کښې اخلو

جمهوریت دپنځلس کروړو پاکستانیانو ضرورت دے، او د جمهوریت نفی د یو کس ضرورت دے، خو دغه یوکس په پنځلس کروړه خلکو حکمرانی کولے شی، دا ددغې یوکس د طبقې دسیاست تقاضې دی، او دغه د امریکې د سیاست او مفاداتو د مستقلې فرمانبرداری نتیجې چې نن دملک د دوو لویو پارتو لیډران دجمله حقوقو لرلو سره خپل ملک ته ترهغې نه شی راتلے، ترڅو چې دامریکې مفادات د هغوی د ضرورت سره د وصال مرحلې ته نه وی رارسېدلی.

ددې ملک یوتجزیه نګار اېم بی نقوی وایی، داسې ښکاری لکه چې د امریکې او برطانیې حکمرانانو په رښتیا دپاکستان په فوجی صدر جنرل مشرف زور راوړے وی، چې په ۲۰۰۷ کښې عام انتخابونه خامخا اوکړی، خو ددې انتخاباتو نه مخکښې هغه له خپل جنګی ذهنیت ختمول په کار دی، مخکښې لیکی چې ددې سلسلې اغاز د فروری په میاشت کښې د دولت مشترکه سکټری جنرل ډان مېکنن کړے ؤ، او د هغې نه پس امریکنیانو هم اووې چې انتخابات په کار دی، د نورو نه علاوه معاون امریکی وزیر خارجه رچرډ باوچر خو یوه لویه انقلابی خبره اوکړه، د هغه وینا داوه چې امریکه غواړی چې په پاکستان کښې دې په فوج سولین کنټرول وی، او دلته دې جمهوریت واپس بحال کړے شی، دقومی سلامتی مشیر ستیوهېډلے په اووم اتم اپرېل ددې خبرو تصدیق هم کړے دے، خو سوال دا دې چې ددې خبرو مطلب څه راوځی، د مسټر باوچر د خبرو دوه اړخونه دی، ړومبے دا چې امریکه په پاکستان کښې د سولین اقتدار بحالی غواړی، خو دویمه یې دا خبره هم ورسره ملګرې کړېده، خو جنرل مشرف ته به د وردی لرلې کولو نه وایو، ځکه چې دا د پاکستان اندرونی معامله ده، او په دې کښې امریکه مداخلت نه کول غواړی، د جنرل مشرف په قیادت کښې د قایم حکومت د پالسیو نه دامریکې اطمینان ته که سرے د مختلفو اړخونو نه اوګوری، نو دا قسمه خبرې د فهم نه بهر دی.

سوال دادے، چې سرے دا وګنی چې امریکه د جنرل مشرف نه لاس اخلی؟ دا خو ممکنه نه ده، او نه د موجوده حقیقتونو نه داسې څه په نظر راځی، دوی خو دواړه د پالیسی په اومورو کښې د یو بل ضرورتونه دی، ځنې خبرې داسې دی چې مونږ پرې سترګې نه شو پټولے، اول دا چې امریکه چې څه ته دهشتګردی وایی په افغانستان کښې د هغې سره د جنګ دپاره امریکې ته

د جنرل مشرف ضرورت شته، دویمه خبره داده چې په مصر کښې انتخاباتو. په فلسطین کښې د حماس فتح، په لاطینی امریکه کښې د انتخاباتو نه راوتې نتیجې، په یوکراین کښې انتخاب او د هغې د نتیجې نه پس په پاکستان کښې د جمهوریت خطره اخستل به د امریکې په حق کښې نه وی، هغوی به چرې هم دې ته تیار نه شی، چې په پاکستان کښې دې په ازادانه او منصفانه انتخاباتو کښې جنرل مشرف شکست ته مخ شی، اوس دریمه خبره داده، چې که جنرل مشرف د ۲۰۰۲ په طریقه کار عمل کوی، او په پی،ایم،ایل انتخاب گټی، او هم د تېر طریقه کار مطابق د پارلیمان نه د خپل موجوده حیثیت تسلسل حاصل کړی، او د پی پی پی او پی ایم ایل،ن، قایدین د ایجنسیو د حربو د استعمال په وجه هغوی د انتخاب نه په بهر کولو کښې کامیابېدے شی، نو امریکې ته به په دې هېڅ اعتراض نه وی

ځکه چې جنرل مشرف چې به دا هر څه په کومه طریقه اوکړی، دا به د پاکستان اندرونی معامله وی، او امریکه به په کښې هېڅ مداخلت نه کوی، د اکتوبر ۲۰۰۷ نه پس او د ۲۰۰۸ د انتخاب نه شاید مخکښې چې جنرل مشرف د نورو پنځه کالو دپاره د صدارت د کرسی خاوند شی نو دنیا به د امریکې د دعوو تماشه کوی، چې په پاکستان کښې جمهوریت بحال شو.

او اوس دلته د قومی او دفاعی دواړو نوعیتونو په امورو کښې د فیصله سازۍ اختیار سول ته حاصل شو، نو بیا به جنرل صاحب وردی هم لرې کړی، او امریکه چې به د کوم سول اقتدار دعوه کوی، هغه به په اصل کښې د جنرل مشرف په ځائے د جناب مشرف حکومت وی د امریکنیانو امیدونه داسې دی چې پاکستانیان به هم په دې جمهوریت خوشحاله وی، پاکستانیان به څنګه خوشحاله او مطمئین وی، او پاکستان به ددغسې نظام تحت څنګه محفوظ وی، ددې خبرو په تفصیل کښې دتلونه به امریکه ځان ساتی، ځکه په قول دامریکې دا به د پاکستان اندرونی معاملات وی، نو غالب امکان دا دے، چې دلته به د ۲۰۱۲ پورې مشرف صاحب دیو «جمهوریت پسند» سولین په طور حکمران وی

د ایم بی نقوی صاحب د تجزیې د یقینی امکاناتو جاج که مونږ د ډېر لرې نه نه راخلو، او صرف د ۲۳ مارچ د چودهری مسلم لیګ د سل کلیزې جلسې نه یې هم راواخلو، نوویلے شو، چې خبرې ډېرې او سر یې یو، چې هم ددغې طریقه کار لاندې دا ټوله لوبه راشروع ده، او هم دغسې به شاید چې کیږی.

محترم صدر مشرف د ملک صدر دے، د څلورو واړو صوبو د وفاق د اتحاد علامت دے، لا باوردی صدر دے، نو په مسلم لیګ کښې نه دے، نه یې ممبر دے، او نه عهدیدار، خو جلسې هغوی له کوی، او د پنجاب د چودهریانو د مفاداتو دپاره، هم د پنجاب د جماعتونو په منارو قسمیه وعدې کوی، نه یوازې دا بلکې ایوان صدر ته د مسلم لیګ اجلاس راغواړی، د هغې صدارت کوی، په بدلیاتی جلسو کښې خلکو ته اپیل کوی، چې مسلم لیګو ته ووټونه ورکړئ، حال دا دے، چې بلدیاتی الیکشنونه په غیر جماعتی بنیادونو کوی، دا د پنځلس کروړو خلکو په امانت کښې په ډاګه خیانت دے، دا سیاسی خیانت هم دے او اخلاقی خیانت هم، د چودهری مسلم لیګ کلېزې دغه اجتماع د مینار پاکستان د اجتماع پورې محدود نه وه، بلکې اوس یې دغه سلسله د ورکرز کنونشنونو په نوم، ټولو صوبو ته را اوغزوله، په پېښور کښې یې په هر سړک او هر چوک د دومره لویو لویو بورډونو لګولو اغاز کړے دے، او دومره بورډونه یې اولګول، چې ته به وایې د بورډونو جوړولو فیکټرۍ یې لګولی دی، او د ښار د هر دېوال نه یې نور ټول تحریرونه اووینځل، او په هغې یې اکثر لیکلی دی، چې «فلانیه» قدم بړهاؤ هم تمهارے ساتھ هین.

کوم سړے چې خپل ضمیر خرڅ کړی، او په پیسو وزارت واخلی، او کوم سړی ته چې دا کار حواله شوے دے، چې ته ددې صوبې ناظمان په پیسو واخله، او کوم

سړے چې د چا سره سودا کوی، نو ورته وایی هم چې زه خو پخپله هم په مسلم لیګ کښې نه یم، خو ددې پیسو سره خو څه کول په کار دی، نو راځئ، چې د خلکو د کارونو دپاره درته دوه دوه کروړه روپۍ ملاو شی، نو دا لړه ده؟

نو د دغسې سړی نوم اخستل هم اسان کار نه دے، خو دغه دلال په یوه خبره تېروتے دے، او خدائے دې اوکړی چې دغه نعره ورانه کړی، ځکه چې ده ته لا دا پته نشته چې دکتیټران په خپل ریاست کښې دې ته څوک نه پرېږدی، چې هغه دې دغه هر څه د خپل «قدم بړهاؤ» دپاره استعمال کړی، په یو وخت کښې د پیپلز پارټۍ ددې صوبې یو خټک صدر ؤ، او بیا غالباً وزیر اعلی شو. نو د یوې ضلعې دوره یې اوکړه، د بلې یې اوکړه او په اخبارونو کښې به راتلل چې وزیر اعلی د فلانی ځائے طوفانی دوره اوکړه، بله ورځ ورته بهټو اووې چې هلکه دا ته څوک یې چې د صوبې یا ضلعې طوفانی دورې کوې، دا چې زه کله دوره کوم نو بیا به هغې ته څه نوم ورکوو، او ډېر زر یې فارغ کړو، نو دې صاحب روشن ضمیر ته هم دا پته نشته، چې دا ټول ډېوالونه تا د ځان دپاره د «قدم بړهاؤ» نه ډک کړی دی، نو سبا به چودهری صاحب او صدر محترم ته څه لیکې د مسلم لیګو سره هسې هم د خلکو د دوکه کولو دپاره بله دروغژنه نعره نشته، نو دا بې د نواز شریف د مسلم لیګونه را قرض کړې نعره ده، او هغه یې هم د ځان په ښه راوسته ولې ددې سره سره یې یوه بله دوکه هم لیګلې وی، چې د مستقبل وزیر اعلی «فلانے» دا هغه حربې دی چې د اوس نه یې پته لړی، چې دوی دلته کوم قسم ګلونه کرل غواړی که د فوجی حکمرانانو د اقتدار خبره وی، او ددې د ګلونو د شمار خبره وی، نو یوولس کاله ایوب خان تېر کړی وو، یوولس ضیاءالحق تېر کړی، نو وایی چې اس د اس نه کم وی، نو غوږ یې د پرېکولو دے، څه دے دې هم په دویم ځل صدر شی، او شپږ کاله یې تېر کړه، پنځه دې ورسره نور هم جمع کړی، ددې ملک عوام به په دې صبر شی، چې څه «خو سل په لالی پورې دا یوه پرې د بنګړو» څوک به صدر وی، دا د صدارتونو ریکارډ هسې هم ډېر حوصله افزا نه دے، نو څوک به صدر وی، څه دے دې صدر وی، ولې دغسې کولو چې دې ملک او دې خلکو ته کوم غیر جمهوری کلچر ورکړیدے، دا چې په هغې کښې نوره اضافه کیږی لوستونکو ته به یاد وی، چې د ضیاءالحق نه مخکښې ددې ملک لیډرشپ ښه ؤ که بد ؤ خو کرپټ نه ؤ، چې ضیاءالحق راغے، د شورایی نظام په نوم یې صالحین راجمع کړل، او یو یو کروړ روپۍ یې ورته ددې غریب ملک حواله کړې، نو د سیاست هغه کلچر یې په بله واړ ؤ، په کوم کلچر کښې چې به د اسمبلۍ د ممبرۍ نه سړے تښتېدو، او چغې به یې ویستې چې زه دا کار نه شم کولے، نور جائیداد نه شم خرڅولے"



اوس د ضیاءالحق نه پس د اسمبلۍ ممبری داسې ځائے ته اورسېده، چې د سړی توب معیار هم دے او د ګټې د ټولو لویه او اسانه طریقه هم، اوس خلک د اسمبلۍ ممبری په پېسو اخلی، او تر ننه دغه تجارت په لویه پیمانه کیږی، دا دے په دې تېرو ورځو کښې د ملیانو نه د یوې اطلاع مطابق

درویشت کسان په سپينت کښې خرڅ شو، مليانو دوه خلور مورمری راونيول، د ممبری نه يې فارغ کړل، او په نورو يې سترګې پټې کړې، ځکه چې د خلکو د غلولو دپاره دغه دوه خلور کسه ټکو سترے کول پوره وو، نورو د خپل خپل سر قيمتونه نيم کړل، او نيم يې خپلو مالکانو ته اورسول

نه مدعی نه شهادت حساب پاک هوا

د ضياءالحق د کرلو ګلونو په خوشبوئی د ملک بچے بچے ګواه دے، او په دې ګواهی کښې ورسره مليان هم شامل شول، ملا هم اوس ملا پاتې نه شو، د هغه طبقه بدله شوې ده، او چې طبقه بدله شی، نو لوازمات يې هم بدل شی، ددې لارې نه واپسی ډېره اسانه نه وی.

ضياءالحق او د هغه غېر جمهوری حرکتونو، چې د ائين سره څه کړی وو، د هغې سره چې هر څوک هر څه اوکړی، واپس يې يو نه يو ډکتهټر هم هغه ځائے ته را اورسوی، ضياءالحق خلکو له يو کلچر د سياست دننه د تجارت او کرپشن ورکړو، دويم يې د کلاشنکوف کلچر ورکړو، او دريم يې د مسلکی او فرقه واريت کلچر ورکړو، د امريکې او د امريکې د دلالانو دپاره يې نه يوازې د يو ګاونډی ملک دننه مداخلت شروع کړو، بلکې ددغې مداخلت دپاره يې د ټولې دنيا نه انتها پسند راټول کړل، او دلته يې ورته ټرېننګ سنټرې پرانستې، او د جهاد په نوم يې د يو ګاونډی ملک مسلمانان په يو بل په کلونو کلونو مړه کړل، رحمان بابا وايی چې:

که ګدا د بل په غولی غرض نه که

سے به نه که په ګدا باندې غرض

او حميد بابا وايی چې که څوک سترګې نه پټوی، نو پردی ځپلی په ښپو کښې په پټو سترګو هم سرے پېژنی

او چې کله دغه سلسله يوې بلې مرحلې ته راورسېده، نو د ضياءالحق د کرلی تخم ګلونه رېبل اوس زمونږ په سر دی، دغه فصل مونږ اوس هره ورځ رېبو، چرته د دهشت ګردو په شکل او چرته په جماعتونو او عبادت خانو کښې او چرته د عيد ميلاد النبی په جلسو کښې زمونږ په دې ملک کښې د کربلا واقعه چې کوم اهميت د شيعه مسلمانانو دپاره لری، هم دغه اهميت او ضرورت او د هغې دياد سره عقيدت د سنی مسلمانانو هم هغه هومره ؤ، د کربلا د يادولو طريقه کار د شيعه ګانو يو قسم ؤ، او د سنيانو بل قسم، کله چې به شيعه ګانو رونو جلوسونه وېستل، نو سنی مسلمانانو به ورسره په هغې کښې برخه نه اخسته، خو دغې جذبې ته به يې احترام ضرور لرو، دا ډېره لرې خبره نه وه، دا د ضياء الحق په وخت کښې سنی مليانو سنيان د دوی په ضد راپاڅول، او د عيد ميلاد النبی صلی الله عليه وسلم محفلونو ته يې د جلوسونو شکل ورکړو، او دغې يې دا دواړه رونه فرقې د يوبل په ضد اودرولې، اوس اګر چې ددغو داوړو فرقو خلک د يو بل مخالف هم نه دی، خو اوس نور نور خلک راځی، او د دوی په دغې محفلونو مجلسونو کښې دزې کوی، او بې ګناه بې خطا خلک په کښې مری.

دا هر څه د غېر جمهوری خلکو د خپلو ضرورتو دپاره د عمل نتيجې وی، يو سړے چې هره فېصله کوی، دا ملک او دا خلک هر طرفته وړی، نوروړے يې شی، او نامزد کړے شوے صالح ځکه غږ نه کړی، چې هغه خو په خپل صلاحيت او محنت او يا د خلکو نه په رايې اخستو دغه خوا نه دے تلے، بلکې پېسه يې لګولې ده او پېسه ګټی.

اوس ضياءالحق نشته، خو د هغه د غېر جمهوری کلچر نه چې کوم بچی پېدا شوی دی، هغه هره ورځ نور بچی راوړی، او د هغه د کارنامو په تېلو کښې ددې ملک بچے بچے سوزی، او نن هم دغه غېر جمهوری روئيې د يو بل کس ضرورت دے، او دملک پنځلس کروړه خلک دده د خواهشاتو مخې ته مجبور دی، چې کله يو ملک دې ځائے ته رااورسولے شی، چې يو سړے دعوه اوکړی چې که زه نه يم، نو هر څه ورانيږی، نو دا عمل پخپله ددې ادارو د تباهی ګواهی نه ده؟

# د طالب ریاست په افغانستان یا پاکستان کښې؟



زرعلي خان موسی زئے

د پاکستان د استخباراتی اداري ائ،اېس،ائ پخوانی مشر جنرل(ر) حمید ګل په پېښور پرېس کلب کښې اخباری چارواکو سره په خبرو اترو کښې ویل چې افغانستان کښې یو ځل بیا د طالبانو ریاست جوړېدونکے دے، په افغانستان کښې د امریکا جدیده تیکنالوجی ناکامه شوې ده، او د پاکستان اوسنی خارجه پالیسی غلطه ده.

د جنرل حمید ګل د داقسمه خبرو نه څو ورځې وړاندې د اېم اېم اې مشر وزیر اکرم خان درانی هم د افغانستان په هکله څه دا قسمه څرګندونې کړې وې.

درانی صیب د پښتونخوا اسمبلۍ کښې د اسمبلۍ غړو ته په خپل خطاب کښې ویلی وو، چې افغانستان کښې امن نه شی راتلے. ځکه چې مونږ د امریکا په ضد هم هغه نظر لرو کوم چې مونږ په کال ۱۹۸۰، کښې په افغانستان کښې د شوروی اتحاد د یرغل پر وخت لرلو، زمونږ دا نظر دے چې امریکا په افغانستان باندې قبضه کړېده، امریکایان دې د افغانستان نه ووځی، او افغانستان دې د خلکو حقیقی نمایندګانو ته ورسپارلے شی.

ده ویل چې روس کله په افغانستان قبضه اوکړه، نو مذهبی خلکو او ګوندونو د روس خلاف جهاد اوکړو او د افغانانو ملګرتیا یې اوکړه.

اول به د حمید ګل دې خبرې ته راشو چې افغانستان کښې یو ځل بیا د طالبانو ریاست جوړېدونکے دے، دې خبرې سره زما سخت اختلاف دے او دا خبره زه د عقل او فهم نه ډېره لرې ګنم، دا ځکه چې د طالبانو راتګ هله ممکن شو، کله چې د افغانستان خلکو د هغه وخت دجهادی ګوندونو، ګروپونو او خلک د ظلم زیاتی، بې انصافی، بد امنۍ او د سرکشۍ نه تنګ وو، امریکا، برطانیه، پاکستان او سعودی عرب هم د طالبانو راتګ کښې خپلې خپلې ګټې لیدلې، په کال ۱۹۸۹، کښې د

روس فوځونه د افغانستان د خاورې نه اووتل، درې کاله مسلسل د ډاکټر نجیب الله خان او مجاهدینو تر مینځه جګړې روانې وې

په کاله ۱۹۹۲، کښې د جنرل دوستم د بغاوت په وجه یو بل ډېر خونریز جنګ پېل شو د مجاهدینو ټول تنظیمونه د یو بل برخلاف جنګېدل، خواوشا څلورو کلونو پورې



ټول افغانستان کښې ډېره زیاته تباهي وشوله، د افغانستان خلک دې ظلم زیاتی او تباهۍ نه ډېر تنګ شول، پاکستان، سعودی عرب او امریکا د دغو حالاتو نه فایده واخیستله، امریکا او سعودی عرب د ایران برخلاف خپل خپل کار دپاره هلې ځلې شروع کړلې، امریکا د ایران د موجوده ناستو ملایانو برخلاف وه، اوسعودی عرب هم ددغو خلکو برخلاف ؤ،، او دا خبره په ریکارډ ده چې د پاکستان نه به اکثره مهم مذهبی خلک تلل او هلته به یې خلکو ته ویل چې پښتو ژبه پرېږدئ، ددې پر ځائے اردو وایئ، دا مذهبی خلک هم ډېر عجیبه دی، مذهب د خپلو ګټو دپاره استعمالوی، دا کوم کتاب کښې نوشته دی، چې اردو د مسلمانانو ژبه ده، که مذهبی خلک اووایی چې عربی د مسلمانانو ژبه ده یا د جنتیانو ژبه ده،نو څه بیا هم یو کمزورے غوندې دلیل کېدلے شی، چې لری، خو تر کومه چې د اردو ژبې خبره ده نو دا بالکل غلط او بې مقصده دلیل دے چې دا د مسلمانانو ژبه ده، اردو ژبه خو نه د قایداعظم ژبه وه، او نه اسلامی ژبه ده، دا خو هغه ژبه ده چې په موجوده پاکستان کښې چې د نورو محکومو او محرومو او بې وسه قومونو نه د دوی د خپلو خپلو ژبو حق اخیستے دے، او ځان ته یې د مقتدره قومی ژبې لقب ورکړے دے، زما خو خپل دا نظر دے، چې رومبے خو د پاکستان خلک یو قوم نه دی، ځکه چې دلته پښتانه،بلوڅیان،سندهیان او پنجابیان اوسیږی، چې د یو بل نه یو جدا ژبه،کلتور او تاریخ لری، د پاکستان د جوړښت صرف شپېته کاله اوشو، په پنځوسو یا شپېتو کلونو کښې قامونه چرته جوړېدلے شی، د قامونو جوړښت ډېر وخت اخلی، مذهب کله هم دقام جوړښت کښې کردار نه شی لوبولے، اصل څیز ژبه،کلتور او مشترکه تاریخ دے، چا چې دا خوب لیدلو، چې افغانستان به خپله صوبه کړی او اردو به دغلته د پښتو ځائے اونیسی، نو د هغو خوب کله رښتیا کېدے شو، ځکه چې دغه وطن په کال ۱۷٤۷ءکښې احمدشاه بابا جوړکړیدے، او د قاید اعظم پاکستان په کال ۱۹٤۷ ے کښې جوړ دے.

تاریخ ګواه دے، چې نن کوم پنجابے د پاکستان د سرو سپینو مالک دے، یوه ورځ هم دې پنجابی د پاکستان د تحریک دپاره کار نه دے کړے، دغسې حال د سندهیانو هم دے.

بلوڅیان وایی چې مونږه پاکستان کښې شامل نه یو، نواب اف قلات او اغا

پاکستان غوښتله، چې افغانستان نه خپله یوه صوبه جوړه کړي. په ننګرهار او کابل پوهنتونونو کښې د پښتنو د خپلې او مورنۍ ژبې پښتو پر ځائے اردو دغلته رایجه کړي

عبد الکریم پاکستان نه دے منلے. او په تېره تېره د پښتنو مسئله خو عجیبه ده. دلته رېفرنډم اوشو، چې د پاکستان یا هند خبره په کښې شامله وه. ازاد پښتونستان په کښې نه ؤ

صرف پنځوسو فیصده خلکو د پاکستان په حق کښې ووټ استعمال کړو. او هغه هم داسې چې یو یو سړی او ښځې دوه دوه سوه ووټونه واچول. د بین الاقوامی قانون مطابق ۷۵ فیصده ووټونه د رېفرنډم دپاره په کار وی. خو دلته صرف ۵۰ فیصده ووټ باندې فیصله اوشوه. بل طرفته که اوګورو نو په غلط ځائے کښې دا فیصله شویده. مالک موجود دے. ځکه چې د ډیورنډ معاهده مونږ پښتنو هیڅ کله نه ده منلې

سل کاله تېر شول. باید د هانګ کانګ غوندې پښتنو ته هم خپل اختیار ورکړے شي



یا پېرنګی ته په کار ده چې د خپلې معاهدې پاسداری اوکړی او پښتنو ته دا حق ورکړی، چې دوی په یو وخت د برطانیه ښاریان هم دی. اجازت ورکړی. چې ازاد ځی راځی. خو دا خبره ډېره ښکاره ده چې پښتانه د هیڅا میراث نه دے او نه دا خبره منی. پښتون قام خپل

پښتون قامی وحدت منی او دې دپاره هلې ځلې کوی. ځکه چې دا د پښتون قام حق دے. باید چې نړۍ دوی سره د دوی ددې حق په اخیستو کښې په کلکه اودرېږی

درانی صیب وایی. چې دوی د امریکا پر ضد دی. دا خبره غلطه ده. دوی د امریکا د مفاداتو دپاره کارونه کړی دی او اوس هم کوی. حکمتیار په خپل کتاب Secret Plans and Open faces کښې لیکی چې طالبان خو هغه وخت افغانستان ته راغلل. کله چې خلک ډېر تنګ شول. امن نه ؤ. حالات خراب وو. دې حالاتو نه جنرل بابر فایده اوچته کړه. او دا تحریک یې شروع کړو. دا منصوبه په اسلام اباد کښې جوړه شوه، چې منصوبه بندی یې د برطانیې پخوانی سفیر اوکړه، امریکایان او سعودیان یې په دا خبره راضی کړل، چې دوی طالبان سپانسر کړی او مالی کمک ورسره وکړی، برطانیه امریکا په دې خبره پوهه کړه، چې د سیمې سیاست به د روایاتو په بنیاد کوی، دې سره به ستا مفادات حاصلېدے شی، او څه قسم خطره به درته نه وی. د امریکا کانګریس په میلیونو ډالر منظور کړل ددغه بجټ ډېره غټه حصه امریکې طالبانو ته ورکړه،او دا کار امریکایانو د جنرل بابر او مولانا فضل الرحمن په لاس باندې اوکړو ،د پاکستان پرېس دا خبره ښکاره کړه، چې مولانا فضل الرحمان دې مقصد دپاره دوه میاشتې په امریکا کښې دېره ؤ.

اوس د درانی صیب داخبره چې مونږ د امریکا خلاف په افغانستان کښې بیا جهاد کوو، ډېره غلطه او د عقل نه ډېره لرې ده، ځکه چې دوی خو هر وخت د هغوی د مفاداتو دپاره کارونه کړی دی، خو اوس داسې ښکاری چې امریکا پرې خپل د شاتو او پیو نهرونه بند کړی دی، ځکه دوی ډېر بې ارامه دی، ملا هیڅ کله امریکا سره نه شی جنګېدلے، دوستی یې ورسره هر وخت کښې کړېده او بیا هغې دپاره دلیل دا پېش کړی، چې امریکایان اهل کتاب دی، دوستی ورسره جایزه ده.

زه خپله هم د امریکا اروپا هیڅ کله مخالف نه یم، خو د ملا په دوه مخی سیاست باندې افسوس ضرور کوم، یو طرفته عوامو ته د امریکا او اروپا د دوشمنی خبرې کوی، او بل طرفته دد غو خلکو نه مفادات حاصلوی. ملا صیب یا د هاغه نماینده اکرم خان درانی صیب وایی چې امریکا په افغانستان قبضه کړېده. دا خبره بالکل



بې مقصده او غلطه ده، په افغانستان کښې نن صرف یواځې امریکا نه ده ناسته خواوشا ۳۱ ممالک ورسره د دهشت گردو او ترهگرو پر ضد د جنگ دپاره په کمک کښې ولاړ دی، امریکا هیڅ کله په خپله افغانستان ته نه ده راغلې، اقوام متحده ورله اجازت ورکړے دے، د امریکا ناسته په افغانستان کښې اوس وخت د افغانستان مجبوری ده، افغانستان خو هغه هیواد دے، چې اول خل پیرنگی سره اوجنگېدو او بیا شورروی اتحاد سره، خو د پیرنگی نه یې استقلال اوگټلو، او د شورروی نه یې هم جنگ اوگټلو، افغانان ډېر زخمی زخمی دی، خدائے دپاره ملایانو بس کړئ، دا خلک د مذهب او دین په نومونو نور مه تباه کوئ، خپله یو ښه ژوند تېروئ، بچې مو په اروپا او امریکا کښې درسونه وایی او افغانان بیا جنګول غواړئ او د دوی په وینو او تباهی کښې خپلې گټې نیول مو مقصد دے

د ډېرو خلکو دا فکر دے، چې اتحادی فوځونه به تنگ شی او افغانستان نه به اوزی، او دوی به خپل ورانی بیا پیل کړی، خو دا د دوی کم عقلی او کم علمی ده، زمونږ دا فکر دے، چې امریکا په افغانستان کښې صرف دې دپاره نه ده راغلې چې افغانان د مصیبت نه بچ کړی، کښې دا خو دوی هغه وخت کولے شول، کله چې روسیان افغانستان ته ووتل، خو امریکا داسې ونه کړل، امریکا ته خپل خطر پیښ شو، که چرې دوی د افغانانو کمک اونه کړی، نو دا د ټولې نړۍ دپاره یو درد سر جوړېدے شی، ځکه چې د ټولې دنیا نه به ترهگر او انتها خوښی افغانستان ته راځی او دغلته به ترېننګ کوی او بیا به ټوله نړۍ له په سر باندې درد راولی

که څوک دا خوب وینی چې دوی به یو ځل بیا په افغانستان کښې خپل سازشونه پیل کړی، او پښتون دښمنه گټې به حاصلې کړی، نو دا د دوی خوب کېدے شی، حقیقت نه شی کېدے، ځکه چې هغه وخت افغانان یواځې وو، د هغو مجبوریانې وې، چې خلکو ترې د مذهب په نوم خپلې ناولې گټې پورته کولې، اوس افغانستان سره ټوله نړۍ ولاړه ده، تېرو وختونو کښې د افغانستان خلک د دښمنانو په شرارتونو باندې د خپلو رونړو دښمنان شوی وو، خو اوس خبره داسې نه ده، خلک پوهه شوی دی، دوی امنیت او په هیواد کښې ثبات غواړی، او د خپل خان او هیواد پرمختګ غواړی، بعضې خلک دا وایی چې امریکایان مسلمانان نه دی، دوی نه شی کولے، چې د افغانستان د خلکو امداد وکړی، زه دا وایم چې اروپا او امریکا افغانستان کښې یو منتخب اولسی حکومت جوړ دے، چې حامد کرزے یې صدر دے، د مشرانو جرگه موجوده ده، چې صبغت الله مجددی یې مشر دے، اولسی جرگه شته، ولایتی شوراگانې کار کوی، سپیکر شته چې یونس قانونی نومیږی، جمهوریت شته، امنیت دوام نیسی، ترقی کیږی، هیواد خوشحالی طرفته روان دے

کښې د افغان د بچی دپاره مکتب جوړوی، پوهنتون جوړوی، شفاخانه او روغتون جوړوی، پولونه جوړوی، ترقی ورکوی، خو بل طرفته د افغان او افغانستان دښمنان ځه قصداً او ځه ناپوهی کښې په ځارونو کښې پټ ناست دی، راوځی او د ښوونځی، هسپتالونه، پولونه او د ترقی مشاېونه رنګ کړی، او بیا ځارونو کښې پټ شی، اصل دښمنی خو افغانانو سره داده خو دا خلک دې په دې خبره پوهه شی، چې دوی هیڅ کله په خپل ناوله دې عمل کښې نه شی کامیابېدلے
اوس به راشو د پاکستان د یو فوځی جنرال هغه وینا ته چې د طالب ریاست بیا جوړونکے دے، اول خو خبره داده چې د طالب ریاست کوم ځائے کښې ؤ، فوځی صیب دې اول د ریاست په مانه ځان پوهه کړی، بیا دې سیاست کوی، افغانستان کښې یو منتخب اولسی حکومت جوړ دے، چې حامد کرزے یې صدر دے، د مشرانو جرګه موجوده ده، چې صبغت الله مجددی یې مشر دے، اولسی جرګه شته، ولایتی شوراګانې کار کوی، سپیکر شته چې یونس قانونی نومیږی، جمهوریت شته، امنیت دوام نیسی، ترقی کیږی، هېواد خوشحالۍ طرفته روان دے

## رحیم داد رحیم(بایزوخرکی) مردان

د بل په نوم درپکښې اوسمه خپل کور مې نه کړې
د پښتونخوا د ناوې توب اوربله خور مې نه کړې
غټ جادوګر مې ځان ته وې پاتې دې راوستمه!
دیار په شوندو کښې اودې خاموشۍ شور مې نه کړې
د یار په ښکلی مخ کښې پرهوتې، پرهوتے ښه یې!
نظره تینګ شه چې وانه ورې په بل لور مې نه کړې
په خلو کښې ورنه شې، سندره نه شې، غلې مې کړې
رسوا مې نه کړې لیونی، مینې پېغور مې کړې
زما د زړه ورانې بورجلې ته خو راشه یو ځل
پښتون به نه یم که د دوارو سترګو تور مې نه کړې

ځوک چې په افغانستان کښې یو ځل بیا د طالب د رانګ خبره کوی، نو د هغه دپاره خبر داد ے چې په لر پښتونخوا کښې په وزیرستان، ډی ائی خان، ټانک، بنو، کوهاټ سره نژدو ځایونو کښې مقامی طالبانو متوازی عدالتی او انتظامی حکومتونه جوړ کړی دی، دغلته د دوی دفترونه کار کوی او سزاګانې او جزاګانې هم ورکړے کیږی، دا دې دې خلکو ته مبارک وی، بس کړئ، افغانستان پرېږدئ او خپل غم اوکړئ

* * *

که ته شاعر یې — ډاکټر اسرار

کــه تــه شــاعر یــې پــه رښــتیا شــاعر یــې
حــساس زړګــے بېــدار شــعور هــم لــرې
هــر څــه چــې وینــې داســې نــور هــم لــرې
فرعــون هــم وینــې او قــارون هــم وینــې
ظــالم رواج ظــالم قــانون هــم وینــې
د خپــل اولــس ذلیــل ژونــدون هــم وینــې
خــونړی پنجــې د مرګــون هــم وینــې
ژبــه دې شــته دے اوقلــم هــم لــرې
چــې نــه ختمیــږی داســې غــم هــم لــرې
کــه تــه شــاعر یــې پــه رښــتیا شــاعر یــې
بیــا تــه د بــت غونــدې خــاموش ولــې یــې
ســره لــه هوشــه هــم بــې هــوش ولــې یــې
چــې نــه یــې غــل، نــو ولــې غــل اوسېږې
د خپــل اولــس نــه ولــې بېــل اوسېږې
ژبــه دې پرانیــزه رښــتیا ووایــه
څــه چــې دې زړه کــښې دی صــفا ووایــه

او

کــه دا کــوے نــه شــې د څــه شــاعر یــې
ځنګــه دې ومــنم چــې ښــه شــاعر یــې




رحمت شاه سایل

# د غیر جمهوری حکمرانانو اغاز متاثرکن او انجام مایوس کن وی!

په غیر جمهوری طریقو راغلی حکمرانان چې اقتدار ترلاسه کړی، د ترقۍ او خوشحالۍ خبرې کوی، د اصولو دپاسدارۍ خبرې کوی، د صحیح جمهوریت خبرې کوی، تر دې چې د قانون او ائین د حکمرانۍ د خبرو نه هم دریغ نه کوی، زمونږ ملک پاکستان او د هغې دغه وړوکے تاریخ هم ددې تجربو نه ډک پروت دے، د ایوب خان د مارشلاء او اصلاحاتو او بنیادی جمهوریتونو د وعدو او عمل تجربه، د ضیاءالحق د اسلامی نظام او اسلامی جمهوریت او جهادی کلچر پیداکولو اوږده تجربه، او بیا د صدر جنرل پرویز مشرف اووه نکاتی ایجنډه، جمهوری رویې د سیاست دانانو نیول، الزامونه، اودغه ملزمان په اقتدار کښې شریک ساتل، او هم دغه روانه تجربه د خلکو مخې ته پرته ده، د غیر جمهوری حکمرانانو په نیت کښې که هر څو د ملک سره مینه او د نیکۍ عنصر شامل هم وی، خو د غیر جمهوری حکمرانانو په دور کښې هیڅ کله هم جمهوری رویې او جمهوری کلچر وده نه شی کولے، په اصل کښې «دوی چې د کومو په نوم د جمهوری قوتونو» په اسره حکمرانی کوی، د دوی مفادات که هر څو یو هم وی، د دوی د تشخص تقاضې د زمکې او اسمان په فرق وی، او په دې هکله د پښتنو د یوې ټپې اخری مصرع ده، چې «اسمان چې زمکې له راځی قیامت به وینه»

د غیر جمهوری حکمران رویه د حکمرانۍ د اسمان خبره وی، او دغه نور قوتونه، کم از کم په زمکه ژوند تیرول غواړی، او د زمکې حقیقتونه که زیر هم تت یا ورک

شي. اخر كار سر رانسكاره كوي، څكه چې د هيڅ حكمران بله لار نه وي، هم دغه د زمكې حقيقتونو ته به راكوزيږي

په اصل كښې د حكمراني په رومبو كلونو كښې چونكه وعدې، او د يوې نوې لارې، او نوې ترقي خبرې كيږي نو خلك هم غوږ غوږ وي. او په يوه اسره كښې هم وي، بلكې ځنې اوازونه خو بې د زړه د زخمونو پټيې هم وي. نو په دغه قسمه حكمراني شاباسې هم وايي. خو دا لوبه چې لا عروج ته نه وي رسيدلې نو زوال يې هم شروع شي، او بيا د حكمرانانو سره صرف او صرف ابغه نبغه غير جمهوري رويه. او لار پاتې شي

او بيا ددې غير جمهوري رويو او لارو نه چې كوم كلچر پيدا كيږي، هغه د ملك صحت ته هم نقصان رسوي. او د خلكو اجتماعيت ته هم

هم په دغسې صورت حال كښې نن صدر جنرل پرويز مشرف او د هغه ملګري هم ګير دي. يو طرفته اليكشن ته وخت كم دے. او بل طرفته د موجوده حكمرانانو پارټيو د خلكو مفادات اوس ترلې د صدر په وردي او صدارت پورې دي. په راتلونكو اليكشنونو كښې. كه د پيپلز پارټي او مسلم ليګ (ن) اتحاد ممكن شي. او ازادانه اليكشن اوشي. نو سوال دادے چې د هغوي رويې به د صدر دپاره يا د هغه وردي دپاره څه وي، دويم طرفته د صدر جنرل پرويز مشرف دا خيال هم شايد چې كله كله پيدا كيږي، چې زما خو د صدارت د ضمانت خبره ده، كه دا د پيپلز پارټي د طرف نه پوره كيږي، نو دا څه بده خبره هم نه ده تجزيه نګارانو په دې هكله دا خبره څو څو خله كړېده، چې دوي پيپلز پارټي سره په رابطه كښې دي، او څه نتيجې ته هم رسيدلې دي، فرق دا دے چې دے تږې صدارت غواړي، هغه هغوي وركوي، ولې دده دويم او اخري شرط دادے، چې بې نظير بهټو به وزيراعظمه نه وي. پيپلز پارټي دې د بل وزيراعظم تجويز پيش كړي. تجزيه نګاران وايي. چې دې ته بې نظير بهټو نه راضي كيږي. او دا نوي الزامات

پيرې هم ددې خبرې د منلو دپاره دوا ... مسلم ليګ (ق) والوو، د صدر ددې ... بوازې د مسلم ليګ د صدر ... بلكې په دې كښې بې د صدر ... خصوصي تقريرونو دپاره دوه ... چې سره پېرې د مسلم ليګ د صدر ګمان كښې، بل طرفته د سندهـ وزير اعلى ارباب غلام رحيم او شيخ رشيد وايي چې صدر پرويز مشرف به د ۲۰۰۷ د اليكشن نه پس هم صدر وي، او وردي به يې هم په غاړه وي، ددې دپاره د غه دواړه صاحبان وايي، چې په ائين كښې ددې خبرې ګنجايش موجود دے. چې عام انتخابات د يو كال دپاره روستو كړے شي، او صدر جنرل پرويز مشرف هم ددې اسمبلي نه د ائينده ټرم دپاره د صدارت ووټ حاصل كړي

موجوده حكومت د وزيرانو د فوج ظفرموج باوجود، د نورو ناكاميو نه علاوه تر اوسه اوسه په دې كښې هم ناكام ښكاري، چې تر اوسه د اسمبلي د حاضرۍ ريكارډ هم درست نه دے. او د نورو ډلو هغه ممبران چې وزيران يا مشيران نه دي، هغوي صرف دخپلو ضرورتونو دپاره منډې وهي. او د ملك دامن و امان د صورت حال سره سره دګراني او بيروزګارۍ په طوفان كښې هم خلك ګير دي. يعني هره دعوه د يو اخباري بيان نه سيوا هيڅ نه ده، په داسې حالاتو كښې كه صدر جنرل پرويز مشرف په راتلونكي اليكشن نظر اچوي، او د پيپلز پارټي سره د بلنګ كول غواړي، نو دا د هغه دوراندېشي كيدے شي. ولې دده ددغې دوراندېشي د وېرې نه چې مسلم ليګ تاؤ راتاؤ كيږي، دا څكه چې هم دغه څه هغوي د صدر ضرورت ګني. كه چرې د صدر مسلم ليګي او نور خوشامدګر په دې كښې كامياب شي. چې په ائين كښې هم ترميم اوكړي. او د موجوده اسمبلي معيار هم اوږد كړي، او د موجوده اسمبلي نه د راتلونكي ټرم دپاره صدارتي اجازت هم حاصل كړي، ددې نه پس به د سياست شكل وصورت څه وي؟

دا د امریکې د نایب وزیر خارجه رچرډ باؤچر چې ویلی دی، چې امریکه غواړي، چې پاکستان کښې دې په فوج سولین کنټرول وی، او جمهوریت دې واپس راوستے شی، وایي چې ددې خبرې تصدیق د قومی سلامتي مشیر ستیو هېډلے هم کړېدے

دا خبرې ددې خبرې غمازي خو نه کوي، چې امریکه د صدر مشرف نه لاس اخلي. یا ددې خبرې غمازي خو نه کوي، چې د مسلم لیګ (ق) په ځائے راتلونکې خلا د بې نظیر بهټو په شکل کښې ډکه کړي

دا هیڅ ناشونې نه ده، چې بې نظیر بهټو د ملک وزیراعظمه شی، او صدر د صدر په حیثیت پاتې شی، هسې هم چونکې هر څه د صدر په لاس کښې دی، وزیر اعظم که شوکت عزیز وی، او که بې نظیره څه فرق پرې نه پرېوزي. مونږ وینو، ګورو او محسوسو چې یو طرفته دټولو قوتونو منډه د امریکې د اعتماد ترحده پورې ده، او هیڅ وجه نه شی کېدے، چې بې نظیر بهټو دې د امریکې په اعتماد د مسلم لیګ (ق) په مقابله کښې پوره اونه خېژي، تر اوسه چې د صدر جنرل پرویز مشرف ټول صلاحیتونه د مسلم لیګ (ق) دپاره په کارولے شی، دا ضروري نه ده چې د داندلی باوجود هم مسلم لیګ (ق) الیکشنونه اوګټي، دا ګڼل چې ګني پنجاب به هر ځل یوه فیصله کوي، او دا به د مسلم لیګ په حق کښې کوي، درسته تجزیه نه ده، البته غېر جانبدار الېکشنونه کول بې ضروري شرط دے، که بې نظیر بهټو او نواز شریف ملک ته د راتللو جرات هم اوکړي، نو د سیاست دکتاب یوه پانه اړولے شی، او چې یوه واوړی نورې پانې اسانې شی

راځئ چې دا اوګورو، چې واقعی صدر مشرف د موجوده اسمبلی نه د راتلونکی ټرم دپاره د اعتماد ووټ حاصلولے شی؟ او د اسمبلی موده هم روستو کولے شی، په دې هکله د قانون دانانو رایې څه ده؟

پخوانے چیف جسټس سعید الزمان صدیقی وایي د ائین د ارټیکل ۲۳۲ تحت صدر کولے شی، چې په ملک کښې ایمرجنسی نافذه کړي، نو د سب سیکشن ۶ لاندې د قومی اسمبلی عمر د پارلیمنټ د ایکټ لاندې یو کال اوږدولے شی، خو د صوبایي اسمبلیو عمر زیاتول په ائین کښې هیڅ ګنجایش نه لري، صوبایي اسمبلی د ائین مطابق د پنځه کالو پوره کولو نه پس خود به خود ختمیږي

که چرې صدر مملکت ته یقین وی، چې اندرونی او بېرونی حالات داسې دی، چې اوس ملکی سالمیت په خطره کښې دے، یا د بېرونی جارحیت زبردسته خطره موجوده ده، نو هغه په ملک کښې د ارټیکل ۲۳۲ مطابق هنګامی حالات نافذ کولے شی، دهنګامی حالاتو دنفاذ نه پس په سب رول ۶ عمل درامد کولے شی، چې هم ددې قانون لاندې د ایکټ اف پارلیمنټ په ذریعه د قومی اسمبلی «موده» د یو کال دپاره اوغزوی، د ایمرجنسی په دوران کښې که چرې د صدارتی الیکشن وخت په سر راغے، نو هغه ملتوی (موخر) کولے شی، د صوبایي اسمبلو موده نه شی زیاتولے

د ایمرجنسی نافذ کولو په صورت کښې صوبایي حکومتونه ختم شی، او د ملک کنټرول وفاق سمبالوی، او هم وفاق صوبو ته هدایات ورکوی، د سندهـ د وزیر اعلی خبره مضحکه خېزه او د حقیقت نه لرې ده، دا اسمبلی صدر جنرل مشرف د راروان ټرم دپاره نه شی منتخب کولے، دا اسمبلی دصدر د مستعفی کېدو یا د صدارت د عهدې خالی کېدو په صورت کښې د پاتې مودې دپاره صدر غوره کولے شی، خو د راتلونکو پنځه کالو دپاره نوے صدر نه شی منتخب کولے، په ارټیکل ۵۲ کښې یې لیکلی دی، چې اسمبلی به د پنځه کالو مودې پوره کولو نه پس ختمیږي (تحلیل کیږي) د وخت نه مخکښې د صدارتی الیکشن په هکله هغوی وایی چې په دغې صورت به صدر مشرف استعفی ورکوی، او یو قایم مقام صدر به راځی دا اسمبلی صرف د باقی پاتې مودې دپاره نوے صدر غوره کولے شی، صدر جنرل مشرف د سرکاری ملازم په وجه صدارتی الیکشن

نه شی کولے. هغه نا اهله کېدے شی، ځکه چې نارمل لاء خو هم دغه وایی. که چرې دے د ارمی چیف عهده هم پرېږدی. بیا به هم هغه له دوه کاله انتظار کول په کار وی، ولې چې د عامو پاکستانیانو په شان بیا په هغه هم د ارتیکل ۴۱ اطلاق کېدے شی، هغه وایی چې د اوولسم ۱۷ ترمیم پېراګراف ۷ صرف د موجوده صدر مشرف دپاره د دوو عهدو ساتلو په هکله دے، خو دا صرف د موجوده مودې دپاره دے، په هغې کښې یې صفا لیکلی دی، چې دا رعایت صرف د موجوده ټرم دپاره دے. یعنې د دویم ځل دپاره چې هغه صدر جوړېږی، هغه به د ائین د نارمل طریقه کار مطابق په صدارتی الیکشن کښې حصه اخلی؛

دسندهـ هایی کورټ پخوانے جج او د سندهـ هایی کورټ بار اېسوسی اېشن پخوانے صدر رشېد اې رضوی وایی، چې د وخت نه د مخکښې د صدارتی الېکشن کولو مطلب به دا وی، چې جنرل پروېزمشرف دې د صدارت عهده پرېږدی، د سېنېټ چیرمین دې قایم مقام صدر جوړ کړی. او دپاتې مودې دپاره دې نوے صدر غوره کړی، جنرل مشرف چونکه د ارمی د چیف حیثیت لری، نو هغه به د صدارتی الېکشن دپاره نا اهل وی، که چرې د ارمی چیف عهده پرېږدی هم، دوه کاله به ورته انتظار کول وی،د دواړو عهدو چې هغه ته کوم اجازت ورکړے شوے ؤ، نو هغه د یوې خاصې مودې پورې صرف د هغه د نوم پورې دے،اوس به هغه ته په ائین کښې یو ځل بیا د دوتهایی اکثریت سره ترمیم راوړل وی

ځوپورې چې د قومی اسمبلی په موده کښې د یو کال د غزولو خبره ده، نو دغسې صرف په ناګزیرو حالاتو کښې کېدے شی

په دې هکله بېرسټر اعتزازاحسن ویلی دی، چې که ایمرجنسی نافذ کړے شی، نو د قومی اسمبلی عمر د یو کال دپاره زیاتېدے شی، خو د صوبایی اسمبلو موده نه شی غزولے، ولې که دا ځل صدارتی الیکشن کیږی، نو د تېر رېفرنډم په شان جنرل مشرف صدر نه شی جوړېدے، ځکه چې دا ځل به په مقابله کښې داپوزیشن لیډر هم موجود وی

او کوم خلک چې جنرل مشرف ته د موجوده اسمبلو نه د راتلونکی ټرم دپاره د ووټ اخستو مشوره ورکوی، هغه زما په خیال د صدر مشرف خلاف د یو تیار کړے شوی سازش حصه ښکاری، د ایمرجنسی نافذ کولو مطلب به دا وی، چې شوکت عزیز اېنډ کمپنی ناکامه شوه،

په دې هکله یو بل قانون دان راجه حق نواز اېډوکېټ وایی، چې جنرل مشرف تر نن ورځې پورې یو غېر منتخب صدر دے، ځکه چې په ائین کښې چې د صدر د



انتخاب دپاره کوم طریقه کار دے. هغه ده نه دے فالو کړے. موجوده اسمبلی د نورو پنځه کالو دپاره هیڅوک صدر نه شی منتخب کولے. که چرې د وخت نه مخکښې صدارتی الیکشن کول وی. نو موجوده اسمبلی د باقی پاتې مودې دپاره د نوی صدر انتخاب کولے شی. او جنرل مشرف هسې هم سرکاری ملازم دے. دے صدارتی الیکشن نه شی کولے. د ځنې تجزیه نګارانو خیال دا دے. چې سیاسی لحاظ سره اګر چې په قومی سیاست کښې بو تهراو ښکاری. خو دننه دننه حکومتی او اپوزیشن ډلې لګیا دی د الیکشن تیاریانې کوی. او د الیکشنونو دپاره صف بندی روانې دی

د حکومت په نسبت اپوزیشن پارټۍ زیاتې د جوش جذبې ډکې ښکاری. حکمران جماعت د انتخاب نه په وړه کښې معلومیږی. او ددې نه د تېښتې دپاره توپک د جنرل پرویز مشرف په اوږه کېښودل غواړی. اوهم دغه صدر مشرف ته وای چې هم ددې موجوده اسمبلی نه د راتلونکی ټرم دپاره صدارتی ووټ حاصل کړه، کېدے شی چې په راتلونکی اسمبلی کښې مشکل پیداشی

هم دغه نکته هغه وېره ده چې صدر مشرف یې هم محسوس کوی. او په دې وجه هغه د مسلم لیګ (ق) نه علاوه د پیپلز پارټۍ سره هم رابطه ساتل غواړی، هم دا ځائے دے، چې وخت لږ دے لارې ډېرې دی، او یوه به په کښې اخستل غواړی. دا اوس دده د دوراندېشۍ امتحان دے. چې دے هم د دوی په جال کښې راځی، او که د یوې نوې لارې انتخاب کوی، خو مونږه په سر کښې دا وېره ښکاره کړې ده، چې غېرجمهوری قوتونه چې په اقتدار کښې راشی. غېر جمهوری لارې اخستل د هغوی په برخه وی. او هم دغه بدنصیبی د ملک هم وی، او د ملک د خلګو هم صدر پرویز مشرف لګیا دے، د نیب په ذریعه په پیپلز پارټۍ دباؤ هم ساتل غواړی، او پیپلز پارټۍ او مسلم لیګ (ن) والا په لندن کښې د ایم کیو ایم د مشر الطاف حسین سره او د ملیانو د نمایندګانو سره په یوشریک پلېټ فارم د راغونډېدو د هلو ځلو په حالت کښې دی. ممکنه ده چې د صدر جنرل مشرف خوشامدګر، او تش په نوم مشران. هغه یوې نوې اومثبت لارې اخستو ته پرې نه ږدی، او یوه داسې غېر جمهوری لاره واخلی، په کومه کښې چې هغه یو اختیار هم قربان نه کړی، ولې دا هر څه به په یو جمهوری ملک کښې یو ساه ډوبی صورت حال ته نور ژوند ورکړی. کوم چې به د موجوده حکمرانانو دپاره هم د تشویش باعث کیږی

دا ټولـه لوبه او دا ټولې غېرجمهوری او غېر ائینی طریقې د مقتدرو طبقو د اقتدار د جنګ نوې وسوسې او تلوسې دی، ددې ټولې لوبې نه عوام او د عوامو مفادات منفی کړے شوی دی، حال دا دے چې د عوامو مفادات د ملک مفادات دی، ولې مفادپرستې مقتدرې طبقې چرې هم د حب الوطنی جذبه د مفاداتو د جذبې نه نه بېلوی، دلته لکه ډېره مخکښې د دانش او تدبر جنازه وتې ده، دا دغسې الیکشنونه اوس د ړندو یا پټو سترګو ګوزارونه دی، پېسې دی، او سرونه دی، او د ډېرو غټو غټو سترګو دلالان دی، دغه مو سیاسی اخلاقیات دی، او په دې د شرم په ځائے فخر کول، زمونږ د لوئے والی دلیلونه دی.

•••

## غمرازی

تېرو ورځو کښې د پښتو نوموړے لیکوال، سید تکریم الحق کاکاخېل چې په «روغ لېونی» پېژندے شو، او د پښتو ژبې د لوئے شاعر او ادیب ډاکټر شېرزمان طائزی رور قمر زمان طائزے، او د روشن پاکستان د ایډیټر رحمان بونیری تره په حق اورسېدل (انا لله و انا الیه راجعون) اداره ددغوټولو لیکونکو د پسماندګانو سره په دې دروند غم کښې ځان شریک ګڼی، او د لوئے خدائے په دربار کښې د دوی دپاره د بخښنې او لوئے مقام دعا کوی.

د یو پښتون مجاهد له قلمه

# د خلیل ملک صاحب په نوم!!

د تېرو پنځوسو کلونو نه مونږ پښتانه او بلوچیان د پنجابي میډیا (Elec.Print) نه ترپوزې راغلي وو، اوس چې کله اوبه د ورخه تېرې دي، د ماضي د ډېرو ترخو تجربو نه راتېر شو، نوې چېنلونه راغلل، لکه ۸۴۷ وغېره مونږ په خوش فهمۍ کښې وو، چې شاید اوس به بغیر څه تنګ نظرۍ نه په سهي توګه د حالاتو کره کتنه اوشي، خلکو د P۴۷ په ځائې ۸۴۷ کتل پېل کړل، خو ولې افسوس که چېنلونه نور هم ډېر راشي، ستاسوپنجابي ذهنیت،پنجابي تعصب او تنګ نظرۍ به ختمه نه شي.

وړاندې ورخو کښې د پروفیسر غفور سره په کالاباغ ډېم خبرې اترې کېدې، تاسو چې به خبره راوړه راوړه نو د کالاباغ ډېم مخالفت مو صرف او صرف په ولي خان وراچوو .او دا کوشش مو کوؤ چې هغه وطن دښمنه وګرځوئ، پته نشته چې ستاسو زمونږ سره د څو پېړیو دښمني ده، څومره تضاد دے،په تاسو خلکو کښې، یو اړخ ته تاسو وایئ د کالاباغ ډېم مخالفت یو وړوکے ټولګے کوي،چې په اسمبلۍ کښې یې نمایندګي هم ډېره کمه ده، خو بل اړخ ته چې ټوله اسمبلي په یو اواز،یو وار نا درې واره کالاباغ ډېم مسترد کوي. بلکې یو وار چې ستاسو وفادار سپاهي افتاب شېرپاؤ د CM په توګه. پښتونخوا اسمبلۍ کالاباغ ډېم مسترد کوي، نو دلته ستاسو ژبه چاړې شي، ستاسو د کرایې قلم ودرېږي، یو خو دا که تاسو د جمهوریت خبره کوئ، نو یوه اسمبلي (چې باقاعده نمایندده ده) کالاباغ ډېم مسترد کړے دے، بل خوا که دکالاباغ ډېم مخالفت وطن دښمني ده، نو بیا خو پوره اسمبلي غداره ده،ملک دښمنه ده او ددې سره سره افتاب شېرپاؤ د CM په توګه تر ټولو ستر غدار دے، خو داسې خبره نه ده. شېرپاو وفادار دے، ځکه چې نن د پنجاب دمفاداتو ترڅنګه ولاړ دے، ولي خان غدار دے، ځکه چې هغه یواځې د پنجاب په وړاندې نېغ ولاړ دے، ستاسو خلکو عجبیه جمهوریت دے، عجیبه مو پیمانې دي، او عجیبه مو اخلاقیات دي.

تاسو لږې خپلې عینکې صفاکړئ، شاید چې تاسو ته په نظر نه راحي،تاسو ته هغه غدار ولې په نظر نه راځي، کوم چې ددې ملک، ددې قوم، پنجابي،پښتون،بلوچ او سندهي دښمن دے، د پنجاب هغه مسلم لیګیان چې د پنځوسو کلونو نه په مختلفو څهرو کښې غداري کوي، هم دې پنجابیانو د ایوب خان بوټان صفا کړي دي، هم دې خلکو یحیی خان ته امېلونه په غاړه کړي دي، هم دې غدارانو بهټو سره ډله اوکړه، اوملک یې دوه ټوټې کړو، هم دې غدارانو د ضیاء الحق نه امیرالمومنین جوړکړے ؤ، ولي خان خو ځکه غدار دے، چې هغه ایوب خان ته سینه ټپولې وه، او یحیی خان یې چېلنج

کړے ؤ. او چې کله ضیاءالحق اووې چې په اسلام کښې Opposition شته نو دا غدار هم ولی خان ؤ. چې ورنه یې په نره خواب ورکړے ؤ. چې په اسلام کښې د امام حسین (رض) نه ستر اپوزیشن لیډر بل څوک ؤ؟
اوس اوس د افغانستان او کرزی په هکله ستاسو Discussion ؤ. په دې هکله به پښتانه ستاسو یوه جمله هیره نه کړی. کرزے صاحب پاکستان ته راغے او د دلته نه ولی باغ ته د دعا دپاره لاړو"
دې یوې جملې ستاسو پنجابیانو د زهرو نه ډک تعصب او تنګ نظری د حقیقی ترجمان حق ادا کړے دے. ډیر افسوس دے. چې تاسو تاریخ مسخ کولے نه شئ
افغانستان او پښتانه، یو قوم، یو نسل، یو کلچر، یوه ژبه او یو تاریخ دے. زمونږ د ازل نه تنګ راتنګ دے. رشتې مو دی، د یو بل په غم ښادی کښې ګډون کوو. تاسو ته هغه ولې په نظر نه راځی. چې د پنجاب سورما چوهدری پرویزالهی مشرقی پنجاب ته ځی. دزیړ رنګ پګړی په سروی، د سکهانو سره ترغاړه کیږی، د ګرونانک په مزار شمعې بلوی، او هغه مغربی پنجاب ته بلے کیږی. او مېلمه کیږی، تاسو ته دغه ولې په نظر نه راځی. چې ستاسو لوئے سورما جرنېل مشرف نن من موهن سنګه ته لاس جوړی کوی منت زاری کوی چې زمونږ سره خبرو اترو ته کښېنئ. خو هغه دغه خبره په حقارت رد کوی
زمونږ مشرانو، زمونږ پښتنو لیډرانو خو به پنځوس کاله وړاندې تاسو ته ویل، د توپک خبره مه کوئ، خبرو اترو ته کښېنئ. خو ستاسو سورماګانو به ویل چې کشمیر اخلو. په لال قلعه به شین بیرغ رپوو. نن سبا څه کیږی؟ افسوس چې د حقیقت سره خو تاسو ډزې کړې دی، د ویلو خو ډیر څه شته خو په اخیر کښې پنجابی استعمار، پنجابی ارمی، پنجابی بیروکریسی او پنجابی میډیا ته خواست نه، بلکې خبر ورکوم، چې په قلار شئ، ډیره وشوه، په وزیرستان کښې د وینې لوبه بنده کړئ، په بلوچستان کښې نور اور مه کړئ، افغانستان شل کاله په وینو کښې د لمبولو نه پس نور د کرایې جنګ بس کړئ
اوس خو ستاسو اقاګانو (U.S.A) افغان پالیسی بدله کړې ده، خو ستاسو د پنجابیانو ذهنونه اوس هم نه دی بدل شوی، او بیا په افغانستان کښې د بارودو لوبه پیل کول غواړئ
دا تعصب، تنګ نظری، او نفرتونه پریږدئ، دا وطن صرف ستاسو نه، په اصل کښې زمونږه دے، چې کله ستاسو مشرانو د پیرنګیانو بوټان څټل نو زمونږ مشرانو ددې وطن د ازادۍ دپاره سرونه شیندل، قربانۍ یې ورکولې، لږې عینکې صفا کړئ، او تاریخ وګورئ، ستاسو مشرانو ته زمونږ مشرانو کلیمه ویلې ده، او مسلمانان کړی یې دی، تاسو احمدشاه ابدالی، شېرشاه سوری، او محمودغزنوی نه شئ هېرولئ؟ که زمونږ مشران نه وے نو شاید چې نن به هم پنجابیان سکهان یا هندوان وے، تاسو له خو په کار دی، چې زمونږ مشرانو ته دعا کوئ، ستاسو پنجابی سورماګانو دا ملک دوه ټوټې خو کړو، خو قلار شئ، دا لوبه به نوره خوند ونه کړی
دا وار به صرف بلوچستان نه سوزی، صرف وزیرستان به نه سوزی، افغانستان به یواځې نه سوزی، صرف پښتون، بلوچ او افغان به نه سوزی، دا وار به ټول پاکستان سوزی، ټول پنجابیان به سوزی، دا وار به افغانان نه مهاجر کیږی، اوس به پنجابیان مهاجر کیږی، او د دوی ځائے به شاید چې مشرقی پنجاب وی، پوره نقشه به بدلیږی، پوره جغرافیه به بدلیږی، انشاءالله

د اکمل لېونی، نوے کتاب (لېونتوب) د ښکلی کاغذ او ښکلی ټائټل سره د دانش خپرندویې ټولنې په تکنیکی ځانګه کښې چاپ شو.
او کاټلنګ پښتو ادبی جرګه بابزی ضلع مردان یې په ۲۹ اپریل په کاټلنګ کښې مخ کتنه اوکړه، چې نورالامین یوسفزئے، محمد ایوب ایوب، او ډاکټر اسرار د هغه په ژوند او فن رڼا واچوله




د ۲۶ جنورۍ نه زما قلم او د سپین کاغذ ترمنځه مبارزه ده. سپین کاغذ مې قلم ته وایی چې که څه توان لرې، نن ورخ ده څه اولیکه. قلم ورته په زارو دے، چې مه مې شرموه، نه توان لرم، نه ژواک،ژبه مې وچه ده، ملا مې ماته ده، ذهن مې مفلوج دے، په دې قیامت صغرۍ څه اولیکم، دریمه شوه، جمعه شوه، څلویښتمه شوه، خو دا سوړ جنګ روان دے، ذهن مفلوج دے، لکه چې د فکر چینه مې ناڅاپه وچه شي.

## ولی بابا

ډېرو نامتو شاعرانو ،مفکرینو ،منورینو، مورخینو پرې لیکل اوکړل، چا ورته عظیم جمهور پسند، د ازادۍ سپاهی، په سیاست کښې د منفرد مقام سیاستدان اووئیل،چا مورخ کړو، چا تاریخ کړو، چا ورته د اصولو پلار اووې، چا ورته په دې ګند کښې د صفا وینې چینه اووې،چې مات شو، خو ټیټ نه شو.

چا زړه له په دې تسله ورکړه، چې ولی بابا د مرګ نه دے، د هغه جسمانی بېلتون به ضرور شوے وی، خو د هغه فکرونه زمونږ د تیرو ورځو مشالونه دی، ددې سره بې اتفاقی نه کوم، خو دا وایم، چې د هغه فکرونه،یادونه خو پاتې شو، خو پښتانه خو د تاریخ په چقړو کښې د امسو پورې ډوب دی، راتلونکی عمر کښې مونږ د هغه د فکرونو نه محروم شو، سبا به لارښود څوک وی؟ د سبا فکر به څوک کوی؟ پردۍ تنده او ترخه سیلۍ کښې به هغه مشال څوک وی، چې د اور اورکی په شان د خپلې وینې او فکر رڼا خوروی، زمونږ د دلاسې به څوک وی، زمونږ په سر به د مینې او شفقت لاس څوک راکاږی؟

خلک وایی، چې د بابا جنازه یوه تاریخی جنازه وه، په مرګ کښې یې خپل عظمت لوړتیا او مقام اوښودو، بې شکه وه به اخو د عظمتونو دا ډولی چې خاورو ته سپارلے کېده، نو زړه مې چاودو.

زما په ولی بابا داسې مرګ نه ؤ پېرزو . نه مې پرې ددې عالمانو مفکرينو ،ليکوالو دا غټې تبصرې، دا ما بابا ته په ژوند هم وئيلی ؤ ،چې زه دا اورېدل نه غواړمه، چې «ايک عظيم سياستدان انتقال کرگئے»

بابا په خپل مخصوص انداز کښې اوخندل،لاس يې زما په اوږو واچولو ،رانه يې تپوس اوکړو ، کوهستانيا ته به څه غواړې، ما اووې بابا اول خو درلـه الله ژوند درکړه،چې زما غوندې خلک ژوندی وی، خوزه به دا غواړم، چې بابايې قوم انتقال کرگئے، ملکی جهنډا ۳ ماه سرنگون رهے گا، ۳ هفتے کے سوگ کا اعلان.

بابا زما کور ودانـې تـه مخاطب شـو، بچيـه! ددې کوهستانی خيال ساته د قومونو په ازادۍ، پېړی لړی.

زه چې په ٦۳ کښې د سوات نه رااووتم، نو زما په ذهن يوه اېجنډا سوره وه، چې د خپل پلار بدل والی سوات نه څنګه واخلم، که د شيطان سره په اتحاد داکارکېدے شی نو کوم يو جنون ،يو لړزان ؤ.

په ٦٤ کښې چې کله زه د محترم اجمل ختک سره په کراچۍ کښې دلاسلکی په دکان کښې ملاؤ شم او هغه راته د باچاخانی فکر زولنې واچولې، نو ماته احساس اوشو، چې دا زه په څه يم.

په پاکستان کښې خو هر پښتون ته يو والی ناست دے، خبره زما دپلار نه ده، د پښتنو د ازادۍ او ملی وحدت ده، ځکه ختک بابا د خپل فکر خالق گڼم، بيا ختک صيب په ٦٥ کښې د ولی بابا په جولۍ کښې واچولم، او بيا دې فکری ناوې له کالی بابا واخستل.

ولی بابا د مينې يوه داسې سرچشمه وه، چې هر کارکن ته به دا احساس ؤ، چې زما هومره مينه دے د بل چا سره نه کوی، شايد په دغه خوش فهمۍ کښې زه هم وم.

خو دوخت سره راتـه برسېره کېده، چې بابا زما څه اميدونه دی، ددې عظيم شخصيت،تاريخ ساز او تاريخ سره زما مينه په دې نه ده، چې يا دے د باچاخان زوئے دے، يا يو عظيم ليډر دے، دده هر حکم منل په ما فرض دی، ولی بابا زما تربيت څه داسې اوکړو، چې شخصيت پرستۍ نه زه ناخبر وم که ما ته به د پارټۍ يوه فيصله راست نه ښکارېده، نو ما کښې دا يره هغه ختم کړې وه، چې ما د هغه نه څو ځان پوهـ کړے نه ؤ، نو به ورسره په جنگ وم

اکثر به د لېونی په شان روان وم، ده به په خندا د لرې نه اواز اوکړو، لېونيه! بيا څه چل دے؟ ما به اووې، بابا ذهن کښې مې يو ازغے دے، هم تاسو به يې اوباسئ، چرتـه هـم زمـا او دده فکری او نظرياتی نشست د درې څلور گنټو نه نه دے پاتې شوے، چرته هغه عظيم انسان او چرته زه، د هر نشست نه وروستو ده ماته يو کتاب ښودلے دے، چې دا ضرور اولولـه، يا که پـه ما بـه يو کتاب ښه اولگېدو، نو ده ته به مې ډالۍ کړو، د نيلسن منډيلا پـه کتـاب Long walk to freedom رانه ډېر خوشـحاله شـوے ؤ، او يـو مـې ورلـه د باچاخـان يـو پورټرېټ چې يو کوريايی ارټسټ جوړ کړے ؤ، هغې ته ډېر خوشحاله ؤ، پـه سترگو کښې يې اوښکې راغلې، صرف دومره يې راتـه اووې دا تـصوير مې ورلـه پخپله اخستے ؤ،

زما او د هغه تعلقات د يو ليډر او ورکر نه وو، کله بـه پکښې جنگ اوشو، کله بـه يې يو داسې مشن باندې اولېږلم، چې زه بـه حېران شوم، چې چرتـه زه او چرتـه دا اعتماد، الله ته به مې سوال کاؤ، چې زه پـه دغـه اعتماد پوره شم.

ماته به تل زيات مشکلات پـه دې کښې وو، چې زه بـه د پارټۍ د Declared پاليسۍ نه يو دوه قدمه مخکښې روان وم،نو چې چا به اوزپلم نو ځواب پرېښودل خو زما عادت نه ؤ، نو بابا له به ورغلم. ده به مې څو ټکو کښې خبره صفا کړه، کوهستانيه هم دغه لاره ده، ستا دپارټۍ سره څه کار دے، ما او تا خو جدا يو، ددې نه هم زيات شه.

يوه ورځ يې راپسې ځواب راولېږو، ولی باغ ته ځان راورسوه، زه لاړم، ده خپل نوکر تـه اووې، مونږ لـه يوه دوه کرسۍ د هغـه زوړنـد بـوټی لانـدې کېږده، او چائے

راوړه، هېڅ چاته زمونږ مه وايه، ما او دے هلته کېناستو، ده د علاقايز او پاکستاني سياست نه راواخله، د افغانستان په حالاتو زه په تکي تکي پوهه کړم، په نړۍ وال سياست د هغو اېجنډې هر څه يې راته بيان کړل، په برنډه کښې محترم سليمان لايق ناست ؤ، حېران يې کتل چې دا دڅه جرګه ده؟ چې د ماښام تږمې شوه، نو مونږ د يخنۍ دلاسه برنډې ته راغلو، خو ناڅاپه محترم بشير بلور صيب او فريد طوفان راغلل، او نورې خبرې پاتې شوې

په اخر کښې بابا اووئيل، لېونيه! د باچاخان دوه وراثتونه دي، يو د هغه جائيداد چې په مونږ تقسيم دے، خو د هغه فلسفه د ټولو نه غټ وراثت دے، دا د «پښتون» رساله به هغه د شګاګو د پښتنو په پېسو وېسته، او دلته د يو څو کسانو نه علاوه به مفت تقسيمېده، پښتانه په تور تکي پيسې نه ورکوي، ددې دپاره هغه دخپل جائيداد نه څه زمکه هم وقف کړې وه، زه غواړم چې ته دا رساله په هغه معيار د نوو تقاضو سره اوچلوې، او زما سره چې ددې کومه برخه ده، هغه تاته حواله کړم، ما وئيل بابا: دا به بالکل ازاده وي، کنه د پارټۍ او ستاسو د کورنۍ څه پابندۍ به وي، هغه ماله د ۲۹، ۳۱ يو مجله راکړه داسې؟

زه ګونګ شوم، خله مې وچه شوه، چې نه ليکوال ،نه اديب، نه عالم، زه به هغه مجله څنګه چلوم، خو زړه مې د خوشحالۍ نه چاؤدو، ماوې بابا دا يوه ډېره غټه ذمه واري ده، زه په ځان کښې دا ژواک او صلاحيت نه لرم، که تاسو ماته اووايئ، چې په دې مهمندو کښې يو سړے وږے دے، دا يو من غنم ورته ورسوه نو که زه يې توان او ژواک لرم، خو به ورته رسوم، ده يوې ورځې خبره ده ولې دا د ژوند فکري وراثت دے، چې زه ورته ځان اوتلم، بيا به ځواب درکړم، لږ وخت به غواړي، سبا له زه د ګران خټک بابا سره اسلام اباد ته تلم، د رسالې دا خبره مې ورسره چېړله، هغه ډېر خوشحاله شو، راته يې اووې بچو ددې نه لوئے اعتماد څه کېدے شي؟

خو ستا ځواب هم وزن لري، په درېمه ورځ بابا له بيا لاړم پاس برنډه کښې ناست وو، هم په مجله بحث روان شو، چې اجمل خټک بابا راغے. هغه اووې چې زه به ورسره ملګرے يم، ولې بابا اوخندل او اسلام اباد به خالي پرېږدے،دا کار زه په دې کوهستاني کول غواړم.دا بس کوهستاني ته پرېږده، فېصله اوشوه، چې زه به دوه مياشتو دپاره سعودي ته لاړ شم، څه چنده به اوکوم او څه به خپلې کړم راځم به، چې راغلم پښتون شروع شوې وه، بابا نه ما تپوس اوکړو، هغه وئيل ځان پرې غلے کره، دا خلک دا مجله نه شي چلولے. بابا ددې ډېر ارماني ؤ، چې که مونږ د اډيو او وېډيو په ذريعه خپل پېغام خور کړو، ما څه ورځې کوشش اوکړو، لېکن کامياب نه شوم، بابا راته بيا ځواب اوکړو، د ولي بابا د خور ابۍ په مرسته لاړم.

راته يې وې، سبا ما د ګلالۍ د کور مخکښې نه اوچت کړه، زه لاړم، بابا ولاړ ؤ، ماته يې اووئيل، څه خپل کور ته ما ورسوه، هلته يې راسره په افغانستان ډېر مفصل بحث اوکړو، بيا يو بې لمبره موټر راغے، او مونږ امريکايي کونسل ته لاړو، د دوی او د کلنټن د استازو خبرې اوشوې، ولي خان دا ټول بحث په يو ورکوټي پېغام کښې را غونډ کړو او وې لېږلو.

چې ما خپل کور ته راوستو، نو راته يې اووې، چې بحث خو ډېر تفصيلي ؤ، خو ما ورته اووې چې زمونږ د امريکې سره څه دښمني نشته، خو امريکه دې دومره اوکړي، چې دا اومني، چې زه ګوجر يم، که طالب که کميونسټ يم، خو دا ورشو زما ده، په دې ورشو کښې دا مېښه چې څرېږي، دا هم زما ده، زما په اوږه چې لوړ دے، چې چا راکړے دے، په دې خپله مېښه او ورشو ساتم، ددې نه چې څه راځي، هغه زما د قام دي، که څه زيات شو، نو خېر دے، هغه به ستاسو په رضا چاله ورکوم.

يو څومياشتې پس هم دغه استازی د بابا سره برمنګهم کښې بيا ملاؤ شول، زه ورله لاړم خبره يې راته اوکړه چې په افغانستان حمله کېدونکې ده، ما اووئيل، بابا تابه

په کښې کم از کم د ډېرونډ د کرښې شرط خو اېښودے
ۇ. زما سره د افغانستان پوهان سنګرمل هم ۇ. بابا زه
خان ته نژدې کړم، سنګر مل صیب یې مخاطب کړو، دے
بالکل لېونے دے، غنی پرې تیک نوم اېښودے، دے،
زه ورته کوهستانے وایم
هغه ماسره بحث له نه ۇ راغلی، زه یې د خپلې فېصلې نه
خبرولم، هغو پاکستان کښې خپل کار کوی، چې ملایان
ټولګی ګړی، او دلته طاقت استعمالوی.
یو خل یې راله خپل کتاب راکړو، باچاخان او خدایی
خدمتګاری، دا درېم جلد ۇ، ما پرې لپاسه اوکتل،
لیکلی یې وو، خپل ورور خورشید ته، د مینې سره،
عموماً به هغه لیکل «خپل کشر کوهستانی ته» زه
حېران شوم، ما وې بابا پوهه نه شوم، چې زه Promote
شوم او که Demote، ډېر یې اوخندل، اوس مې خپل
میراثی کړې،د ولی بابا د شخصیت ډېر مخونه دی، د
هغې احاطه زما غوندې کس د وس کار نه دے، د ټولو
نه عظیم خاصیت چې په هغه کښې ما لیدلے ۇ، چې به په
خپل یو ورکر کښې یې څه اولیدل،نو د علمی سطح د
لوړتیا به فکر کښې به ۇ، پخپله د علم یوه خزانه وه، یوه
اداره وه، د هلکانو سره به یې ځان د هغو معیار ته
راوستو، د هر کس د پوهې په معیار به یې د هغه سره
خبرې کولې، د ولی بابا مثال د سوات د بائنے غر ۇ، اووه
مخونه یې وو، خو څوک یې یوه وه، هغه ملی وحدت
،خپل واک پښتون داسې نه چې هغه به صرف د غټو
عالمانو کتابونه لوستل، مطالعه د هغه ژوند او خوراک
ۇ، زما غوندې د ورکر کتاب به هم هغه په دومره غور
لوستو، چې بعضی فقرې به یې Highlight کړې، لکه
زما د فکر زولنې، د برطانیه نه زما رساله انګازه (The
Scream) چې په چاکښې به یې ځائے لیدو نو د خپل علم
نه علاوه به ورته یې کتابونه ښودل، د هغه علم حاضر
جوابی او د عقیدې راسخې ما په یو لیډر کښې نه وه
لیدلې، یو محفل ارا شخصیت ۇ، هغه د یو داسې
پارټۍ ارزومند ۇ، چې پښتون سیاست په کښې د
پاکستانی ټرېډیونینزم نه مقدم وی.
په پلار ډېر مئین ۇ، خو هغه له به یې خواب داسې
ورکولو، چې باچاخان خفه هم نه شي، او دے ورته خپل
خیال هم څرګند کړی، یوه ورځ ورته باچاخان اووې،
هلکه ولی! ما اورېدلی دی، چې ته په عدم تشدد یقین نه
لرې، ده ورته ډېره په خوږه او پسته لهجه کښې اووې،
بابا دا ځنګه کېدے شی. خو خبره داده، چې که یو
سړے مې ګرېوان ته لاس کړی، خو زه به یې د زنې لاس
لاندې کړم، چې وروره ګرېوان مې مه تارتار کوه، کښېنه
چې خبرې اوکړو، خو چې سیے راپسې شی، شرموی مې
او چک راباندې لګوی، نو د هغه خو زنې ته لاس نه شم
کولے، خو په یوه ګټه به یې ولم، دغه زما تشدد
دے،باچاخان غلے شو.
یوه بله خبره راته یاده شوه، د اختر په ورځ یو زلمی سره
پټه په سر ترلې وه، د لېونو شان راغے، ولی بابا ته مې
ډېر خوښ یې صرف نن تاله سور سلام له راغلم، کنه
هسې پیپلے یم، باباخپل خوا ته کښېنو، ونیل یې زه خو
هېڅ چا ته نه وایم چې خپله پارټی پرېږدئ، زه خو ورته
وایم، پخپلو پارټو کښې د پښتنو د حقونو اواز پورته
کړئ.ته خبر یې چې ستا پارټی په څه لپاسه ۳۰۰ نوکرو
کښې څو پښتنو له ورکړې ٦ یا ۷ نوکری یې ورکړې،
ځان خبر ساته، ما د ولی بابا د خلې نه یوه پوچه خبره د
یو سیاسی فرد یا لیډر په هکله نه ده اورېدلې ما سوا د
قیوم خان نه!
ولی خان ذهناً او عقیدتاً د پاکستان استېلشمنټ خلاف
ۇ، او دا یې د پښتنو د رنځونو جړ ګڼلو، د هغه د
عقیدې راسخی او علمیت نه استېلشمنټ نه دومره
خبرې چې چرته یې دده ذات وړاندیز نه ۇ کړے او بې
علمه نظریاتی کارکن ته به یې ښه نه کتل.
زما او د بابا عجیبه غوندې رشته وه، کله جنګ کله بې
حده مینه، زما دپاره یو ملی رهبر یواځې نه ۇ، یو
استاذ، کله به یو دوست شو، کله به زه او هغه هم عمره
شو، اوس راته داسې ښکاری، چې دنیا کښې ډېر
یواځې یم،زما د مینې،علم، پوهې، هغه چینه اخر وچه
شوه، او د پښتنو د تاریخ یو باب ختم نشو، بلکې یو
جلد باندې په منونو خاورې واوښتې.
د ځنکـــدن ســـلګی پـــه وارکـــړه
دښـمن بـه خـوا را یخـوی چـې یـار یـې مرینـه
• • •

# د سیاسي کارکنانو او عوامو اخلاقي تربیت




اسرار د طورو

د سیاسي جماعتونو کار دا هم دے، چې د خپلو کارکوونکو او د عامو خلکو تربیت اوکړي، خو دا کار هغه سیاسي مشران کولے شي، چې د هغوی په وړاندې یوه نظریه اویوه مفکوره وي،او د هغې نظریې په رڼا کښې عملي مېدان ته رااوتي وي،یو مناسب عملي پروګرام یې وي، که یو سړے د وقتي عارضي اقتدار دپاره سیاسي هلې ګولې کوي، نو هغه خو د انتخاباتو په ورځو کښې په جلسو کښې جذباتي تقریرونه کوي، د عام سړي د تېرباسلو دپاره د نورو خلکو خلاف دروغ وايي، د خلکو په جامو ختې نولي، د عوامو مذهبي جذبات په چل ول د خان په کار راولي، د ووټ اخستو دپاره پېسه هم استعمالوي، د عوامو او غریبو خلکو ایمان او ضمیر په بیه واخلي دا اخلاقي جرم دې هم اوکړي، او د نورو خلکو اخلاق هم خراب کړي، د ملک په سیاست کښې دروغ دهوکه او بې ایماني په غټه پېمانه کېږي او اوس ځنې خلکو د ضمیرونو لین دین .......... اولید.

کومو لیډرانو چې د قوم د خدمت په جذبه سیاست کولو، هغوی د خپلې ډلې خلکوله اخلاقي تربیت او شعور ورکړے ؤ، خو د دروغو په پایو ولاړ حکومتونو به دغه لیډران جېل کښې ساتل، چې د عوامو نه بېرته وي، او دوی ته موقع په ګوتو ورشي، چې دغه عوام ګمراه کړي، او بیا یې لوټ کړي، که په جېل به او نه شوه، نو بیا به یې اووژل، او د مقتول د قتل په الزام کښې به یې یو بل بې ګناه عوامي لیډر اونیولو، او د

هم د سیاست
قتل مقدمې به یې پرې جوړې کړې. دا
یو انداز دے
په انتخابي موسم کښې د دروغژنو لیډرانو انتخابي
ناړې هم عجیبه وی، چې عوام پرې خان پسې کړی، یو
سیاسي گوند چې عموماً مشران یې د اسلامي فرض
عبادتونو او د اسلامي احکامو د پابندۍ نه عملاً غافل
وو، د مونځ روژې نه بې پروا وو، نشې او مزې یې
عادت وو، هغوی قوم ته دکلمې طیبې او اسلام ناره
اووهله او په دې ناره یې قوم ملک او اسلام درې واړه
اووهل
یو بله پارټۍ د اقتدار د ماڼې نه راپورته شوی لیډر
جوړه کړه، د اقتدار دلاسه لوټ شوے، تالا شوی،

هم اوسېزلے شو، ولې د تاریخ نه عبرت خو بختور خلک
اخلي، د بختورو خلکو ډېر کمے دے
په سیاست کښې د مذهبي او قومي تعصب زهر شته،
خو د لیډرانو فرض دا هم وی، چې ددې تعصب مخ
نیوے اوکړی، د قوم، علاقې او پرگنې سیاسي او
معاشي حقونه اخستل په ائیني طریقو په کار دی،
پاکستان د ژبې نسل او تمدن په لحاظ د یو قوم ملک نه
دے، په قامي اسمبلۍ کښې نمائندگي په ووټ ده، د
کوم قوم ابادي چې زیاته وی نو په جمهوري نظام کښې
به مرکزي حکومت د هغو وی، اوس که تعصب نه وی نو
د وړو صوبو کم شمېره عوام به د خپلو ائیني حقونو ځنې
محرومولے نه شی، او نه به د ترقۍ په نوم داسې

تاریخي حقایق بدلول، د قوم بچي گمراه کول دي، مونږ ته د سکول کالج او یونیورسټۍ استاذ
اووئیل چې د پاکستان تصور د اقبال اجتهاد ؤ، اوس اقبال پخپله پروفیسر تهامسن ته وایي،
نا دا زما تصور نه دے، ما خو د هندوستان په فیډریشن کښې د مسلمانانو د یوې داسې لوئے
صوبې خیال وړاندې کړے ؤ، چې مسلمانان په کښې په شمار ډېر زیات وی، دا د اقبال د یو خط
مضمون دے، اوس چې دا خط زه لولم نو په خپل علم بد گمانه شم، نو داسې به اوکړو چې د
نصاب نه به ټول دروغ لرې کړو، او صحیح او اېغ نېغ معلومات به خپلو بچو ته ورکړو، د
رښتیاو علم قومونه اوچت کړی.

چقیدلی قوم او ملک ته یې د مکر او فرېب سندره شروع
کړه، غربت او لوږو زپلی اولس ته یې د ډوډۍ، جامې او
مکان ناره اووهله، خو کله چې سرے منارې ته اوختلو،
نو بیا د اوږو تږو د حاله بې پروا شو، د نیم ملک یو اخې
واکدار شو، که خپل وو که پردی چې د هغه په مزاج به نه
وو برابر هغه به یې اووژل، د یو منظم جماعت په مشر
یې د قتل د دروغو مقدمه جوړه کړه، چې دې مقدمې مزه
اونه کړه، نو د غدارۍ په الزام یې اونیولو د یوې بلې
مذهبي اصولي پارټۍ امیر یې په جېل کښې بې عزته او
ډېر تنگ کړو، بل راغے دے یې په سولۍ کړو، هغه به

منصوبې عملي کیږی، چې هغه منصوبې کم شمېره
قامونو ته نه وی قبولې، د یو وړور په تباهۍ د بل وړور
ابادي اخر څه معنی لری؟ د حقونو په انصاف تقسیم د
تعصب نفي کوی او انصاف او عدل د ترقۍ
...... ضمانت دے
د ملک تعلیمي نظام او د امتحانونو نظام که صحیح
وی، نو هم به د عوامو او خواصو اخلاقي او سیاسي
تربیت اسان شی، داسې امتحاني پرچې هم جوړېدے
شی، چې په هغې کښې به د نقل فایده نه وی، او دغه
شان به د یو غلط اخلاقي رجحان اصلاح اوشی، په
نصاب کښې غلطې خبرې جمع کول، تاریخي حقایق

بدلول. د قوم بچی گمراه کول دی، مونږ ته د سکول کالج او یونیورسټی استاذ اووئیل چې د پاکستان تصور د اقبال اجتهاد ؤ. اوس اقبال پخپله پروفیسر تهامسن ته وایی، نا دا زما تصور نه دے. ما خو د هندوستان په فیډریشن کښې د مسلمانانو د یوې داسې لوئے صوبې خیال وړاندې کړے ؤ، چې مسلمانان په کښې په شمار ډېر زیات وی. دا د اقبال د یو خط مضمون دے. اوس چې دا خط زه لولم نو په خپل علم بد گمانه شم. نو داسې به اوکړو چې د نصاب نه به ټول دروغ لرې کړو. او صحیح او ایغ نېغ معلومات به خپلو بچو ته ورکړو. د رښتیاو علم قومونه اوچت کړی.

د صحیح علم په برکت به درست فکر او ساهو نظریات په دې ښایسته وطن کښې جوړې اونیسی، قافله به د صداقت په لار روانه شی، او قومونه اولسونه به ښاد او اباد شی، ټولو سیاسی جماعتونو له په علمی منطقی شایسته انداز کښې سیاست په کار دے، که هدف د قوم او اولس خوشحالی وی نو باید چې د اقتدار پره د اختلاف ډلې سره په جرگه مرکه دقومی ترقی گاډی له مخه ورکړی، د اختلاف رایې په سبب د حکومت د بدلولو دپاره د ټاکلی وخت انتظار د مهذبو قومونو لار ده

په دې وطن کښې ډېر خله سیاسی الغاؤ تلغاؤ راغلے دے، حکومتی ډلې وی او که نور گوندونه، د دوی کار داد ے چې د امن فضا اوساتی، که په خبرو اترو یوه مسئله حل شوه، نو دا به غوره وی، که د جلوس او جلسې ضرورت وی، نو د امن عامه ذمه واری دې لیډران او د گوند کارکنان او حکومت په شریکه واخلی، که حکومت دخپلو ایجنسو یا د پولیس او یا د غونډه گانو په ذریعه د عوامو په قانونی مظاهرو کښې تخریب کوی، او د عوامو څانونو او مالونو ته نقصان رسوی، چې احتجاج کوونکی بدنام او ناکام کړی، نو دا رویه د دین او تهذیب او ملکی قانون او اخلاقو په حواله ښه نه ده، که احتجاج کوونکی ناکام شی، نو هغه مسئله خو په ځائے پاتې شوه، دکومې مسئلې دپاره چې په قانونی طریقه احتجاج کېدو، دا مسئله به شدت اختیار کړی، او شدید طوفان به راشی، او داسې تجربې خو شوې دی

د جلوسونو دپاره هم د عوامو تربیت لازم دے، د چغو نارو سورو کاڼو گټو ویشتو، د لارو موټرو دکانونو او سرکاری عمارتونو د سېزلو عمل د سمو خلکو طریقه نه ده، دا اخلاقی تربیت به هم سیاسی مشران عوامو ته ورکوی، سیاسی احتجاج د عوامو دناراضی یوه مظاهره وی، تخریب کاری نه وی، تخریب کاری خو جرم دے، او سیاسی مشران او کارکنان جرم نه کوی، دا خو زمونږ د ټولو ملک دے، دا ملک به ابادوو، دا به نور نه بربادوو،

د هر یو سیاسی لیډر ژبه عوامی، اسانه او شایسته په کار ده، کنځل مار او پوچ سرے د عوامو جلسې ته دخطاب حق نه لری.

د هر یو سیاسی لیډر ژبه عوامی، اسانه او شایسته په کار ده، کنځل مار او پوچ سرے د عوامو جلسې ته دخطاب حق نه لری.

داسې مقرر که چودهری وی که خان وی، که ملا وی، که پیر وی، که ادیب وی، که شاعر وی، که وزیر وی، که صدر وی، د هغه تقریر اورېدل گناه او جرم دے، قوم په چپه خله داسې مقرر یو اځې پرېښودے شی، ځکه چې......

د بازار مداریانو ته ټول خلک نه اودرېږی.

• • •

# د صدر مشرف د کارکردګۍ جاج




صدر جنرل پرویز مشرف په درویشتم مارچ لاهور کښې د مسلم لیګ سل کلیزه دستوره کښې ګډون وکړو، دغه غونډه کښې دده د قیادت ستاینه وکړے شوه، او دا قرارداد منظور کړے شو، چې «مونږ صدر پرویز مشرف باوردی صدر منلو ته تیار یو»، دې غونډه کښې د مسلم لیګ د صدر په حیث د چوهدری شجاعت په قیادت د اعتماد څرګندونه وکړے شوه، دا خو یوه رسمي کاروایي وه.

په حقیقت کښې صدر پرویز مشرف د مسلم لیګ حقیقي صدر دے، او مسلم لیګ د صدر په هدایاتو عمل کوی، چوهدری شجاعت پخپله هم صدر ته د مسلم لیګ په سر د لاس کېښودو خواست وکړو، چې د هغې مقصد دا ؤ، چې زه د صدارت جوګه نه یم.

چې کله صدر پرویز مشرف ته د مسلم لیګ داسې غېر مشروط مرسته او حمایت حاصل دے، داسې صورت کښې چې کله هم انتخابات وی، دې کښې به ګټه مسلم لیګ ته ورکولے شی، او دا د نن نه ښکاره ده چې د باوردی صدر په صدارت کښې به انتخاباتو هم باوردی وی.

که چرې تجزیه وکړے شی، دا حقیقت به جوت شی، چې مسلم لیګ فکر لری او نه نظریه، دا د مفاداتو یا یوه موقع پرسته پارټی ده، چې د هر طاقتور لاس کښې د ګوډاګی کردار اداکولو ته تیاره وی، او دا ددې پارټی د کردار یو خطرناک اړخ دے، او ملک کښې د یو سنجیده جمهوری نظام دپاره یو رکاوټ دے، هر یو فوځی امر د مسلم لیګ په اس سورلی کړې ده.

صدر پرویز مشرف خو هسې خپل وزن د پنجاب په تله کښې اچولے دے، او د کالاباغ ډېم د تعمیر په لړ کښې یې د ضرورت نه زیات د پنجاب د طرفداری خبرې وکړې، او نن هم وخت په وخت د کالاباغ ډېم د جوړولو

خبره ناره کوی، د یو دانشمند صدر په حیث ده ته دې معاملې کښې غیر جانبداره پاتې کېدل په کار وو، بحر حال د یو صدر په حیث موثر دلته دده د کارکردګی او کارنامو او شخصیت جاج اخستل غواړو، چې دے د صدر په حیث څومره کامیاب دے

استحکام، وجود او بقا لپاره دپاره لازمی ګنی، او په دې حواله دده رویه د پاکستان د پخوانو حکمرانانو نه څه مختلفه نه ده، دا الله تعالی ته معلومه ده چې دده په تقدیر کښې د پاکستان څومره وخت پورې حکمرانی لیکل شوې ده، خو داسې ښکاری چې دے زیات نه

A SAT File Cartoon, Updated




صدر پرویز مشرف یو ښه شخصیت لری، دے یو چابک او تندرست بنیادم دے، دے په خبرو اترو کښې تکړه اوتېز دے، د خپل مقصد وضاحت په ښه ډول کولے شی، او اوسه پورې یې د نړۍ د نورو مشرانو سره ښه ذاتی تعلقات جوړ کړی دی، په خاص ډول د دهشت ګردۍ خلاف جنګ کښې په عالمی سطح دده د کردار ستاینه کولے شی، او دا دده ذاتی اثر رسوخ وو، چې د زلزلې زپلو دپاره د ټولې نړۍ نه امداد راورسېدو، دے چې کوم فصاحت او بلاغت لری دا دده یواځینے صفت دے. د صدر پرویز مشرف د خبرو او بیانونو نه دا حقیقت په ګوته کیږی، چې دے خپل وجود د پاکستان د

زیات وخت پورې خپله حکمرانی غواړی او دده دې مقصد کښې مسلم لیګ د مستحکم پاکستان په نوم دده ملګرې ده، چې دے حکمران وی مسلم لیګ به هم په مزو کښې وی.

صدر پرویز مشرف په کلکه دعوا کوی چې ده پاکستان کښې حقیقی جمهوریت رایج کړے دے، که د حقیقی جمهوریت په هکله د صدر پرویز تعریف اومنلے شی، د هغې ارو مرو مقصد به یو داسې جمهوریت وی، چې چرته د فوځ په حکمرانی کښې انتخابونه کیږی او د فوځ د خوښې مطابق د انتخابونو نه مثبت نتیجې حاصلولے شی، او چېې چرته یوه داسې ګرېجوېټ

اسمبلۍ وجود کښې راځي، چې وجود او عدم وجود یې څه اهمیت نه لري، بحر حال د جنرل پرویز مشرف د حقیقي جمهوریت د دعوې سره د نړۍ نور جمهوري قامونه اتفاق نه لري او جکه جوړه خبره داده چې څو پورې فوځ سیاست کښې ملوث وي او د یو حکمران ګوند په حیث په قام او ملک حاوي وي هغه وخت پورې نه جمهوریت قایمیدے او نه ملک کښې استحکام پیدا کېدے شي، که چرې صدر پرویز مشرف واقعاً د ملک او قوم د بقا دپاره ضروري دے بیا به دده نه بغېر ددې ملک څۀ مستقبل وي؟ د قامونو دپاره هېڅوک ناګزیر نه وي البته یو ښه او باکرداره مشر د بې کرداره او غېر موثره مشر نه ښه وي، مونږ دا خبره افسوس سره کوو، چې صدر پرویز مشرف د یو ښه قاید کردار اداکولو کښې پاتې راغلو او په ډېرو حوالو به اخر کښې دے یوناکامه لیډر یادولے شي، د پاکستان د سیاست معمول دادے چې د حکمران کمزورۍ او خامیانې د هغه د رخصت کېدو نه پس ښکاره کیږي، په دا وجه فی الحال د صدر پرویز مشرف هغه ټولې کاروایۍ او فیصلې دده په موجودګۍ کښې د تنقید لاندې نشي راتلے، په کومو چې د تنقید ضرورت دے، او یا دده په موجودګۍ کښې ورباندې پرده پرته ده

د صدر پرویز د صدارت تر ټولو لویه خامي داده، چې ده فوځ ته سیاست کښې یو ائیني کردار ورکړو، او دې سره سره یې د ملک هره یوه محکمه کښې فوځیان داخل کړل، او داسې یې د فوځي او سویلین افسرانو ترمینځه یو د ټکراؤ کیفیت پیدا کړے، کوم چې د ملک د ترقۍ دپاره یونېک فال نه دے، ددې یوه بله نتیجه دا هم ده چې د اولس په نظر کښې د فوځ اهمیت کمیږي، دا یوه عام رائې وه چې د موجوده صدر په وخت کښې د فوځ ادارې ته څومره نقصان رسېدلے دے، دا د ده نه وړاندې د بل یو حکمران په وخت کښې نه دے رسېدلے.

د صدر پرویز یو اهم مقصد د صوبو ترمینځه تعلقات او رشته مضبوطول وو، صدر دې مقصد حاصلولو کښې هم ناکامه په نظر راځي، بلوچستان کښې امن تالاشوے دے، او صوبه سرحد کښې د دهشت ګردۍ په نوم قبایلي سیمو او په خاص ډول د وزیرستان په قبایلي اولس لاس اوچت کړے شوے دے، دا د صدر پرویز د صدارت ښکاره ناکامي دي



په ملک کښې په عمومي توګه د امن او امان حالت د تعریف جوګه نه دے، ډاکې، داړې، شوکې او قتلونه عام دي، د پولیس د کارکردګۍ نه اولس مایوسه دے، عدالتي نظام کښې څه اصلاح نه ده راغلې او د عدالتونو په کمرو کښې دننه بلډې رشوتونه اخستے شي، اګر چې صدر صیب او موجوده حکومت او وزیر اعظم شوکت عزیز پسې پسې خبرې کوي او د خپلې کارکردګۍ تعریف کوي، ولې حقیقت دادے چې د بنیادم احترام څه وده نه ده کړې او دملک یو استوګن ائین کښې درج د بنیادي انساني حقونو څه د عوا نه شي کولے، د پاکستان اولس ته چې ملک کښې څومره تحفظ حاصل دے، ددې نه زیات تحفظ ورته بهر ملکونو کښې حاصل دے.

اگر چې حکومت د ترقۍ او ملک کښې د سرمايه کارۍ دعوې کوي ولې حقيقت ددې برعکس دے. ملک کښې د امن او امان د غير تسلي بخش حالت په وجه سرمايه کار نه راځي. افراط زر کښې اضافه شوې ده او د روزمره استعمال د شيانو په نرخونو د حکومت څه کنټرول نشته. د چينو نرخ د عام بنيادم د وس نه بهر شوے دے. او خبره کولے شي چې دې پسې د اوړو نرخ کښې د اضافې نمبر دے. د ګيس په نرخ کښې بلا جوازه اضافه شوې ده. او د بجلۍ نرخ کښې د اضافې کولو تجويز دے. کوم به چې د ملک په مفاد کښې منظور کړے شي



د صدر پرويز مشرف د صدارت د هر څه نه زياته د تشويش خبره داده، چې وفاقي کابينې کښې ځنې وزيران په ښکاره بدعنوانو کښې دومره ککړ دي، چې عام خلک يې محفلونو کښې خبرې کوي ولې صدر وربانديې سترګې پټې کړې دي. د سندهـ د صوبايي حکومت زياتې وسيلې سرکاري خزانې ته نه بلکې د يو ګوند ذاتي خزانې ته ځي او هر څوک په دې خبره پوهه دي. ولې صدر پرويز په دومره لوئے حقيقت پوهه نه دےو او يا وربانديې خان نه پوهوي. دا ټول هغه حقيقتونه دي کوم چې دده د کارکردګۍ او د يو کامياب حکمران دعوه رد کوي

د حکومتي دعوو باوجود بلدياتي نظام د کاميابۍ او استحکام په لور نه دے روان. او د حکومت نه يو اخې دا دعوه بې جوازه ده، چې بدعنوانۍ په ښکته يا په لاندې سطح ختمه شوې ده. بلکې د اثرناکه حکمرانۍ دعوه هم څه جواز نه لري. ولې چې حکومتي ادارې د وړاندې نه زياتې چټک نه دي او بل د سرکاري ادارو شمېر د خلکو د شمېر نه سېوا دے. ادارې شته او کار نشته. سرکاري دفترو کښې د اولس په کارونو کښې څه اساني نه ده پيدا شوې، او دې نه علاوه بې روزګارۍ او نادارۍ کښې مسلسل اضافه کيږي. د يو ناداره دپاره ژوند په هره يوه حواله يو عذاب جوړ شوے دے. د حکومت دا دعوه سړي ته خندا راولي چې نادارۍ او محتاجي کمه شوې ده بازارونه د خيرمارو نه ډک دي. هسپتالونو کښې د علاج هېڅ اساني نشته. د يو غريب دپاره مرګ اسان او علاج ګران دے. د رحمان بابا خبره چې خبره نه کولو کښې خېر دے

ددې حقيقتونو په رڼا کښې مونږ نه پوهېږو چې د صدر پرويز مشرف صدارت کښې ملک او قام او اولس ته څه ملاؤ شول. اولس د پخوا په شان تش په خبرو غولولے شي، خبره هغه ځائے ته راځي چې کله د پاکستان حکمران خپل ځان مستحکم ګڼي، هغه ته ملک او قام مستحکم ښکاري، د ملک د هر يو حکمران په شان صدر پرويز مشرف هم ځان ددې ملک دپاره ضروري حسابوي، او په خاصه توګه د کشمير د مسئلې په توګه د کالاباغ ډېم مسئله هم د ځان دپاره استعمالول غواړي د ملک د صدر په حيث ده ته دا کتل په کار دي، چې د کالاباغ ډېم په خبره د صوبو او خلکو ترمنځه ناچاقي او خفګان پيدا شوے دے، او دا به بيا هم د خفګان باعث جوړيږي، په دا وجه د کالاباغ ډېم تعمير ته د يوې نظريې شکل نه دی ورکول په کار، او د صدر په حيث د ټولو صوبو د مفاداتو تحفظ دده ائيني ذمه واري ده، خو د ائين سره ټوقې کول او د ائين سپکاوے کول زمونږ د حکمرانانو مزاج دے، او پرويز مشرف په دې بابله څه مختلف مزاج نه لري، دده په وخت کښې ائين هم باوردی شو

ایس ایس روشان

# بلوچستان یوه مسئله ده

په ۱۹۷۰ کښې چې الیکشن اوشو، او بنګالیانو اکثریت واخستو، نو د ملک اصلی حکمرانانو اووې چې دا خو بنګالیان دی، د فکر خبره ده چې هغوی چغې وهلې، چې مونږ بنګالیان یو، نو دوی به وې چې تاسو



پاکستانیان یئ، خو چې هغوی ووټ اوګټلو نو دوی د پاکستانیانو نه بنګالیان کړل، او هله ترې قلار شو، چې هغوی د مشرقی پاکستان نه بنګله دېش جوړ کړو، په

دغه روانه جګړه کښې زمونږ یو پښتون شاعر ددغه ځائے او حالاتو نقشه داسې پېش کړې وه.

**ګرمه سیکه ده چې مې ځاځی د وجدان غوږو کښې ځوک بختور به کړی ګډا په ترانه د غزل**

او دغه سیکه چې ددې ځائے د انسانانو په غوږونو کښې ځځېده، اخر ترې هغه جوړ شو، د کوم چې وېره وه، او بیا هم دغې پښتون شاعر د غزل په یو بل شعر کښې اووې چې:

هر څه مې زار کړه نړې د مينې او وفا په خاطر
د غمې سرې سره د نوري گزارې نه ومه
بنګله دیش جوړ هم شو، او تسلیم هم شو، او بیا ددې طرف د جاګیردارو د خواهشاتو نماینده لیډر حکومت جوړ کړو، د ۱۹۷۰ په روانه لسیزه کښې دلته په دوو صوبو کښې د نېپ او جمعیت العلماء شریک حکومت جوړ شو، خو شاید ددې څائے غیر جمهوری او په سرخنلی قوتونه په پاتې پاکستان کښې هم د جمهوری اصولو پاسداری ته تیار نه وو، نو په بلوچستان کښې یې د مینګل حکومت ختم کړو، او د اپریشن اغاز یې اوکړو، ددغه وخت ددې پاکستان وزیر اعظم د بلوچستان د سردارانو خلاف اکبر بګهټي په استعمال کښې راوستو، او د نېپ سره وابسته سرداران یې بړې اووهل، ولې دا عجیبه خبره ده چې کله هم ددې ملک مقتدرو قوتونو ته ضرورت شی، نو پوره میډیا په حرکت کښې راشی، او دا خبره شروع کړی، چې د بلوچستان درې سرداران دی، چې د بلوچستان خلک د هغوی د سرداری په اور کښې سوزی، ولې کله چې یې حالات سم وی، نو هم دغه سرداران د بلوچیانو اصلی نمایندګان وی، او په دغه صوبه حکومت هم کوی، نو په هغه وخت کښې اګر چې پښتنو شاعرانو هم د هغو غیر جمهوری اقداماتو غندنه کوله، او د بلوچستان د بې ګناه وژلو شوو خلکو په حق کښې یې شعرونه هم ویل، لکه یو پښتون شاعر چې ویلی وو، چې:

زما د ژوند په ښار د سرو ګولو باران وریږی
بې ننګ زړګیه په تا سترګې د جانان وریږی

او دا یې هم ویلی وو چې

چرته لاړې اې د زلفو په تالونو زنګیدونکو
نن په زلفو د صنم کښې د بارودو خوشبويي ده

ولې کوم شعر چې د بلوچستان په هکله حبیب جالب ویلے ؤ، هغه ډېر زیات موثر ؤ، او ابلاغ یې هم په ښه طریقه شوے ؤ، نو اوس به هم خلکو ته یاد وی، هغه ویلی وو، چې

بلوچستان جلتا هے تو پاکستان جلتا هے

نن بیا په بلوچستان کښې دغه لوبه روانه ده، په کومه پارټۍ چې د صدر جنرل مشرف انحصار دے، او په کومه ملک کښې تش په نامه حکومت کوی، هغوی په دې توله معامله کښې داسې خاموش او بې وسه ښکاری، لکه چې هغوی په حکومت کښې نه وی، بس د یو سړی د مرضۍ خبره ده، که او غواړی کمېټی جوړه کړی، څو خبرې اوکړی، او که او غواړی نو د کمېټۍ د ناکامه کېدو یا کمېټۍ د ورانولو اعلان هم ضروری نه ګڼی او خپل کار جاری ساتی، حکومت څه وایی او څه کوی؟ د بلوچستان د دغو علاقو صورت حال څه دے؟ او زمونږ تجزیه نګاران څه رایې لری، د ۲۱ اپریل په اخبار کښې شفقت محمود وایی:

په بلوچستان کښې د بغاوت کیفیت د مخکښې په شان جاری دے، د ریل ګاډی پټلۍ، د بجلۍ او ګېس ترانسمېشن لائینونه او مسلح سرکاری اهلکاران بې د څه وېرې او خطرې نه ویشتلے شی.

په یوه واقعه کښې سېل ته تلونکو کسانو نه یې د نسل او لسانی خطونو په بنیاد رابېل کړی پنجابیان قتل کړل، زمونږ بعضې سرکاری ترجمانانو او د ناقابل مطالعه مضمونونو لیکلو د بېړې پارکولو واله ریټایر فوجیانو د خبرو نه یو خواته د بلوچستان مسئله د دغې صوبې محض د دوو علاقو پورې محدوده نه ده، ددې صوبې په سیاست کښې دیوې اوږدې مودې نه څه نه څه پرېشان کن علامتونه راښکاره شوی دی، خو ددغو علامتونو نشانه اخستل د مسئلې حل نه دے، بلکې اصل مرض معلومول او د هغې جوړې وهستل ضروری دی.

مخکښې وایی چې قبایلی علاقې د همېشه نه نیم خودمختارې علاقې پاتې شوې دی، خو نن سبا دغه خاورې پردی، (اجنبی) غوندې معلومېږی، تشدد او قتلونه هلته روان دی، او د طالبانو قسم جرګې هغلته د عدالتونو د متبادل په طور روانې دی، ریاست دغلته

ناکام غوندې ښکاري. د لويو فوجي حملو نه سېوا هلته نور څه ممکن نه ښکاري. سول انتظاميه هلته په نظر نه راځي، او مسئله اوس هلته د غېر ملکي جنګجو خلکو نه ده، بلکې په قبايلي زلمو کښې اوس د اجنبيت احساس ډېر شويدے، او هم دا احساس اوس بندوبستي علاقو ته هم رسېدلے دے، دا ګڼل يو کم عقل توب دے، چې اور ګنې په قبايلي علاقو کښې لګېدلے دے، نو نوره صوبه به ترې بچ پاتې شي

په دې هکله رحيم الله يوسفزئے صاحب وايي، د جنرل مشرف دغه دعوه زمونږ دپاره د حېرانۍ نه ډکه ده، چې هغه ډېر په اسانه ويلي دي، چې د بلوچستان مسئله په ډېره پرامن طريقه حل شوه، په ۱۷ اپرېل د کراچۍ د سټېټ بېنک په صدر مرکز کښې هغه په يو خطاب کښې دغه دعوه کړېده، او ويلي يې دي، په دې صوبه کښې



امن په مکمل ډول بحال شويدے، په دې موقع هغه دا خوشخبري هم واوروله، چې په راتلونکې څو وختونو کښې د وزيرستان د مسئلې حل هم ممکن دے، خو د جنرل مشرف دا دواړه دعوې داسې خوش کن معلومېږي، چې سړے يې په صداقت يقين نه شي کولے، په بلوچستان او شمالي وزيرستان کښې حالات په اصل کښې ډېر غېريقيني او خطرناک دي، سړے نه شي ويلے

چې دا بيان خو په غلطۍ کښې په صدر مشرف پورې نه دے تړلے شوے؟؟

ليکونکے وايي چې دده د رجائيت نه د ډک دغه بيان ورکولو باوجود، په دواړو ځايونو کښې تشدد اميزې کاروايۍ هم هغسې شروع دي، او په حالاتو کښې د بهترۍ پېدا کېدو اميد بېخي کم دے، دا رشتيا دي، چې په دې دواړو علاقو کښې دغه بحران په مسلسل ډول زياتېدونکے دے

د بلوچستان د مسئلې بعضې تېر واقعات اګرچې څه ښه شګون نه لري، خو حقيقت هم دادے چې نواب محمد اکبر بګټي د ډېره بګټي د قلا نه په صحرانما علاقه کښې په خورو ورو غرونو کښې چې چرته پرې بوټي يا ونه، غنه په نظر نه راځي، هم هغې ته تلے دے، او هم ددغه ځائے نه يې يو پېغام جاري کړے دے، کوم چې يې په ټول بلوچستان او دلرې نه لرې علاقو ته هم خور کړيدے، ددې پېغام صرف عنوان هم ددې واقعې د سنګينۍ نشان دهي کولے شي.

عنوان څه داسې دے، ((بلوچ ساحل و وسايل اور شناخت کيلئے مصروف جنګ سپه سالار نواب اکبر بګټي کا پېغام از کوه بلوچ))

په دې پېغام کښې هغوی رياست او حکومت پاکستان دشمن ګڼلے دے، او په دې يې د فخر اظهار کړے دے، چې بلوچ عوام الناس د خپلو حقوقو جنګ کوي، او د پاکستان غېر منصفانه سياسي او اقتصادي نظام خلاف په احتجاج کولو کښې د پښتنو سندهيانو او سرائيکانو په نسبت زيات متحرک او سرګرم دي، د ۸۹ کالو بلوچ قايد په خپل پېغام کښې بلوچ سرزمين ته بلوچ وطن ويلي دي، او دايې هم ويلي دي، چې د مکران، چاغي، بولان، کاهان، کوهلو او ډېره بګټي هر غر د بلوچ جنګيالو دپاره دپناه ګاه حيثيت لري، او

دښمن په زړه کښې ددې نه وېره پېدا شوېده، ددې پیغام یااپیل مقصد. په اصل کښې د بلوچو ځوانانو دپاره وسله راپورته کول او د خپلې زمکې د بقاء د جنګ ترغیب ورکول دی. مخکښې لیکونکے وایی چې اکبر بګټی دا هر څه په دې یقین کوی، چې د هغه دښمن صرف دطاقت ژبه پېژنی. ځکه دخپلې ۷۸۰ کلومېټر اوږدې ساحلی پټی او ګېس او تېل، سرو او سپینو او د تانبې د ذخېرو د دفاع په غرض بلوچو ته جنګ ورپسر دے. نواب صاحب خپلو بلوچو ته ویلی دی، چې د رېډ انډین په شان په خپل پلرنی وطن کښې د یو اقلیت نه دا ښه ده. چې بلوچ قوم شهادت قبول کړی. هغه د بلوچو دننه موجود میرجعفر او میر صادق غوندې کردارونو والا هم پیشګی خبردار کړیدی، اکبر بګټی غواړی چې بلوچ عوام دې ځان د عراقی کردو. یا چې ګویرا په شان مثال کړی

کومو کردو چې د صدام حسین د کیمیاوی هتیارو مقابله کړې وه، او چې ګویرا هم په یو ځان د انقلاب بځرکی پیدا کړی وو

په دې هکله د ۲۲ اپرېل په مشرق کښې حیدرجاوید سید وایی چې د حالاتو صرف دغه یو تصویر نه دے. کوم چې سرکاری مضمون نګاران، ترجمانان، یا سرکاری مېډیا مونږ ته ښایی، د بلوچستان د قوم پرستو یوه ډله د اسلام اباد د رویې نه په کرکه کښې دی. ولې ددې باوجود هم دوی د وفاق سره دیو داسې حل خواهشمند دی، د کوم نه چې یو جمهوری پاکستان نور هم مستحکم کېدے شی

خو ظلم دادے چې هم دغه ډله یا طبقه په زور دېکه کولے شی، او هېڅوک په دې فکر نه کوی، چې د اعتدال پسندو ډلې هم که سرے دېوال ته اړموی، نونتایج به یې څه وی، په خصوصیت سره په داسې وخت کښې چې دا شواهد هم لاس ته راځی، چې په بلوچستان کښې د امریکې سی.ائی.اې، د افغان خاد او بهارت را تارونه راکاږی، ولې افغانستان یا بهارت د امریکې د مرضی نه بغېر په بلوچستان کښې کوم خفیه کردار اداکولے شی؟ دا یوه داسې بنیادی نکته ده، په کومه چې د زیات فکر ضرورت دے، مونږ به ګېس نه اخلو دا خو داسې طرزعمل شو، کوم چې مونږ د مشرقی پاکستان په وخت کښې اختیار کړے ؤ!!!

رحیم الله یوسفزئی په خپل مضمون کښې وایی چې بعضې قوم پرستو دې طرف ته اشارې کړې دی، چې د بلوچستان مسئله د اولې ورځې نه د عالمی نوعیت مسئله جوړه شوېده. او که چرې د فوجی کاروایی په نتیجه کښې بګټی مری او مېنګل خاندان بلوچستان پرېږدی، افغانستان او اېران غوندې ګاونډی ملکونو کښې په پناه اخستو مجبور کړے شی، نو د مسئلې پیچېدګی به نوره هم سېوا شی.

نجم سیټهی د ۲۱ اپرېل په «مشرق» کښې لیکی چې جنرل مشرف د تېر کل په ورځ د کراچی تاجرانو ته یقین ورکړو، چې د بلوچستان امن بحال کړے شوید ے، او مسئله حل کړے شوې ده، هم په دغه ورځ د ګېس په پلانټ ۱۹ راکټې رااوغورزېدې، او د سکیورټی درې اهلکاران په کښې ښکار شو، او د لاسو ښپو نه خلاص شو، ددې نه یوه ورځ مخکښې مستونګ ته قریب یې پایپ لاین والوزولو، ددې په وجه د قلات او منګوچهر سپلایی کټ شوه، په داسې کښې جنرل مشرف د کومو خلکو نه بې وقوفان جوړول غواړی.

د وفاقی حکومت موقف دادے چې په بلوچستان کښې یوه درمیانه طبقه لګیا ده په وجود کښې راځی، کومه چې د قبایلیت خلافه ده، حکومت په ریاست او معاشرت کښې په مقامی سطح د سردارانو د ځائے اخستو دپاره ددې طبقې مدد کوی، ځکه چې دوی ترقی پسند دی.

هم په دې وجه، د مری، منګل او بګټی سردارانو د بلوچستان د ترقی دپاره د حکومت ددې عظیم الشان اېجنډې خلاف هتیار راخستی دی، دا سرداران په اصل کښې د بهارت د خفیه اېجنسی «را» د اسرائیل خفیه

ایجنسی (موساد) تنخوادار دی، دوی ته بلوچ قوم پرست ویل مناسب نه دی، وغیره وغیره، لیکونکی ویلی دی، د بلوچستان د مسئلې داسې تجزیې کول ډېر نقصونه لري، سوال داده چې د بلوچستان دا شور د ۲۰۰۰ د غیر جمهوری لسیزې په ځاۍ د ۹۰ په هغه جمهوری لسیزه کښې ولې نه راپورته کېدو. څنګه نو ددې تعلق هم ددې حقیقت مطابق خو نه دے. چې د ۹۰ په لسیزه کښې دا کرکجن سیکولر قوم پرستان قبایل په صوبایی اقتدار کښې د خپلې جایز حصې مالکان وو؟

خو ۲۰۰۲ د مخکښې نه دهاندلی زده انتخابونو کښې دوی د سرکاری حمایت یافته، بنه او نظریاتی او د درمیانه درجې ملیانو د اقتدار نه بې دخل کړل؟ دا په وزیرستان فاټا او بلوچستان کښې شور د حکومت د ناقصې پالیسۍ نتیجه نه ده؟ په دې دواړو صوبو کښې په سرحد کښې د اې.این.پی او پی.پی.پی او په بلوچستان کښې بی.این.پی مری او بګټی قایدین ایم.ایم اې د ملا ملټری الائنس په وجه د مینځه لا نهړه. په صوبه سرحد کښې دغه ملیان اوس د جی.ایچ.کیو والوو دپاره یوه مسئله نه ده؟

څکه چې همدغه ملیان اوس په وزیرستان کښې د غیر ملکیانو باغیانو حمایت کوی، او بلوچیان سیاسی طور د سیاست نه لرې کول هم د دوی ګل کاری دی، لیکونکے رایې لری، چې هم په دې وجه ددغه ځاۍ قوم پرستان دوی د بېرونی قوتونو غېږو ته اوغورزول، سوال داد ے چې دې بلوچ طبقې ته چې دا دوی په کوم نظر ګوری دااوس اوس یودم په وجود کښې راغلـه، کومه چې د حکومتی پالسیو خلاف احتجاج هم کوی، اوپه کویټه او نورو علاقو کښې دژوند د مفلوج کولو طاقت هم لری، ولې ددې نه هم بدتر صورت حال داد ے، چې د حکومت ددې ناقصو پالسیو د مهربانۍ

په وجه ده‌غې درمیانه طبقې دغه بلوچ او پښتون ملا د ۲۰۰۷ په انتخابونو کښې په صوبایی اسمبلۍ د قبضې دپاره په زیات مضبوط اتحاد کښې خاید ے شی، څکه نو په هیڅ معامله کښې د جنرل مشرف تدبیرونه او حکمت عملی د یو بل سره مطابقت او سمے نه خوری که چودهری شجاعت حسین او شیخ رشید یا د مسلم لیګ(ق) د یوې پارټۍ په حیثیت دغېرو اترو په عمل کښې دناکامۍ ښکار شوی وی، نو باید چې نورې سیاسی پارټۍ دې طرفته په خصوصیت سره توجه ورکړی، ګنې پښتانه وایی چې په زور ګلی نه ګیږی، او ددې مسئلې نازکی اونزاکت ته کتل که په وخت اونه شی، نو دې خطې ته راپورې وتی قوتونه دلته ډېرې من مانی کولے شی، او ممکن ده چې داخل صرف بلوچستان اونه سوزی، بلکې دا اور نورو علاقې په خپلو لمبو کښې وانه خلی، څکه چې دا ملک یوازې د یوځو قبضه ګرو غټانو نه دے، په دې کښې د بې شمېره غریبانو د وینو رنګ شامل دے، د بنګال د تلو نه پس که هر څو یو پښتون شاعر سوال راپورته کړے ؤ، چې
د کربلا ظلم خو خلک په یزید شته ګوری
ددې خپل دوه تورتې وطن قاتل به چا ته وایو
خو دغې اوازونه بیا هیڅوک نه اوری، او نن هم دا پته نه لری چې دا دغې لوبه چا اوکړه؟



# د جهالت محاذ

لیلا شبنم د پښتو ژبې یوه منفرده لیکواله ده، هغې د یوې پرده دارې روایتی ښځې په حیثیت، هم د ښځې د نکته نظر وضاحت په یو څو مضمونونو کښې کړېدے. نوم یې ورله خوښ کړے دے، **((زه د ژوند په محاذونو وارخطا یم))**، په دې کښې لیلا په څوارلسو مهاذونو د جرات اظهار او جرات انکار ترمنځه په نره جنگ کړے دے، خو نه یې د روایت لمن پرېښې ده، او نه د جهل طرف داره پاتې شوې ده. زه دغه مضمونونه بغیر ددې نه چې د ښځې او سړي ترمنځه د امتیاز کرښه راکاږم، د ټولو د لوستې دپاره پېش کوم، غواړم چې ددې د لیک د فني اړخ نه هم خوند واخلو، او سبق هم ترې حاصل کړو. او د خپلو تعلیم یافته زنانوو د مشکل نه هم خبر شو، دې په دغو څوارلسو مهاذونو کښې شروع د جهالت د محاذ نه کړې ده، د روایت په محاذ، د غیرت په محاذ، د محبت په محاذ، د نفرت په محاذ، د هدایت په محاذ، د شجاعت په محاذ، د قربت په محاذ، د فرقت په محاذ، د عزت په محاذ، د ذلت په محاذ، د غربت په محاذ، د هیبت په محاذ او د وحشت په محاذ یې طبع ازمایي او جنگ کړیدے، د جهالت محاذ یې ړومبے محاذ دے، په دې هکله ستاسو رایې څه ده، دا هم مونږ ته رالیږلے شئ.

ایډیټر (پښتون)

زه چې پېدا شوم، هلته هسې خاموشي وه، څه رنگ چې یوه ستره حادثه یا واقعه وشي، زه فکر کښې شوم چې زه په غلط کاله کښې پیدا شوم، که زما په راتلو دغه خلک خفه شول، ما د خپل کاله په خلکو یو نظر واچولو ادې مې سر ښکته ناسته وه، نورې هم بې شماره زنانه ناستې وې، چا ویل چې دغه بدنصیبه جل په دغه وخت پیدا شوه، چې زمونږ تیره ماته ده، مور چې دخپلو پردو ډکې دی د بدی زور دے، که نر وئ نو زړه خو به مو پرې جوړ وئ

دغه به څه اوکړی، بابا د حجرې په کوټه کښې د مجرم غوندې ناست ؤ، بې شماره سړو ورله تسلی ورکولې ښکاری زما راتلل یو عذاب دے، چې هر څوک پرې خفه دی، زمونږ د خاندان مشر وئیل چې رادرومو څه قصی مو ترې جوړه کړه، خو جل ده ورکه یې کړو خپل خپل کار ته ځان تیار کړئ، خلک خواره شول څوک حجرې ته څوک مورچې ته روان شول، زنانه هم دکاله په کار اخته شوې، زما ادې د غلو غوندې زه پټه په زړه پورې ونیولم. ادې ویل لورې ځان خبر کړه دلته د ښځو دپاره

بې شماره محاذونه دي په هر محاذ يوستره مقابله شي که يومحاذ باندې هم فېل شوې، ټول عمر به مقام حاصل نه کړې، ما د ادې په لوري وکتل. د هغې سترګې د اوښکو ډکې شوې، څو د اوښکو قطرې زما په مخ هم ګزارې شوې، د اوښکو دغه قطرې ګرمې ګرمې وې، ښکارېده چې د زړه په ګرم دوزخ کښې جوړې شوې دي، ادې څه چې وئيل هغه رښتيا وو، ځکه چې ادې خو همېشه رښتيا وايي، هغه خو د خپل اولاد اصلي دوسته وي.

زه د فکر دنيا کښې وم چې خوب زما د سترګو نه تللے ؤ، فکر مې دغه ؤ، چې محاذونه به څرنګ وي، زه به مقابله څرنګ کړم، ادې خو زه خبره کړم خو ما د بابا هم تصديق کړو چې بابا به څه وايي؟

شپه شوه بابا په خاموشۍ زما د زانګو په لوري راغے ادې ته يې غږ کړه، چې دغه جل د چا په څېرې ده؟ ادې ورته جواب کښې وئيل زه وايم چې د تاسو غوندې ښکلې ده، بابا وئيل زه خو وايم چې د خپلې ادې غوندې ښکلې ده، بيا يې اووې چې نامه يې څه ده؟ ادې ويل څه به ورله وايو «ليلا» چې په نظر نه شي، بابا وئيل توره خو نه ده بيا څرنګ شو؟ ادې ويل نه نه نه زما اسان نوم خوښ دے، بيا فېصله وشوه چې هر نوم ښکلے دے، بيا زما نوم واقعي هر څه شو، زما دغه نوم خوښ نه ؤ، خو څه مې نه شو کړے، چې دلته خو د ښځو څه اختيار نه ؤ، زه هم يو جل وم، زړه کښې مې دغه فکر ؤ، چې «د ژوند محاذونه به څه وي؟ زه به څرنګ دغه سره ملاقات وکړم چې دغه مقابله به څرنګ ګرانه او مشکل وي، دغه وسوسه مې په زړه وه، چې وخت تېز روان ؤ، زما د ژوند محاذونه زما قريب نه قريب ترکېدل، زه د لرې نه د هر محاذ په ليدو حېران او پرېشان وم.

يو وار مې بابا ګواښې ناست ؤ، چې زه هم ورغلم هغه په خوږو سترګو وکتل، بيا يې سنجيده غوندې غږ کښې وئيل اوس ته حجرې ته مه راځه، چې دلته خلک وی څه به وايي چې دا ستره جل ده پرده نه کړي؟

زه پوهه شوم چې شايد دغه اول محاذ دے، واقعي ديو جل دپاره اول محاذ حيا، عزت، غېرت، نفاست، انسانيت دے.

فکر مې کړو چې محاذونه به څو وي، څه شمار يې شته؟ يا بې شماره دي، زه ادې پلو لاړم هغه د فکر سمندر کښې هسې غرقه وه، څرنګ چې يو طوفاني شپه کښې يوه وړه غوندې کشتۍ کښې ګوښې مسافر د سمندري موجونو په مقابله کښې سر وي، د هر څه بې خبر وي، که څه فکر وي هغه د خپل ځان بچاؤ وي، ما ادې ته غږ وکړو چې ادې څه سودا دې مل شوې؟ هغې په سنجيده نظر ماته وکتل، وې چې هره مور سودا کړي د اولاد دپاره، زه هم د تاسو فکر کړم، ما وئيل ادې زمونږ بابا خو ډېر جابر دے، بيا د څه خبرې فکر؟

ادې وئيل د تقدير په وړاندې جابر نه جابر سړے هم څه نه شي کړے، بابا خو دې اوس ضعيف هم دے، ما وئيل ادې هسې په دغه مې خبره کړه چې د تا ژوند کښې اول کوم محاذ راغلے ؤ؟

ادې وئيل هر پښتون، د هر قبايلي ژوند محاذونه يو دي، زما ملاقات هم اول ځل د ماشوميت سره شوے، بيا غېرت، محبت، روايت، عزت، شجاعت وغېره سره شي، فرق دغه دے چې د هر انسان محاذ بدل وي، دچا د څه سره چا دڅه سره، زما دعا ده چې د هر محاذ مقابله په غېرت، شجاعت وکړې، د بابا نوم چې په غلط لفظ ياد نه کړې، ګنې بابا دې د مرګ پرواه نه کړي، ځان به مړ کړي، زه اوس په دغه فکر وم چې اول به کوم محاذ راځي؟

* * *

# د بشر په نوم



احمد جان گنبیر

◄ د ټولو انسانانو د پیدایش طریقه یو شان ده. پس هېڅ یو بنیادم په بل بنیادم د خپل پیدایشي فوقیت دعوی نه شي کولی

◄ بچي د هر چا وي په خپل فطرت کښې معصوم دي، بغیر د رنګ و نسل د تمیز څخه د پرورش او متوازن تعلیم و تربیت حقدار دي

◄ د ژوندانه په لویه کښې یو د بل څخه د مخکښې کېدلو خواهش لرل د ژوندانه روح او حرارت دے. هر لوبغاړے د یو شان رعایت حقدار دے.

◄ په دنیا کښې تر دې وخته پورې د نوع بشر د باقي پاتې کېدلو وجه دا نه ده چې دلته د سرو زرو، سپینو زرو او قېمتي کانو انبارونه وجود لري، بلکې یواځینی سبب یې دا دے چې نوع بشر په باقاعده توګه د خپل مثبت محنت پیداوار او د ژوندانه نور لوازمات استعمال کړیدي.

◄ پس د انسان مثبت زیار او محنت حق لري چې د ثروت په نوم یاد شي او مثبت محنت کاره طبقه د دې ثروت د ملکیت حق بجانبه دعوی لري.

◄ مثبت محنت هاغه کار دے د کوم په نتیجه کښې چې د ژوندانه د پاره لازم اشیا په وجود کښې راځي یا بې د طلب مقام ته د رسد صورت نیسي.

◄ زیرو محنت، هاغه مهمل او مجهول محنت دے د کوم په نتیجه کښې چې کوم شے نه را پیدا کېږي، یا په وجود کښې راتلونکے څیز د ژوندانه دپاره لازم نه وي او مضر هم نه وي، د زیرو محنت نعم البدل هېڅ څیز نه وي ګویا د زیرو قېمت زیرو وي.

◄ منفي محنت، هاغه محنت دے د کوم په نتیجه کښې چې د ژوندانه دپاره مضر څیز را پیدا شي. داسې محنت جرم دے او په سر رسونکے یې د سزا مستحق دے.

◄ د کوم مثبت کار د سرته رسولو صلاحیت یوه توانائي ده، توانائي لرل او دکوم خاص عذر نه بغیر ور څخه کار نه اخیستل توانائي ضایع کول دي او په جرم کښې حساب دے.

◄ مثبت محنت په سر رسول فرض دي، د دې فرض ثمر ثروت دے پس د دې ثروت مالک هاغه محنت کار دے د چا د محنت چې دا ثمر دے.

- دا یو چا په ثروت باندي په هر قسم حیله، بهانه، غلا او زبردستي سره قبضه لګول چونکه منفي عمل دے نو دا هم یو جرم دے او د سزا مستحق دے
- د خلکو د ثروتونو د حفاظت ذمه داري چونکه د حکومت په غاړه وي پس حکومت ته د عوام الناس په خوښه دومره اختیارات تفویض کیږي. څو هغه په اسانی سره خپله ذمه داري په ښه توګه په سر ورسولے شي او د خپل کار متعلق پوښتنو ته مثبت جواب ورکړے شي د دي نه علاوه حکومتي اداره کومه مطلقه العنانه اداره نه شي کېدلے. د کوم جماعت د قیادت یا د کوم وطن د ریاست خبره خو لا پر ځائے پرېږدو د ټولې دنیا امارت دي ولې نه وي یو کُل نه دے بلکه د هغې جُز دے او هر یو جز د خپل کل د غوښتنو ما تحت وي

په دي اساس د نیو ورلډ ارډر په شمول د نړۍ د ټولو لویو ورو قیادتونو تر غوږونو داسي اواز او چیغه رسول راته پر ځائے عمل بر ښني چي د عدم توازن شدید ترینو او طویل ترینو دورو د بشري ذهن اب و هوا او خشکه ګرځولې ده ورځخه یې سودایي جوړ کړېدے، د ژوندانۀ حرارت او د شعور رطوبت ورته عامېدل پکار دي. ښائیږي په دي عمل سره زمونږ مریض صحت یاب شي

- نوم ورله هر یو چي ورکړئ، ازم هر څۀ چي وي، د معاملاتو نوعیت یو شان دے، ما د خپل مثبت محنت په وجه سره د خاشاک توانائي جمع کړېده لیکن د اوړو توانائي ته ضرورت لرم تاسو د خپل محنت په اساس اوړۀ جمع کړیدي خاشاک درسره نشته، د لوږي په نوم ضرورت مونږه دواړه یو بل ته راغب کړو، مونږ غواړو چي د خپلو خپلو پانګو څۀ نه څۀ مقدار یو د بل سره تبادله کړو، د حساب یوه مسئله را پورته شوه، چي د اوړو څومره مقدار د خاشاک د څومره مقدار سره تبادله کړو؟ په حقیقت مبني اندازه واضحه او روښانه ده، زۀ چي ستاسو نه څومره اوړه اخیستل غواړم د دغه مقدار اوړو د حاصلولو په سلسله کښي چي تاسو څومره زیار وېستلی دے په هاغه اندازه زیار سره چي ما څومره اندازه خاشاک حاصل کړیدي هغه ستاسو حق جوړېږي

- په دنیا کښي چي تر کومه وخته پوري د مال تبادله په مال سره کېدله معاملات یوه اندازه توازن ته نژدې اجرا کېدل. البته د خینو مشکلاتو د مخ نیوي په خاطر چي د کوم وخت نه سرۀ زر، سپین زر و غیره د مالونو د تبادلې وسیله وګرځېدل معاملات د توازن د نقطې ځخه ښه وریسې لیرې شو، خینې خلکو بلکې اکثرو خلکو سره سرۀ زر سپین زر او جواهرات وغیره مالونه اوبلل، د دوی په قدرتي ذخایرو یې یرغلونه وکړل، د طاقت خاوندانو د کمزورو ځخه وترورل، غلو ور پکښې د غلا بازار ګرم اوساتلو، غرض دا چي د حقیقي تصوراتو په ځائے غیر حقیقي تصوراتو ته لار پرانیستلے شوه
- دا خبره صحیح ده چي زمونږ په سماجي ژوند کښي د پانګې ګردش زمونږ په جسماني نظام کښي د وینې د ګردش مترادف عمل دے، څنګه چي یې منشا او غرض یو دے، داسي یې صحت یو دے، مرض یو دے، مثلا زمونږ د وجود په نظام کښي وینه ټولو لویو او وړو یوټونو ته حسب ضرورت رسیږي او خپله وظیفه په سر رسوي. عمر رسیده یا رنځوري خلیئې د اخراج په مقاماتو سپاري او د هغوی پر ځائے تازۀ خلیې لګوي او داسي نور. اوس فرض کړے زما د بدن زیاته وینه زما یوې پښې(خپې) ته ټولیږي او هلته ایسارېږي زما دغه متاثره پښه، پښه نه پاتې کېږي، بلکې پېتے ورځخه جوړېږي، نور وجود چي د وینې د کموت په سبب کمزورے پاتې کیږي دغه پېتے نه شي ګرځولے په نتیجه کښي زما ټول وجود د خپل ژوند د لاسه ورکوي په سماجي نظام کښي که د پانګې زیات مقدار په یو ځائے کښي ایسار شي هلته کښي افراط زر په وجود کښي راځي. عدم توازن د عدم تعاون سره مخامخ کېږي، که سلسله اوږده شي معاشره د مهلک تاوان سره روبرو کیږي او د تفریط کندي ته لوېږي افراط او تفریط دواړه که څۀ هم مخالف قطبونه دي، لکه لوږه او اغېر دغه دواړه په مرض او نیمګړتیا کښي حسابېږي
البته د صحت یعني روغتیا نقطه د دي دواړو په مینځ کښي ده

- طبقات وو هم. دي هم. او وي به هم. د دوی بنیاد په اعلی شعور او بې مثاله جدوجهد باندې قائمېږي، زمونږ د پرمختګونو سلسله د وېرې او د هیلې په دوه پایو باندې روانه ده. زغلې. څنګه چې د منډې په مقابله کښې د وړاندې وړاندې زغلېدونکي سره دا وېره وي چې چرته په دۀ پسې وروستو را زغلېدونکے ورته را ونه رسېږي. په دۀ پسې وروستو را زغلېدونکے دغه هیله لري چې که لږ شان همت نور اوکړي د تېز قدمۍ په وسیله سره کولے شي خپل ریکارډ قایم کړي

البته دغسې حق هېچاته نه ورکولے کېږي چې د اقتدار او د سرمائې په توره د خپل حریف پښې اووهي. د حرکته یې اوباسي. بیا په دمه دمه خان خائے ته اورسوي او په زړۀ کښې د اول مقام دحصول هیله ژوندۍ وساتي.

په انتخاباتو کښې دې چل او فرېب نه وي، امیر او غریب ته دې یو شان د پرمختګ مواقع حاصلې وي. د اظهار خیال ازادي دې هر چاته حاصله وي.

- په کائنات کښې خاص کر پخپل ذات کښې د ننه د ائین فطرت د مطالعې په وسیله د سماجي امورو متعلق په زړۀ پورې رهنماني حاصلولے شو، خپلې ادارې د فطرت سره هم اهنګ کړخولے شو.

د نوع بشر په ذات کښې غني طبقه هاغه ده د چا د مثبت د محنت له برکته چې انسانانو ته د ضرورت وړ شیان په لاس ورغلي دي او په لاس ورځي

محتاجه او مفلسه طبقه هاغه ده چا چې د خپل زیرو محنت په وجه خپل وخت ضایع کړیدے او عالم انسانیت ته یې هېڅ ګټه نه ده رسولې.

مجرمه او بې ضرورته طبقه هاغه ده چا چې د خپل منفي کوشش په سبب د عالم انسانیت په لارو کښې اغزي کرلي دي

- د نورو د حساب د چېک کولو په سلسله کښې یې زیاته دلچسپي څرګنده کړېده او خپل حساب یې په زړو پردو کښې محفوظ ساتلے دے.

- دروغ ویل غټه ګناه ده کوم چې د نوع بشر واحد وجود په بې شمېره ټکرو کښې ویشي

- انفرادي، قومي او بین الاقوامي مسائل د وسلو په ذریعه نه بلکه د متوازن دانش او ذهانت په وسیله سره په ښه توګه حل کېدلے شي.

- زمونږه ښے لاس او کینه پښه یو یونټ دي، دغه شان زمونږه کینړ لاس او ښۍ پښه بل یونټ شو، په لاره کښې دتللو په وخت کښې یعنې د پیش قدمۍ په وخت کښې دواړه یونټونه یو دبل په ضد عمل کوي یوه پښه په زمکه وي بله په هوا کښې وي. پورته شوې پښه وړاندې خي، په زمکه پرته پخښه وروستو پاتې کېږي دغه شان د لاسونو حرکتونه یو د بل نه مخالف سمت ته وي، دواړه یونټونه یو بل ته کوم نقصان نه رسوي. د ائین فطرت د دې عمل په وسیله په ملکي او بین الاقوامي سطح باندې د حکومت او د اپوزېشن ذمه واریانې په فکر کښې راوستلے شو.

- د طبیعت او مجموعه په مینځ کښې فاصله په کار ده، طبیعت مجموعه د اضدادو ده لیکن هېڅ یو سالم شئے پخپله خپل ضد نه وي، انسان چې د انسان په ضد لوئے اقدامات کوي، دا عمل یې د خودکشۍ اقدام دے حالانکه ضرورت د دې خبرې دے چې د بني نوع بشر ټول قوتونه سره یو وي او د بشریت په راپورته شوي عوامل په شا اوتنبوي او په ځائے د دې چې زمونږ د ژوندانۀ ضد عوامل مونږ لره د خپل تاثیر د لاندې راولي مونږ ورپسې ورپاځېږو او هغه د خپل اثر لاندې راولو. دا به زمونږ عظیمه او قابل قدر فتح وي.

د بهتر تلقین په وسیله مونږ د هر څۀ کولے شو في الحال بشر ته د بشر د اکرام د لارې نشاندهي ضروري بولو.

خان زمان کاکړ قلعه سیف الله

# جنګونه څیرې بدلوي!!!

**زما ناوې سرتوره چرته ورکه پټه ګرځي**
**دا ورا ده او که جنج تیارېدو زما پرې څه**

د اجتماعي ژوند ژواک او تهذیبي و ثقافتي تشکیل ابتداء د انساني ژوند په ړومبنو کښې د یو زبر خواک د خاتمې لپاره وشوه، د ذات له محدودې دایرې نه د شرکت وسیعي ډګر ته راوتل د انسان یو مهم ضرورت ؤ، ځکه چې انسان پرته له ټولنیزې مبارزې او مفکورې نه د وړېښو مسایلو مخنیوے نشوے کولے، د محکومیت او مظلومیت احساس له انساني ژوند سره سم زېږېدلے دے

د انساني حق تروړنې او غصبونې عمل له ادمه تر دې دمه په دوامداره او مستقله بڼه ونیو، د قومي ژوند ژواک او قومي ارزښتونو ادراک چې د انساني ژوند له ابتدا، نه د تهذیبي جنګونو تر فلسفې پورې رارسی، او بیا په نړیواله کچه د ګلوبلایزېشن (Globalization) اصطلاح مومي، نو په دې دورانیه کښې د ځینو قومونو په وړاندې د مرګ او ژوند سوال اېښودل کیږي. او له قومي جذبو او رویو سره یو شانتې لوېې سر راپورته کوي.

ګلوبلایزېشن د انساني ژوند د ارتقاء او معیار په بهیر کښې څه حېرانونکے څیز نشو ګڼلے، د کائناتو په بدلېدونکې ساحه کښې د ژوند ارزښتونه او ضرورتونه حتمي تغیر مومي، خو له بده مرغه د ارتقایي ژوند یا د ژوند د ارتقاء ټول داستان ښکیلاګرو خواکونو د خپل راج او مزاج پورې محدوده ساتلے دے. لکه څنګه چې هر څیز په خپل ذات کښې (اندروني و بیروني) مثبت او منفي اړخونه لري، همداسې د انساني ژوند د افاقیت په اوږدو کښې د ګلوبلایزېشن دا دواړه اړخونه ډېر څرګند برېښي، خو په دې حواله ځینې قومونه د خپل پېچلي او اوږد محکومیت له کبله ددې مثبت اثرات له لاسه

ورکوي او د منفي رويو په ګرداب کښې د خپلو قومي ارزښتونو مړ ژواندے يون په ډېر سخت حالت کښې د محدوديت په پنجره کښې رابندوي

دا محدوديت (Limitation) قومونه وژني او هر قسم قومي رويې او جذبې له منځه وړي، چې هم د ګلوبلايزېشن په سائنسي کمال او انساني معراج کښې داسې شوي دي او هم د ګلوبلايزېشن تر ګډانه وړاندې زمانو کښې دا عمل خپل بشپړيت ته رسېدلے دے، اردوژبې ليکوال ډاکټر سيد محمد عقيل هم د ګلوبلايزېشن و استعماري يرغل ته په يوه ليکنه کښې داسې نغوته کوي، "نن عالمګيريت (Globalization) د انساني ذهنونو د اباد کارۍ(Colonization) لپاره نوې نوې طريقې خپلې کړې دي، تر ټولو ړومبے د يو هېواد يا خاورې اوسېدونکي په زبردستۍ او تشدد له ذهني وېرې سره مخامخ کوي، او مفلوج کوي، بيا يې بېرته خواخوږے جوړېږي او په يو ځانګړي چوکاټ کښې يې اودروي، هم په دې کښې ځينې خلک ړومبے مسلح کوي کيږي او بيا همدغه خلک د خپلې ټولنې او انسانانو په ضد راپاروي او د دهشت ګردۍ يوه فضا جوړوي، په جرمنۍ کښې د فسطائيت(Fascism) ابتدا هم هټلر څه داشانتې کړې وه."

د ګلوبلايزېشن په دې وېرونکي سېلاب کښې د قومي ارزښتونو حفاظت او د قومي رويې ادراک مهم څېزونه دي، په دې سېلاب کښې برخه د يو قومي وجود او قومي پاخون په بڼه اخېستل په کار دي، انفرادي سوچ او انفرادي اقدام په دې لړ کښې کوم مثبت رول نشي لوبولې، د پښتو مخکښانو په وړاندې ګلوبلايزېشن دومره خنډ نه دے لکه د ګلوبلايزېشن وېره......!!!

د ګلوبلايزېشن مذکوره وېره نن ځان ته کومه دايره نه لرې، چې ارومرو دې په دې کښې ورته کوم لايحه عمل وسنجول شي، بلکې دا وېره اوس د انسان او انساني ژوند چاپېره چورلي، په اقتصادي(Economic) چوکاټ کښې خو يې لا ډېر وړاندې تعريف کېدو، او دا يې د اقتصادي استحصال مسئول بللو، زحمت کښانو او مزدور تحريکونو په دې باب ډېرې نعرې سورې وهلې، خو ګلابلايزېشن بالکل زحمت کښانو بالخصوص مزدور تحريکونو ته زيان نه دے رسولے، که زحمت کښان نن هم د سرحدونو د نه منلو خبره کوي، نو په ګلوبلايزېشن کښې هم د سرحدونو په خاتمې پسې متې رانغاړل شوې دي، اوس که د پرنټ او اليکټرانک ميډيا دې تېز او اېښوونکي رجحان ته وکتلے شي، او بيا د قومونو او د قومي ارزښتونو د ګلوبلايز کولو خبره راشي، نو فکر نه کوم، چې له قومي ژوند ژواک او ارزښت نه بې خبر خلک دې د خپل قام يو مثبت برخليک وټاکلے شي، نن د دې خبرې اعتراف زه په ډاګه کوم، چې دا يو بېداره وخت دے او په دې کښې بېدار ذهنيت او بېدار سېستمونه ځان مستقل او مستحکم ساتلے شي، نن برلاسي طبقې د پرنټ او اليکټرانک ميډيا له لارې داسې جنګ ته دوام ورکړے دے، چې په کښې محکوم او لاندې قومونه په تيندک پسې تيندک خوري، دوي که هر څو دې ته د انساني پرمختګ او ودې نوم ورکوي، خو زه دې پايلې ته رسېدلے يم، چې دا ګلوبلايزېشن د سامراجي يلغار يو داسې شکل دے، چې په خندا او لوبو کښې له سرې نه کالي اوباسي، تهذيبي يرغلونه دا مهال داسې پړاو ته رسېدلي دي، چې په ډېر کم وخت کښې ډېر ستر ارزښتونه له منځه وړي، خو د پښتو ژبې په حواله زه ډېر خوشبين يم او دې ته ورته تاثر اظهار ما په تېر مضمون کښې هم کړے ؤ، پښتو په تاريخي لحاظ يوه داسې بډايه ژبه ده، چې په ډېرو سختو شپېو کښې يې د ځان دفاع کړې ده، او ځان يې ژوندے ساتلے دے، ان دا که ووايم چې پښتو د نړيوالو بډايو ژبو په صف کښې راځي، د دې کرېډټ د پښتو هغه حقيقي مقصديت ته ځي، چې پښتو د خپل ذات د ننه هم ژبه ده، هم قانون، هم فلسفه او هم رويه........!!

خو بيا "که ورانه ده له خانه ده" ځکه چې ځينې ښاغلي محققين په دې اند دي، چې پښتو ته دې نوي توري

جوړ کړے شی. دا د پښتو په بداینه کښې ښه رول لوبولے شی. خو زما په خبر د هر خلک به له دې دریخ سره موافق نه شی. یوه داسې ژبه چې بې له کوم سرکاری او باداری سپورټ نه په زرګونو کلونه ځان ژوندے ساتلے شی. نو بیا دا څنګه کېدے شی. چې په دې ژبه کښې دې د څه کمے پاتې وی. پښتو د نړیوالو ژبو په هغه قطار کښې راځی. چې بې حده بداینه لری. خونه پوهېږم چې ددې ښاغلیو دا دریخ به د کوم شالید زېږنده وی.دوی دا اړتیا د ګلوبلایزېشن په وېره او ښکېلاک کښې محسوسوی. او دې ته د ګلوبلایزېشن یوه غوښتنه وایی. خو زما په اند پښتو ته یوازې او یوازې د پښتنو اړتیا ده. دا مهال پښتو او پښتون یو له بله ورک دی

د ګلوبلایزېشن په دې چکر کښې د پښتون ذهنیت او عظمت د پر ښه رول لوبولے شی. او ځان په دې سیالۍ کښې سیال ګرځولے شی. خو له بده مرغه دلته مذهبی ښکېلاک او ښکېلاکګر د هر قسم قومی هڅې او ترویج و ترقی په مخ لاس راکاږی. پښتون د هغو بدمرغو قومونو په قطار کښې راځی. چرته چې مذهب د قومی ارزښتونو خلاف په کار راوستلے کیږی. او چې کله مذهب د قومی ارزښتونو په وړاندې لکه د دېوال اودرېږی. نو هلته د پرمختګ او ودې احساس د خاورو نذر شی

پښتو ادب. سیاست،ثقافت او ژوند ژواک له شروع راهیسی په دې اور کښې ساه اخلی. دې اورته بیا بیا لښتکے او پوکے د استعماری طبقې په زور ورکول کیږی. چې ورسره جوخت سرکاری اېواډ یافته شخصیات هم ملګری دی. دا ډرامه پېړی پېړی سر په سر اوښتې ده. او دا دے اوس د ګلوبلایزېشن په جامه کښې ځان څرګندوی. په یوه داسې تولنه کښې چرته چې انسانی و قومی ارزښتونه د ځانګړو خلکو په ولقه کښې پاتې وی. نو هلته د ګلوبلایزېشن د ثمرې تمه څنګه کېدے شی. له ګلوبلایزېشن نه چې د کوم نوعیت څیزونه زېږېدلی دی. هغه تول نن برلاسې طبقه د محکومو قومونو په خلاف د هتیار په توګه استعمالوی. له دې دومره اوږدو دعوو او عالمی پروپېګنډو باوجود پښتو نن هم په تعلیمی ډګر کښې د پښتون د بچی ژبه نه منل کیږی. او په هغه ژبه ورته د ژوند چل ښودلے کیږی. چې ګته یې کټ مټ د سرمایه دار،چوهدری، خان. نواب او بېوروکرېټ منګلو ته رسی. په توله دنیا کښې د اقوام متحده د چارټر مطابق د مورنو ژبو عالمی ورځ نمانځلے کیږی. خو پښتون تر اوسه هم له دې حقیقت نه پټې سترګې ساتلے شوے دے. په اسلامی جمهوریه پاکستان کښې خو سر عام ددې ورځې (۲۱ فروری) ارزښت زخمی کیږی. او حکمرانان بیا بیا د خپل پخوانی دریخ څرګندونه کوی. چې ګواکی اردو او اسلام د پاکستان بنیادی عناصر دی. د قومی حق ترورنی او ریاستی جبر دا تسلسل د پاکستانی تاریخ برخه ګرځېدلې ده. او پاکستان په هره موقع د خپل دې خیال اظهار کړے دے. په ۲٤ مارچ ۱۹٤۸ د ډهاکه یونیورستی په سالانه کنونشن کښې قاید اعظم بنګالیو زده کوونکو ته د خپلې وینا پر مهال وویل. چې د پاکستان قومی ژبه به یوه وی او هغه به وی اردو ،اردو اردو.

هم په یوویشتمه فروری ۱۹۵۲ کښې پاکستانی فوځیانو د قاید اعظم د خبرې د عملی کولو لپاره د مشرقی پاکستان پر طالب علمانو ډزې وکړې. هغوی ددې لپاره راپاڅېدلی وو. چې بنګالی دې سرکاری ژبه وګرځولے شی. د پاکستان هر حکمران چې راغلے دے. نو هغه د ملک په ډېرو ګنو او پېچلو معاملو غږېدلے شی. خو چې کله خبره د مورنی ژبې د حق راځی. نو دوی بیا د پاکستان بقا او مقاصد رامنځته کوی. او هم په دې لړنتوب کښې د قاید اعظم "سېکولر سټېټ پاکستان" ترې "نیا پاکستان" شو.

هلته په افغانستان کښې هم له پښتو سره دغه سلوک جاری ساتلے شوے دے. تېر کال "د هوسی. "مجلې

مسؤل مدير صالح محمد صالح تش په دې وهل شوے تکول شوے ؤ، چې ولې په مجله کښې پارسی نه خپروې، دا هم د تهذيبي جنګونو يوه بېلګه ده، داسې سازشونه د افغانانو له خوا څخه نه بلکې د ايراني کلتور و فرهنګ په نغوته ترسره کېږي، همدا وه ګلوبلايزېشن ته رنګ ورکوي

په عالمي افق د بيان د ازادۍ (The Freedom of Press) ډمامه له ډېره وخته غږېږي، خو که دا حقيقت په اصلي معنو کښې وکتلے شي، نو د بيان ازادي تر اوسه هم نشته .دا ادراک مونږ له دې نه لګولے شو، دلته په پاکستان په بهر نړۍ کښې همدغه زېږبخونه کيسه شتوالے لري، کښې چې کومې ورځپاڼې خپرېږي، نو په هغې کښې زيات شمېر رسنۍ تر يو ځانګړي فشار لاندې ښکاري، په وزيرستان کښې له تېرو دوکلونو نه فوځي اپرېشن دوام لري، هلته چې کومې وران کارۍ شوې دي، نو له هغې تر اوسه عام وګړي خبر نه دي، ډېر ځله پر خبريالانو قاتلانه حملې شوې دي، او ډېر خبريالان وژلے شوي هم دي

خو حکومت اوس هم ددې پړه پرترهګرو شبکو وراچوي، په بلوچستان کښې چې کوم فوځي اپرېشن روان دے، په دې باب هم مېډيا بالکل خاموشه پاتې ده، پرته له يو دوو دريو نه نورې ټولې ورځپاڼې له حقيقت نه ډډه کوي، په دې اپرېشن کښې چې څومره وران کارۍ شوي دي، يا څومره خلک وژلے شوي دي، ددې حقيقت تراوسه هم نه دے په ډاګه شوے، چې يوه ژوندۍ بېلګه يې د انساني حقوق کمېشن (HRCP) ټېم متاثره علاقو ته نه پرېښودل وو، په رومبنۍ ځل دا ټېم بېرته واپس کړے شوے ؤ، په دې موقع چې د کمېشن چرمېنې اغلې عاصمه جهانګير کوم بيانونه ورکړي دي، له دې نه په ښه ډول څرګندېږي، چې په پاکستان کښې کوم کوم څيزونه ازاد دي؟

څو هفتې وړاندې په کوئيټه کښې د افغان ټي وي چېنلونو پر ننداري د حکومت له لوري بنديزونه ولګېدل، دوی دا دليل ورکاوه، چې په دې ټيلي وېژنونو کښې پاکستان ضد فعاليتونه ترسره کيږي، او پر پاکستان تورونه لګوي، اوس که د مېډيا ازادي رښتيا هم شته، نو په کار ده چې دا چېنلونه بند نه کړے شي، او دا ټول څه پر منظر عام راو ړلے شي، بيا ددې خواب وويلے شي

دلته خبريالانو ته هېڅ قسم تحفظ نه دے ورکړے شوے، زيات شمېر خبريالان اوس هم د فشار له کبله په ډېرو څيزونو سترګې پټوي، تش هغو رسنيو د "ازاد صحافت" په نوم بازار ګرم کړے دے، څوک چې سرکاري او نيم سرکاري حيثيت لري، دا ټول اکېډمو روزلي او له سرکاري هالونو نه راوتلي د تورو کوټونو او اوږدو اوږدو خطابونو څښتنان دي، دا تنخواه دار سرکاري او نيم سرکاري ژورناليستان نن د پرنټ او الېکټرانک مېډيا توښې دي، هر خواته چې ګورې، نو په کښې همدغه څو نومونه ښکاري، سړے به داسې فکر کوي، چې ګواکې ادب، سياست او صحافت په دوی پورې ژوندے دے، د فن او فنکار دغه خرېدوفروخت نن ډېر عام شوے دے، ډېر د مچ وزرونه په کښې غرونه شول، چرته چې قلمونه او لفظونه خرڅيږي، هلته به د ژوند نور ارزښتونه په کوم پړاو ولاړ وي، دغه پروفېسر، څېړنمل، څېړنوال، پوهنمل، پوهنوال وغېره ښاغليو خو ټول څه د سرکاري سندونو او اېوارډونو په خاطر تالاترغه کړل، دا مقدس سندونه او اېواډونه دوی ته صلا بلا نه دي ورکړے شوي، بلکې دا د ادبي بزنس په اوږدو کښې ورته مېلاؤ شوي دي، او د دوی لفظونه او قلمونه ډېر قېمتي هم دي، ځکه چې ورته ددې هر څه اجرت په بندو غونډو او ون ټو ون ملاقاتونو کښې ورکول کيږي، د دوی دې ادبي منافقت او منافق ادب ته بايد د ښاغلي اکرام الله ګران ددې شعر په رڼا کښې وکتلے شي.

## د فن د خرڅ هنر مو زده نه کړلو
## ددغې ګټې کاروبار نه راځی

اوس که یو خوا د ګلوبلایزېشن دې نړیوالی وېرې ته وګورو او بل خوا دې ریاستی جبر، پاکستانی ښکېلاک، ادبی تجارت، او صحافتی(Fiction) ته وګورو، نو سړے له دې افسوسناک منظر سره مخامخ کېږی، چې استعمار او استعماری استازی څومره چالاک دی، چې هم د ملک خرید وفروخت کولے شی، هم د لیکوال، هم د ژورنالېستې......!!

دا لوبه ډېر اوږد تاریخی شالید هم لری، چې په موروثی توګه د نن پاکستانی جرنېلانو او ښکېلاکګرو ته سپارلے شوے ده، دلته که د پښتو او پښتون ملګری شته، نو ټول هغه خلک دی، چې د غریب ژوند په اوږدې مزدوری کښې د وجود له سپېځلو خولو نه چې په دې کسمپرسی کښې څه جوړوی، نو هغه د ځان د ښایست په ځائے د پښتون او پښتون په ښایست لګوی، پښتو همدې غریبې یاری تر دې ځایه رارسولې ده، چې نن ورته د ګلوبلایزېشن په دې قبضه ګیری کښې هم د زرغون پوښو شوندې اوچې دی.

ګلوبلایزېشن زما په اند یو استعماری سوال دے، چې په کښې د محکومو قومونو حال احوال اخیستلے کېږی، او د هغوی اصل پېمانه معلومېوی، د خپلې دې خبرې د تائید لپاره د افراسیاب خان خټک یو دوه شعرونه راوړم

وختونه پښنه نیولی شول یو سوال کوی زمانه
دې دورد مغلتیا کښې د پښتو ملګری شته!؟
دا باد د زمانې چې مونږه چیری هسې نه ده
دا ګوری چې په مړو ایرو کښې سره بڅری شته!؟

• • •

رحمت شاه سایل

چې سپرلی سبزی د لمبو په زړه به څه تیریږی؟
د ګل دامانو ګل مېرو په زړه به څه تیریږی؟
یو حقیقت هم چې په سلو پردو نه پټیږی
د فن پارو او افسانو په زړه به څه تیریږی
د پښتنو سترګې چې خوښے د فرشتو زده کوی
خدایه د ژوند د تماشو په زړه به څه تیریږی
چې وطن جېل شی، شی بندی په کښې ګناه د جمال
د محبت د لېونو په زړه به څه تیریږی
ګلاب ګلاب خمار خمار سترګې دې پټې کړلې
ستا د ازغو ازغو ښو په زړه به څه تیریږی
چې دے د جام د وېرې رپی، جام دده د ویرې
وایه ساقی! د مېخانو په زړه به څه تیریږی
چې زلمی ژوند ګڼی ګناه، پېغلې نازونه ګناه
سایله ستا د ترانو په زړه به څه تیریږی

### مینه

س-و-س-سحر

دا د مینې نزاکت دے
که زما اخلاص بې درېغه
چې لحظه لحظه مې خیال کښې
هم هغه خنګ کښې اوسیږی
په لېمو مې راخوریږی
د زړه وېخ ته مې کوزیږی
رانه مخکښې روستو کیږی
او احساس مې ترې بوګڼېږی
چې قدم اخلم نو مخکښې
مې قدم نه مخکښې کیږی
که په شا ګورم نو خاندی
له مری نه مې تاویږی
څه سپین سترګے مې جانان دے
څه بې شرمه مې جانان دے
هېڅ حالت کښې مې د خیاله
یو ساعت نه جدا کیږی

# په سائنسي دور کښې د کوترو نوې ذمه داري



جمال

انسان تل د خپلو ضرورتونو دپاره د خدائے د تخلیق کړې مخلوق نه استفادې کړېدی، دغسې يې د کوترې نه هم د خپل ضرورت مطابق کار اخستے دے، دا وفاداره مرغۍ چې په کوم کور کښې عادته شي، نو هر چرته چې لاړه شي، واپس هلته ځان رارسوي، نو چې کله د انسان سره چرته د تلو راتلو ذريعې ډېرې کمې او کمزورې وې، نو هلته يې ددې وفادارې مرغۍ نه کار اخستے دے، د کوترې په ذريعه بادشاهانو يو بل ته پيغامونه ليږلي راليږلي دي، او دا کار يې په ښه ښه کړے دے، ولې د کوترې دغې کار ته چې مئينانو کتلي دي، نو خپلو خپلو مئينو له يې ددې په ذريعه د مينې پيغامونه ورليږلي دي، او دغسې د دغو پيغامونو جوابونه هم کوترو رارسولي دي، ددې وفادارې مرغۍ د پيغام رسانۍ زمانه ختمه شوه، نو هم دغه مرغۍ چا معاف نه کړه، او ددې په ذريعه يې د پوډرو سمګلنګ شروع کړو. پته نه لګي چې دغه کار لاهغسې ددې مرغۍ نه اخستے کيږي، او که نه ددې چا مخ نيوے کړيدے؟

اوس اوس نوے خبر دادے چې امريکه دغه وفادارې کوترې ته يوه بله ذمه داري سپارلې او هغه دا چې ددې په غاړه کښې يو سپک دسته ورو کے جي پي ايس سېټلايټ ټريکنګ ريسيور اولګوي، او دغه مرغۍ به ددې په ذريعه د ماحولياتي الودګۍ جايزه اخلي، يعنې دا به د دغې الودګۍ دپاره د څوکيدار کار کوي، او په دغه ريسيور کښې به معلومات راغونډوي، وايي چې دې ريسيور کښې به مبايل فون هم وي، چې ددې په مرسته به دا د مخصوصو اشارو په ذريعه د مقاماتو نشان دهي هم کولے شي، او ددې وفادارو مرغو په غاړو کښې به ډېرې ورې، بلکې ډېرې زياتې ورې ورې کېمرې هم لګېدلې وي، چې ددې په مرسته يا ددې په زور به هغه دفضا جايزه اخستے شي، ددې کېمرو تيارولو کار شروع شوے دے، چې په کښې به د سم کارډ، نېټ ورکنګ کميونيکشن، چپس، جي پي ايس ريسيور، کاربن مونو اکسايډ او نائټروجن، ډايي اکسايډ پته لګولو والا، سنسرز موجود وي، ددې ټولو الاتو د موجودګۍ باوجود به دغه رکټ دومره سپک وي، چې يوه الوتکې کوتره به يې په اسانۍ د ځان سره بره خېژولے شي، د ماهرينو خيال دادے، چې د کوترو او نورو مرغو په ذريعه به مونږ ته د ماحولياتي الودګۍ د پتې لګولو اسانه او ډېره ارزانه او بې ضرره طريقه لاسو ته راشي، څنګه نو کوترې څومره د کار شے دے؟ او څومره زمونږ په وطن کښې ارزانې دي، په دوه روپۍ جوړه، خو دغسې ارزان خو په کښې انسانان هم دي، دا نه ګورئ چې پردي ملکونه ترې ډک دي.

دګرانې ګرانۍ په دې ملک چې هر څه ګران دي، نو څه څه خو په کښې ارزان هم شته، انسانان او کوترې!



# ژوند قیصې قیصې

د اتم اکتوبر د زلزلې په حواله

اسماعیل ګوهر

سکندر اعظم چې د سوات په نمرخاته طرف، تهاکوټ ته په کومه دره اوړېدلے او د اباسین په غاړه اودرېدلے ؤ، سواتیان هم په دغه لاره سوات نه هزارې ته راغلي وو، سواتیان په دغه علاقه ترکانو سره جنګېدلي وو، خو ښکته د پکلۍ په مېدان کښې د مغلو حمایت یافته ترک ولایت یې بې د جنګ جګړې قبضه کړے ؤ، او هغه داسې چې د سواتیانو لښکر د شپې د تنګ لایې په غر کښې خور وور شو، او ځائے په ځائے یې اوروته بل کړل.لاندې د ګلي باغ ښار د ترک ولایت دارالخلافه وه، هغوی دا خیال وکړو، چې دا یو ډېر لوئے لښکر دے، چې په ټول غر خور پروت دے. سواتیانو د جنګي چال ترمخه د دروزې ډېرې غټې غټې خپلې جوړې کړې، او په سرني خوړ کښې یې پرېښودې

خپلې چې ښکته اورسېدې، نو سمه ورسره دا خبره هم خوره شوه، چې د کوم لښکر خپلې دومره غټې دي، د هغوی مقابله ګرانه ده، او داسې سواتیانو دا ولایت په اسانه لاندې کړو

دا او داسې څه نور ډېر تاریخي واقعات او روایتونه به اخون بابا ګډوډ ځائے په ځائے کله حجره او کله جماعت کښې سپړدل، هغه به چې یوه قیصه راواخیسته نو ورسره به یې نورې ګڼې ورې ورې قیصې غوټه کړې، او په مزه مزه به یې اوروله

هزارې ته د پښتنو د را تګ درې نیم سوه کاله زړه قیصه به یې چې بیانوله او پکښې به د اباسین نوم راغے نو زر به یې درې سوه کاله په بېرته ټوپ کړو ـــ«او هان په اباسین کښې چې پخوا سېلاب راغلے ؤ. او تر اټک پورې د دواړو غاړو کلي یې یوړي وو، خبر یې هغه ځنګه راغلے ؤ؟ ډېر بره د لداخ خواوشا د واورې یو غر اباسین ته خوټېدلے ؤ، او ورته یې ډب اچولے ؤ، پوره

غرمات مياشت اباسين نه ؤ بهېدلے او چې کله د واورې غرمات

مياشت اباسين نه ؤ بهېدلے او چې کله د واورې غرونو خټلے بهېدو»

شو نو اباسين تر نيموئيمو غرونو خټلے بهېدو» اخون بابا ډېر سېلانی سړے ؤ. په ملکونو ملکونو گرځېدلے ؤ. او د ملک ملک قيصې يې په سينه کښې سمبالې کړې وې. او د هغه دغه خوږو خبرو او قيصو هغه په هر چا خوږ کړے او درونډ کړے ؤ. زلمی وو. او که مشران د هغه په قيصو به نه مړېدل. هغه به چې د شهزاده سيف الملوک او بدرجمالې قيصه کوله نو ړومبے به يې جهيل سيف الملوک ته خپل د تګ او هلته د يو قيصه مار کاکا خبره ضرور کوله



«هډو دا قيصه خلکو ګډه وډه کړه، هډو څوک ترې خبر نه دی، چې شهزاده سيف الملوک څوک ؤ، او د کوم خايه راغلے ؤ، تر ناران څنګه رسېدلے ؤ، بس اوس چې خلک د سيف الملوک په ډنډ هاغه سور ډيری قيصه مار نه په پنځه روپۍ څه هم واوری نووايی څه قيصه مو واورېده، ما چې ترې تپوس وکړو چې دا سيف الملوک زوئے د چا ؤ. او د کوم وطن شهزاده ؤ. نو قيصه مار کاکا اووې، د نسب شجره يې چاته معلومه ده. چې ته يې د زما نه تپوس کوے؟ ما ورته وې کښېنه چې توله قيصه ورته زه اوکړم، خو کله هغه چې بلاسره سېلانی جينکی او هلکان وليده نو زه يې په خانے پرېښودم او هغوی پسې يې منډه کړه، چې قيصه ورته واوروی او پنځه روپۍ وګټی.

اخون بابا به د ورځې زيات وخت جماعت کښې او د شپې به حجره کښې ؤ. د څه مودې راسې هغه داګيله کوله چې اوس ورو ورو جماعت او حجرې ته دخلکو راتلل کمېږی ، ژمی کښې چې ښه واوره اووربږی او اخوا دېخوا تګ راتګ ګران شی، نو هله چرې زلمی او ځوانان حجرې ته مخه کوی.

څنګه چې د حجرې ګڼه ګوڼه کال په کال کمېده، دغسې داخون بابا د قيصو اورولو شوق هم کمېدو. که هلکان به ترې چاپېره شول، څه صفت ستائينه بې يې ورله وکړه، نو بس به يې چرې قيصه اورولو ته طبع جوړه شوه، او بيا داسې وختونه هم راغلل چې هغه د قيصو نه لکه ستړے شو، که چا به اووې اخون بابا څه قيصه خو واوروه کنه نو هغه به سوړ غوندې تپوس وکړو، کومه قيصه؟ د څه قيصه؟ اوس ما څخه کوم دی قيصې؟ هغه د قيصو ټول واقعات لکه د ذهن په يو ګوټ کښې لاندې باندې کړی سمبال اينبی ؤ، او د قيصو ټول کردارونه يې په خوارږه خوب اوده کړی وو، اوس به که چا ډېر وې خو بابا به قيصه نه کوله، حجره کښې به چې کومه شپه مېلمانه وو، نو هغه به د قصده تر ناوخته جماعت کښې ناست ؤ، حجرې ته به نه راتلو، چې څوک راته مېلمنو ته د قيصې اورولو اونه وايی.

د اتم اکتوبر په سحر هم هغه د جماعت دالان کښې غرمو ته ډډه وهلې وه، چې ناڅاپه زمکه په خوزېدو شوه، هغه زر پاڅېدو او د دېوال د لاندې نه هيله دوه قدمه لرې شوے ؤ، چې زمکه داسې په جړقېدو شوه، چې هغه

ولاړ تېنګ نه شو او د کښېناستو په کوشش کښې په زمکه اوغورځېدو . يواځې هغه نه ؤ غورځېدلے . هغه سره جماعت،حجره کلے او خواؤشا ټول چمونه يو ځائے غورځېدلي وو . د جماعت د دېوالونو د ملبې د پاسه هغه غورځېدو . پاځېدو او ځان يې ترهاغه دنګ ګټ اورسوو . کوم چې پخوا بانګ وئيلو دپاره جماعت نه بهر په يو اوچت ځائے اېښودے شوے ؤ . او چرته نه به چې تر لرې لرې کلي او چمونه ښکارېده خو داوخت هېڅ هم نه ښکارېده . د دوړو يو طوفان ؤ . چې نظر ته يې لار نه ورکوله . بس چغې وې چې هغه اورېدې او يا د اوچتو شوو دوړو پـه سرسـر مرغـۍ وې، چـې وېرېـدلې، ترهېدلې، او وارخطا پـه فضا کښې الوتې، ځکـه چې ونو،بوټو هغه خپلو شاخونو سره داسې وهلې وې، چې اوس له وېرې ښکته نه کوزېدې، او بيا ورو ورو دوړه د غرونو سرته اوښته او مرغۍ چې فضا کښې ستړې شوې، نو ښکته کوزې شوې، د خپلو کورونو په ملبو کښې د نخښتو او خښو خلکو چغې اوس سړې وې، ژوبل په ځادرو او لوپټو کښې اوچت کړے شول، او تر هيلی کاپټرو اورسولے شول، مړی لس لس او شل شل په يو ځائے خاورو تـه داسې اوسپارل شـول، چې د لسو جنازه بـه پنځو کولـه، پـه هر يو چم کښې دغـه هومره ژوندی پاتې وو . پـه نوم ژوندی، ژوند خو ژوندو سره وی، چې ژوندی نه وو نو ژوند بـه څـه ؤ، خو ژوند ژوند دے، چې د مرګ پنجو نه يو ځل راوځی نو بيا هرې سختې ته تيار شی

ژوندو په پلو پټو کښې د ونو لاندې، د ګټانو پـه ويـخ کښې په ويښه او په وږې خېټې شپې تېرې کړې او د يو نوی ژوند اغاز يې وکړو . څه وخت پس ورو ورو . چمونه لږ لږ بيا اباد شول، د جماعت دالان او دحجرې انګڼ نه ګېرچاپېره مـاتې خښتې او ګټې لاندې باندې کړے شوې، او د دېوالونو شکلونه جوړ کړے شول، جماعت کښې سجدې له او حجره کښې شپې له ووچ واښه خواره کړے شول

اخون بابا پـه دې زلزلـه کښې ډېر جړقېدلے ؤ،د هغه پـه سينه کښې اوده د قيصو ټول کردارونه راويخ شوی ؤ او ځکـه خو هغه ببګـا د مانځه نه پس پخپله هلکانو ته اووې، لـږه شـېبه کـښېنی، دومره زر چې خپلو خپلو تمبوانو تـه لاړئ، نـو څه بـه کـوئ، کـښېنئ چې خبرې اوکړو، زه به تاسو ته قيصې وکړم نور هلکان راغلی وو، چې مياګل چې يوه پښه يې د پلاستک پـه يخ او کلک بوټ کښې ننباسله او د بلې د تلې نه يې لاس سره شګه لرې کوله، ورتـه مخ پـه بېرتـه وارؤ او وې يې اخون بابا



کومې قيصې، هغـه زړې د ښاپېرو او پېريـانو قيـصې، هغه دشهزادګانو او ديوانو د دروغو قيصې، بابا اوس په مونږ دغه قيصې کله لګی،اوس خو مونږ څخه خپلې بلا قيصې دی، د خپلې خاورې او د خپلو خلکو قيصې، رېښتونې قيصې، په خپلو سترګو ليدلې قيصې، د اتم اکتوبر پـه سحر جوړې شوې قيصې د خپلو کورونو د لېنټرو لاندې چق پـه چق شوې قيصې، دسمټو د بيمانو لاندې په منځ دوه شوې قيصې، د سکول د چت د لاندې ايسارې شوې او په چغو چغو بې دمه شوې قيصې، وړې وړې بې اسرې پـاتې شوې قيصې، اخون بابا پـه وينو سرې قيصې، د ټولې هزارې قيصې

اخون بابا! اوس ټول وطن قيصې قيصې دے، ټول وطن قيصې قيصې هر يو غر قيصې قيصې دے،هر يو چم قيصې قيصې، هر چمن قيصې قيصې دے، ټول ژوند قيصې قيصې دے، ټول ژوند قيصې قيصې

# د وخت چغه

محمد عارف خان ساقي کلے ورډګه چارسده پښتونخوا

نن د اتوار ورځ د فروري دولسم تاریخ ؤ، په حجره کښې ناست وم. اخبار مې کتلو. چې مخ ته مې د صدر مشرف بیان راغلو. چې چارسدې ته به ترقیاتي کارونو دپاره لس کروړه روپۍ ورکولے شي، او دا چې د ملک د ترقۍ دپاره به انتها پسندي، دهشتګردي ختمولے شي، او ابي ذخایر بشمول کالاباغ ډیم به جوړولے شي. په دې باندې به د چارسدې یو خو بې ضمیره پښتنو لاسونه پړقولي وي.

خو زه ددې بې ضمیرو نه یو سوال کوم، چې ایا دا صدر رښتیا وایي. ځکه چې کله ده حکومت تراښه کړو، نو ده به په هره موقع دا وئیل چې د ملک نه به کرپشن ختمولے شي. او چاچې د ملک پیسې خوړلې وي، نو هغوی نه به پیسه په پیسه اخستلے شي. او ددې مقصد دپاره نیب اداره جوړه شوه. او دې ادارې په تحقیقاتو کښې ډیر سیاستدانان او بیوروکریټس راګیر کړل، خو لږې ورځې پس د خپلې کرسۍ مضبوطولو دپاره د دوی ق لیګ، (پټریاټ) او د جمالي حکومت جوړ شو، او ټول په کښې نیب زده شامل شو. کله چې دې صدر په اوولسم ترمیم دستخط اوکړو. نو وئیل یې چې زه به ډیره زر وردي کوزه کړم. او ورسره یې د ایم ایم اې د لیډرانو شکریه هم اداکړه، چې دوی په دې ترمیم کښې اهم رول اداکړو. او صدر یې ائیني صدر کړو، خو صدر ډیر زر د خپلې خبرې نه وروستو شو. او بانه یې ملکي حالات وو. هم دغه شان د ملک دشمن منصوبه کالاباغ ډیم په حق کښې چې صدر مهم شروع کړے ؤ، نو په یوه صوبه کښې به یې یوه خبره کوله او په بله صوبه کښې بله، لکه په سندھ کښې یې اوفرمائیل چې زه سندهیانو ته د هر قسم ګارنټي ورکوم، چې ددې ډیم نه به نهر نه شي وېستلے، خو لږې ورځې پس په صوابۍ کښې فرمايي چې د کالاباغ نه به لکي، کرک، بنو او ډیرو ته نهر ورکولے شي، ددې خبرو نه پس زه د چارسدې دې یو څو بې ضمیره قام خرڅي (بې ضمیره او قام خرڅي ورته ځکه وایم چې چا د صوبايي اسمبلۍ ووټ خرڅ کړے دے، او چا د ناظم او د کونسلر ووټ) پښتنو نه دا سوال کوم، چې دا اعلانات به پوره شي، او دا به څوک پوره کوي، بلدیاتي حکومت، صوبايي حکومت او که وفاقي حکومت، ځکه چې دوی ټول یو بل سره وران دي، د هر وخت صدران عمر له پښتانه په دې قسم اعلاناتو دهوکه کوي، په کار داده چې ټول پښتانه خپلې دشمنۍ، تربګنۍ، لالچ پرېږدي، او یو موټے شي، چې خپل حقوق او شناخت تراښه کړي

# پښتانه په منطق وهلې کيږي!



محمد پرورش شاهين

پښتانه چې د نړۍ له ټولو لويو قبيلو څخه يوه لويه قبيله ده، چې د تاريخ د اوږدو راهيسې يې زمکه، ژبه، تاريخ او کلتور ټول معلوم او روڼ دي، او چا چې د تاريخ د اوږدو راهيسې د خپلې دې اثاثې د خوندي ساتلو لپاره تل خپل ژوند په سنګرونو کښې تېر کړے دے، هر وخت د هر غاصب او زورګير مخې ته ډال شوي دي، له کومې د سوبه چې دوي تل دل شوي دي، خو بدل شوي نه دي، دغه وجه ده چې نه چا ورک کړے شول، او نه چا هضم کړے شول، خو دې اوواهه او راکاږه دده قامي ودې او شتمنۍ ته لوئے زيان رسولے دے، او ده په هېڅ ډګر هاغه مقام او حيثيت بيا نه موندلو، کوم چې دده نه دده غوره جغرافيه، غوره تاريخ او غوره جدوجهد کوي، او دغه وجه ده چې دے لا د علم، پوهې، ارټ او فن په دنيا کښې د قامونو يو سيال قام نه دے.

دده د شاته پېدا کېدو يو څو املونه دي، چې بې اتفاقه خو دے او دے، خو د خپل راتلونکي نسل د تعليم او تربيې هم څه خاص پامته داره نه دے، د خپلې هنري او فرهنګي اثاثې د ساتلو څخه بې فکره دے، پخپل وطن کښې د خپلو متو، خپلې سرمايې او خپلې پوهې په رڼا کښې د څه ګټې وټې دکار د پيدا کولو نه ناخبره دے.

او بيا نن خو د منډې دور دے، د مېډيا دور دے، د قلم، کتاب، رسالې، اخبار او کمپوټر دور دے، دغه وجه ده چې نن دنيا د هغه چا ده، چې په دې څيزونو پټ، ماړه او ماموره دي، خو د پښتون کور ددې شيانو څخه خوشے دے، نه دې خبر چې په نړۍ څه تېرېږي، او په ده څه تيرېږي، دغه وجه ده چې دې لا هغه شان غوټۍ دے ګل کيږي نه، او چې ګل نه شي، نو خوشبو به څرنګ پيدا کړي.

يو وخت ؤ، چې تعليم نه ؤ، مدرسه نه وه، قلم او تختى چا نه پېژندل. خو بيا هم باتورنظره باچاخان، پښتون قام له په دغه وخت کښې نه يواځې تختى، قلم او مدرسه ورکړه، بلکې ورسره يې د خپل او بهرنى حالاتو د خبرولو دپاره يې ورله په لاس کښې خپل روښانه ارگن «پښتون» ورکړو، او هم دادغه ارگن ؤ، چې يو بهرنى نړى يې د پښتنو د ژړا او خندا نه خبروله، خو چې نن که يو اړخ ته د پښتون په کاله کښې قدرى تعليم زيات شو، د اخبار اور سالې، تى وى او کمپيوټره خو نن خبر شول، او د لوستونکو شمېر ورکښې زيات شو، نو دے په دې روښانه دور کښې اوده پاتې شو، او ددغه بې

دانگ وهلے کيږى، دده خپل اواز نشته، او په پردى کوم خر پښه اېښې ده، چې ده له چغه وهى، هنه هغه چغه وهى، خو دده دورکولو، شرمولو او چقولو چغه وهى، دغه وجه ده، چې په ده چې څه تيرېږى، د هغې نه بهرنى نړى نه خبرېږى، او دده چغه د کوټې پورې پاتې کيږى دا خو دې خدائے پاک د لوئے ولى قبر د رحمتونو ډک کړى، چې «پښتون» يې بيارامنځ ته کړلو، او هغې ته يې يوه فعاله او تکړه ډله د رحمت شاه سايل غوندې بيدار مغزه او نه تېرے کېدونکے عالم، فاضل په مشرى کښې وټاکله، خو دا «پښتون» لا د عامو پښتنو د لوستو نه دے، ځکه چې لا د نورو ژبو په بدل کښې ورته خپله



خبرى له سوبه دده هره بختوره برخه د بهرنى پرېس او مېډيا په زور ورکه کړے شوه، او دده هره هڅه شنډه کړے شوه، که چرې دده سره خپله يوه چاقه مېډيا وے، نو کوم تحريکونه چې ده د خپل شعور، پوهې او حق په رڼا کښې پاس کړى او کتلى وو، دغه به چرې هم لکه د شنډې غوانه حلالېدل، دے په پوهه خوک نه شى وهلے، په زور يې خوک نه شى وهلے، دے د پرېس او مېډيا په

ژبه، خپل غېرت او خپل وجود نه دے ښکاره شوے، نو په کار داده، چې دا مشران کښېنى يوه داسې فېصله وکړى، چې د يوې ښکلې او لوستو وړ يوه رساله په اردو کښې او يوه په انګرېزى کښې جارى کړى
کوم چې د پښتنو ارګن وى، او د دوى د تاريخ، کلتور او سياست نماينده وى، هسې نه چې د علم لرلو لپاسه د هغې ملا يې په منطق اووهى.

وایي چې یو هلک خپل ډېر وخت په دیني سبق اېزده کولو کښې ولګولو، ښه دیني تعلیم یې بیا موندلو، او لوئې مولانا شو، چې له سبق څخه خلاص شو، او کور ته راغې، نو د نورې خوارۍ مزدورۍ خو نه ؤ، او دده د علم مطابق څه نوکري وه نه، اخر د کور ودانې په مشوره یوې علاقې ته د امامتۍ دپاره لاړ شو، سرې لاړ په یو جمات کښې امام شو، سړے خو ؤ عالم فاضل، تقریرونه یې شروع کړل، خبره یې د قران پاک، حدیث پاک او ښه علم په رڼا کښې کوله، نو څکه یې ډېرو لږو ورځو کښې هر لورې ته چرچه شوله، او خلقې پرې راماتې شولې.

د علاقې نور امامان چې فقط په نوم امامان وو، د قران پاک او حدیث پاک د علم نه نابلده وو، هغوی چې خبر شول، نو یوه لویه غونډه یې د امامانو راوغوښتله، وې غرق شو، تباه شو، سر مو د ورکې دے، دا راباندې څه بلا پېښه شوله، د سړی څه غور په کار دے، کنه دا مزدوری راباندې ورانوی، یو ورکښې اوونیل څنګه به یې غور کوو، اوځنګه به یې ورکوو، مقابله خو یې ګرانه ده، څکه چې لوئې علم لری، قران او حدیث پېژنی، زمونږ سره څه دی، په څه به یې وهو.

په دې کښې یو غږ وکړو، چې بس بې غمه شئ، ماله چل راځی، دے وهلے واخلئ، ټول ورته را غونډ شول، وې هله وایه، څنګه به یې وهو، وې تاسو په علاقه کښې اعلان وکړئ، چې دا ملا دې زمونږ سره مناظره وکړی، او شبه دې راسره وکړی، وې دا څه وایې، شبه او مناظره به کوو څنګه؟ وې دا کار زما کار دے، تاسو بې فکره شئ، په علاقه کښې اعلان وشو، خدائې مو اوبخښه فلانې ملا راغې ګډې وډې وایی، تاسو امیان یې دده په چالاکۍ او ټګۍ نه پوهېږئ، هسې نه چې ایمانونه درله خراب کړی، او له دنیا څخه کافر لاړ شئ، خلک ځائې په ځائې راغونډ شول، چې دا لا څه وایی هغه لوئې عالم دے، او ډېرې ښې خبرې کوی، وې تاسو نه پوهېږئ، که دے لوئې عالم وی، زمونږ سره دې مناظره وکړی، خلکو وئیل، چې څه، دا هم ښه ده، مناظره دې وشی، مناظرې

له ځائې غوره کړے شو، مخلوقاتې راغلی دی، هغه عالم په ډېر اطمینان سره راغلے، دوی ټول دشګو په یو خوړ کښې کېناستل، وې وایه اشنا! بحث ته جوړ یې، وې او د خېره جوړ یم، وې بحث به په څه کوو، وې بحث به په قران او حدیث کوو، چغې شوې، وې لرې کېږه دوکه ماره، دا امیان غریبانان په قران او حدیث څه پوهېږی، بحث به په منطق کوو، وې خلک منطق څه کوی، په حدیث او قران کښې به مشغول شو، وې په دې خو دې دا ساده ګان تېر باسلی دی کنه؟ بحث به په منطق کوو، خلکو هم چغې کړې، وې منطق، منطق ملا صاحب ویل څئ په منطق به بحث وکړو، په دې کښې ورته یو په شګو کښې په ګوته څه غونډه دایره جوړه کړه، او منځ کښې یې ورله ټک ورکړو، وې وایه دا په منطق کښې څه دی؟ وې دا څه دی، په منطق کښې خو دا نه وی، چغه یې کړه، چې ته دا هم نه پېژنی او ته لا وایې چې په قران او حدیث به خبرې کوو، دا د جوارو ډوډۍ ده او دا لپاسه پرې سابه پراته دی، امیان هم څه حېران غوندې شول، چې په دې کښې یو ملا اوونیل یو موقعه ورله بله ورکړئ، په دې کښې یو په زمکه څه کرښې وډې کرښې راښکلې، وې وایه دا څه دی؟ وې دا څه دی، دا تاسو څه کوئ، اوڅه وایئ، وې لرې کېږه، دا د غوایی مچازې هم نه پېژنې، څنګه کرښې وډې دی، په دې کښې امیانو هم چغې کړې، چې دا خو په رشتیا څه نه پېژنی او د امامتۍ څخه یې لاس په سر کړلو.

کورته د شپې ناوخته راغې، د اوبو څښلو نه ورستوورته ښځې وې، راواخله، وې څه؟ وې که څه تنخوا دې راوړې وی، وې تنخوا کومه ده، ته تنخوا ژاړې زما هغه امامتی هم لاړه، وې دا څه وشو؟ وې شبه وه مناظره وه، نو ته خو لوئې عالم وې، ته یې څنګه پر کړې، تا خو قران او حدیث وئیلی دی، وې خرې هغوی په منطق بحث کولو، په منطق یې وهلے یم

• • •

ډاکټر اسرار

# د نوی پاکستان په نوی ائین دستخط ولې؟

کله چې د جناح صاحب پاکستان ختم شو، او باقی مانده ملک ته بهټو صاحب د نوی پاکستان نوم ورکړو، او بیا ئې د دې نوی پاکستان دپاره د ۱۹۷۳ء نوے ائین جوړ کړو، او د هغه وخت د قومی اسمبلی د یو څو نه علاوه ټولو ممبرانو پرې دستخطونه وکړل، او متفقه ائین ورته ووئیلے شو، نو په هغه وخت کښې هم او اوس هم زما په ذهن کښې یو سوال دے، چې ماته یې لا تر اوسه څه مطمئن کونکے جواب چا نه دے راکړے، هغه سوال څه دے؟ هغه سوال دا دے چې که تاته څوک د ۱۹۷۳ء د ائین مسوده وړاندې کړی، چې په دې دستخط وکړه، نو ته به ضرور هغه مسوده لولې او که لوستل نه شې کولے، نو بل چاته به وایې چې دا په دې ائین کښې یې څه لیکلی دی، دا ماته ولولـه او چې تـه د ائـین ړومبنے پیراګراف یا ماده ولولې، یا یې درته څوک ولولې، چې په دې سر کښې لیکلی شوی دی، چې د دې ملک نوم به اسلامی جمهوریه پاکستان وی، او په دې کښې څلور صوبې پنجاب، سندھ، بلوچستان او اېن ډبلیو ایف پی(NWFP) دی، نو ته که څه پوهه او شعور لرې نو تپوس به کوې، چې دا NWFP څه شے دے؟ دا نوم خو ماته منظور نه دے، د نور ائین د لوستلو نه مخکښې دا خبره فیصله کړئ، چې زمونږ یا زما د صوبې نوم څه دے، تر څو چې دا خبره فیصله شوې نه وی، زه په دې ائین دستخط نه کوم، هر لوستونکے دې د خان نه تپوس وکړی، چې هغه به په یو داسې ائین دستخط وکړی، چې د هغه د صوبې نوم په کښې NWFP وی؟
بل په دې ائین کښې د صوبو د خودمختاری او حقونو خبره هم فیصله شوې نه ده، او مهمله پرېښودے شوې ده، نو زما سوال د ټول پاکستان د قام پرستو نه عموماً او د پښتنو قام پرستو مشرانو څخه دا دے چې دوی د ۱۹۷۳ء په ائین دستخطونه ولې کول؟
زما په خیال دا خو دوی یوه داسې لویه تاریخی غلطی کړې ده، چې د معاف کولو نه ده، د دې ازاله به اوس هله کیږی، چې یا خو په دغه ائین کښې ترمیمونه وشی او یا یو بل ائین جوړ کړل شی، چې هغه د قومونو د برابری په بنیاد ولاړ وی، که نه وی نو دا ملک به یو ځل بیا د ائینی بحران سره مخامخ کیږی.



# زما مشران

پروین گل ممبر صوبایی کونسل و ممبر ډسترکټ کونسل نوښار

ما چې کله نه سترګې غړولې دی، نو کور کښې مې یوه خبره اورېدلې ده، هغه خبره د بابا او د خان بابا ده، او په سکول کښې مې هم یوه خبره اورېدلې ده، هغه د قاید اعظم، اقبال لیاقت علی خان، همېشه مې دا فکر ؤ، چې په کور اوسکول کښې دومره فرق ولې دے، کچه ذهن ؤ،همېشه په انتشار کښې ؤ، وختونه تېرېدل، عقل فکر هم ورسره زیاتېدو، په مزه مزه مې په زړه او دماغ کښې دوه خانې جوړې شولې، په یوه خانه کښې اقبال، قاید اعظم،لیاقت علی خان، او بله خانه کښې بابا او خان بابا، یعنې باچاخان او ولی خان، د زړه سکون بیا هم نه ؤ، وخت خپل مزل نور اوکړو،نو لږ لږ خیالات مې بدل شول، کله په تاریخ کښې ایوب خان شامل شو، کله چې یحی خان شامل شو، او چې کله د بهټو دور راغلو، نو د دواړو نامې ختمې شولې، او صرف بهټو پاتې شو، بیا داسې وخت هم راغلو، چې بهټو ختم شو، ضیاءالحق راغلو، نو ایوب خان بیا ژوندے شو، داسې چې کله ضیاءالحق ختم شو، بینظیره راغله،نو ضیاءالحق ختم شو، او بهټو بیا ژوندے شو، خلک هم حېران وو، او مونږ هم ولې چې تاریخ نه خو د فرعون نمرود، هلاکوخان،چنګیز خان نوم هم چا نه دے ختم کړے، نو بیا دلته ولې داسې کیږی، دا هم عجیبه ملک دے، چې کله په تاریخ کښې یو کس راځی او کله بل، اوس مې په دماغو کښې دا خبره واضح شوه، چې په تاریخ کښې باچاخان او ولی خان ولې نشته، دوی چې ددې ملک د ازادۍ دپاره څه کړی هغه ولې دې خلکو نه پټ دی، کله خو داسې هم کېدل په کار دی، چې ولی خان او باچاخان په تاریخ کښې ژوندی وی، او د پاکستان اوسېدونکو خلکو ته دا خبره په ګوته کړے شی، چې ازادی څنګه

راغلې ده، د انګرېز نه ازادي چا ګټلې ده، هغه څوک وو چې په ملک کښې داسې جهل به نه وي چې هغوی ورکښې وخت نه وي تېر کړے

خوزما په خيال کښې يوه خبره راځي، چې تر څو پورې زمونږ په خپلو کښې اتفاق نه وي راغلے، مونږ خپل مشر له خپله عزت نه وي ورکړے،زمونږ دمشر نوم په تاريخ کښې نه شي راتلے،د نن زلمي ته به دا څوک وايي، چې زمونږ دا ملک هم په دوه پښو ولاړ ؤ، او هم دې خلکو ورته يوه پښه پرې کړه، او ځان يې ورته خلاص کړو،دا خبره به نن دې زلمو ته څوک په ګوته کړي، چې کله په مشرقي پاکستان کښې حالات دومره خراب شو، چې خلک د کور نه بهر نه شو راوتلے،په هغه وخت کښې زمونږ نر ولي پاڅېدو اومشرقي پاکستان ته لاړو، دا څه معمولي خبره نه وه، په مشرقي پاکستان کښې خلکو د مغربي پاکستان د خلکو نه نفرت شروع کړو، او نفرت ځکه پيدا شي، چې چا سره ظلم اوشي، او بيا دلته ولي خان ته اوونيلے شو، چې مونږ په خله نه، د ټوپک په خله خبرې کوو. کله چې د ۱۹۷۳ ائين جوړېدو، نو په هغه وخت کښې هغه څوک وو، چې د دې ملک د بقا دپاره يې شپه ورځ يوه کړه، او دغه ائين يې جوړ کړو، ايا نن دې ددې وطن شاه زلمو ته پته ده چې دا کارنامه د هغه وخت شاه زلمي خان عبدالولي خان کړې ده، نه چا ته هم پته نشته، او دې نه هم دا شاه زلمي نه دي خبر، چې په يوڅو ورځو کښې دننه دننه هغه ائين چا مات کړو.

نن مونږ دې حقيقت نه ولې خبر نه يو،مونږ ټول پښتانه چې راغونډ شو، او په دې حقيقت باندې فکر اوکړو، چې ايا زمونږ خلکو دپاره به څوک اواز اوچت کړي، هغه سړے به د پنجاب وي، د سندهـ،بلوچستان او که زمونږ د پښتونخوا او بيا به خپل ماضي ته هم کتل غواړي، چې په تکليف کښې زمونږ څوک په کار راځي، که چرې مونږ دې ته فکر اوکړو، او صرف د کالاباغ مسئله اوګورو، نو مونږ ته به دا خبره لکه د نمر غونډې ښکاره شي، چې اول زمونږ باچاخان عبدالغفار خان په مات ګوډ وجود کالاباغ ته لاړو، او بيا د پښتونخوا په ګوټ ګوټ وګرځېدو، او خلکو ته يې دا خبره په ګوته کړله، چې کالاباغ د پښتون قوم د تباهۍ منصوبه ده، او صرف پنجاب له فايده منده ده، سندهـ او بلوچستان ته هم نقصان دے، د بجلۍ به مدد کښې چې څومره پېسه زمونږ صوبې ته راځي، دا هم زمونږ د ستر ليډر خان عبدالولي خان کارنامه ده، بل څوک داسې يوه خبره دې ښکاره کړي، چې زمونږ خلک ورنه فايده اخلي، داسې ډېرې خبرې چې په دې لړ وخت کښې ليکل ممکن نه دي، مثلاً د ون يونټ مخالفت او بيا ون يونټ ماتېدل، افغانستان او هندوستان سره ښه تعلقات ساتل، چې نن کله سرحدونه خلاصېدل بس چلول په کشمير خبر اترې کول، دا ټولې خبرې زمونږ د مشرانو دي، ګنې دې خلکو په د هلـي جهنـډا هـم لګولـه، کلـه چـې زمـونږ مشرانودا خبرې کولې، نو دوی ورته د هندوانو ملګري ونيـل، اوس هـم هغـه خبرې خپلـه کـوي، د افغانستان جنګ تـه دوی جهـاد ونيلـو، زمونږ مشرانو ورته فساد ونيلو، زه تاسو نه تپوس کومه، چې خبره د چا رښتيا شوه، چې دا ټولې خبرې راغونډې شي، نو يوه خبره ترې جوړه شي، چې زمونږ نوم په تاريخ کښې ولې نه راځي، د تاريخ ليکوالو ته دا خبره ښه معلومه ده، چې مونږ په تـاريخ کـښې غـلا کـوو، داسـې ډېر ظلمونه مونږ سره اوشول، چې په کار دي، چې د تاريخ يوه حصه وي،مثلاً يوه د بابړې واقعه، چې په سوونو خلک شهيدان کړے شول، او دا واقعه هغه وخت اوشوه، چې د پاکستان ړومبۍ سالګره هم نه وه شوې، زمونږ دپاره دا ړومبۍ تحفه وه، چې پښتون قوم لـه ورکړے شوله، زما ددې ټولو ليکلو مطلب او مدعا صرف داده چې د پاکستان په تاريخ کښې دې زمونږ نوم وي، مونږ چې قوم لپاره څه هم کړي دي، هغه دې په ګوته کړے شي، بيا مونږ ګورو چې زمونږ ملګري شته او کنه، مونږ دې قوم له څه کړي دي، او که نه، مونږ حقيقت غواړو، خپل حق غواړو، او مونږ دا خبره په ډاګه کوو، چې مونږ له خپل حق راکړئ، ګنې پښتون خپل حق اخستلے شي، خوشحال بابا وايي:

د افغـــان پـــه ننـــګ مـــې اوتړلـــه تـــوره
ننګيـــالے د زمـــانې خوشـــحال ختـــک يـــم

...



شیخ جهان زاده
باجوړ

# د پاکستان ائین او قبایل

د پاکستان ائین یو داسې تحریری دستاویز دے، چې په هغې کښې د ریاست د مقاصدو، د حکومت د تنظیم، د حکومتی ادارو د اختیاراتو او ذمه وارو او د ملک د هر فرد د حقوقو او فرایضو تعین شوے دے، ائین د مرکز او صوبو دایره اختیار هم واضح کوی، په جمهوری ریاستونو کښې عوام حکومت تشکیل کوی، بیا دغه حکومت د ائین په رڼا کښې بلاواسطه یا بلواسطه عوامو ته جواب ده وی.

په ائین او عام قانون کې فرق دا وی، چې په ائین کښې ترمیم د یو خاص او مضبوط طریقه کار مطابق کیږی، ولې عام قانون د رواجی او عامو حالاتو سره رفتار کوی، ائین د هر انسان د بنیادی حقوقو کلک ضمانت ورکوی، او حکومت د بې ځایه مداخلت نه منع کوی

د پاکستان په سیاسی تاریخ کښې د ائین ځانګړے تاریخ دے، دلته د مخصوصو اهدافو د حصول دپاره وقتاً فوقتاً د ملک ائین معطل کړے شوے دے، یا مات کړے شوے دے، یا ترمیم کړے شوے دے، وغېره وغېره، په پاکستان کښې د سیاسی عدم استحکام او ناقلارۍ غټه وجه داده چې دلته اکثر د ملک د ائین یعنې اساسی قانون نه انحرف کړے شوے دے، د بده مرغه د بعضې قوتونو د مفاداتو او مصلحتونو په وجه وطن عزیز د ائین دپاره یوه لیبارټرۍ ګرځېدلې ده، او په ائین قسماقسم تجربې شوې دی، او لا پرې کیږی به...... دا خو وه د ملک په سطح د ائین مختصر جایزه، راځو په لاندې کرښو کښې د پاکستان ائین او قبایلو ته یوه علمی کتنه کوو، چې قبایل په څومره اوبو کښې دی.

په پاکستان کښې د وفاق زیر انتظام قبایلی علاقو (فاټا) په حواله د ملک په ائین کښې محض درې دفعات داسې دی، چې د قبایلی علاقو د حیثیت، حد بندی، وېش، انتظام او اختیاراتو وضاحت کوی،

د دغه مخصوصو درې دفعو نه علاوه باقی ائین په قبایلی علاقو حاوی او لاګو نه دے، چنانچه د ائین د رومبی دفعې د دویم شق په دریم جز کښې د فاټا د ائینی حیثیت تعین شوے دے، او دا ښودل شوی دی، چې قبایلی علاقې د پاکستان برخه ده او دا علاقې پاکستان

کښې شاملې دي بيا د ائين په ۲۴۶ دفعه کښې د قبايلي علاقو د حدبندۍ او وېش تعين شوے او د قبايلي علاقو په مينځ کښې يو بل نه د بېلتون يوه بله کرښه راښکلې شوې ده، يعنې دا ښودل شوي دي، چې په قبايلي علاقو کښې به مرکزي حکومت سره کومې علاقې وي، او صوبايي حکومت به د کومو علاقو انتظام کوي. هغه دا چې په فاټا(FATA) کښې به کومې علاقې وي او په پاټا(PATA) کښې به کومې کومې علاقې شاملې وي، ورپسې د ائين په ۲۴۷ دفعه کښې داښودل شوي چې د فاټا انتظامي اختيارات به چا سره وي؟ او هغه دا چې د قبايلي علاقو ټول اختيارات به صدر مملکت سره وي،بې د صدر نه بل هېڅوک د قبايلي علاقو په انتظام او اختياراتو کښې هېڅ مداخلت نشي کولے،ښکاره خبره کوو چې د ائين دا دفعه د قبايلو او پارلېمنټ،عدليې او سياسي پارټو په مينځ کښې د ټولو نه غټ روکاوټ او خنډ دے.

دلته څو سوالونه راپيدا کيږي، اول خو دا چې کله د پاکستان په ائين کښې قبايلي علاقې په دې ملک کښې شاملې ښودلې شوې دي،او کومې قومي اسمبلۍ چې دا فيصله کوله نو په هغه قومي اسمبلۍ کښې د قبايلي اولس د نمايندګۍ دپاره څوک ناست وو؟

دويم سوال دا چې په دغه قامي اسمبلۍ کښې د قبايلو د طرفه څوک ناست وو، ايا هغوی د قبايلي اولس حقيقي اوواقعي نمايندګان وو؟

دريم سوال دا چې که پيرنګي د خپلې پاليسۍ (Divide and rule) «وېشه او حکومت کوه» په رڼا کښې پښتانه د يو بل نه بېلول او ټوک ټوک کول يې خو دشمن ؤ، او رشتيا چې د ازادو قبايلو دلاسه يې يوه شپه هم په ارام نه وه تېره کړې. اخر پاکستان خو د ازادو قبايلو په قربانو او جدوجهد جوړ شوے دے، نو بيا ولې پاکستان ته په فاټا او پاټا د قبايلو مزيد وېش او تقسيم ته ضرورت پېښ شو؟

او څلورم سوال دا چې دا څنګه قامي اسمبلي وه، چې يو طرفته خو يې قبايلي علاقې د پاکستان حصه ګرځولې ده، او بل طرفته يې قبايلي اولس ته د نور پاکستان د خلکو په شان برابر حقوق نه دي ورکړي، يعنې دا چې دغه اسمبلۍ خو د ټول وطن دپاره يو شان ائين جوړولو او د ملک د ټولو اوسېدونکو جمله انساني حقوق يې په کښې خوندي کول، خو افسوس چې د قبايلي اولس دپاره يې بل شان ائيني دفعات جوړول او دوی د ټولو مسلمه بشري،شهري او سياسي حقوقو نه محرومول او د دويمې درجې شهريان يې ترېنه جوړول؟

پنځم سوال دا راپېدا کيږي، چې پاکستان خو د ملګرو ملتونو(U.N.O)غړے دے، چې دهغې په چارټر کښې د جهان ټولو اوسېدونکو ته بلا تفريق بنيادي،سماجي او جمهوري حقوق ورکړے شوي دي، ليکن متاسفانه د دې ملک پارلېمنټ د قبايلو پحقله د اقوام متحده د حقوقو د چارټر په ضد فيصله کړېده، او قبايلي خلک يې د جمله حقوقو نه تحريري طور بې برخې کړيدي؟

د قبايلو شپږم سوال او شکايت دا دے چې په پاکستان کښې څو څو وارې سول او عسکري حاکمان په اقتدار کښې راغلل، خو هېچا په ائين کښې د قبايلو د مفاداتو دپاره د ترميم جرات ونه کړو؟ يعنې هر حکومت قبايل د

"د دې ملک پارلېمنټ د قبايلو پحقله د اقوام متحده د حقوقو د چارټر په ضد فيصله کړېده، او قبايلي خلک يې د جمله حقوقو نه تحريري طور بې برخې کړيدي"

حقوقو نه بدستور محروم وساتل؛ نو ایا په مستقبل کښې قبایلي عوام د پاکستان د کوم یو سیاسي یا مذهبي ګوند یا فوجي حکمران نه په ائین کښې د ترمیم یا حقوقو توقع یا امید ولري؟

ددې خبرې اعتراف هم ضروري ګڼو چې د ائین د جوړېدو په وخت د قبایلو د طرفه هغه وخت په قومي اسمبلۍ کښې د قبایلو نام نهاد نمایندګان وو، نو چې کوم تش په نامه نمایندګان په هغه اسمبلۍ کښې ناست وو، هغوی د قبایلو نمایندګان نه وو، بلکې د پولټیکل انتظامیې پیداوار او هم ددې نظام نمایندګان وو، هغوی نه د خپلو خلکو په خوښه او ووټ اسمبلۍ ته تلي وو، او نه یې د هغوی نمائندګي کوله، هغوی اسمبلۍ ته د فرسوده پولټیکلی نظام په زور رسیدلي وو، د خپلو خلکو او خاورې په ځائے یې په اسمبلۍ کښې د پولټیکل انتظامیې نمایندګي او پاسباني کوله، اکثر بې تعلیمه او ناخبره وو، د پارلېمنټ په حیثیت، مقام او اختیار نه پوهېدل، دا ډېره د خفګان خبره ده، څکه خو ددغه قبایلي ممبرانو خاوره د ائین د جوړېدو په وخت کښې تقسمېده، او دوی ورته په غټو غټو سترګو کتل، او دا شان قبایلي اولس د ټولو بشري او شهري حقوقونه محرومېدل او د دوی پرې څه پروا نه وه!

حقیقت دا دے چې فاټا یوه داسې بدنصیبه خاوره ده، او یو داسې سرزمین بې ائین دے، چې ټول اختیارات یې د فرد واحد یعنې صدر پاکستان په لاس کښې دي، صدر دګورنر او پولټیکل ایجنټانو په ذریعه د وفاق زیر انتظام قبایلي علاقو باندې راج کوي.

د حیرانتیا خبره داده چې د قبایلي امورو متعلق صدر مملکت پارلېمنټ ته جواب ده نه دے، دا رنګ ګورنر او د قبایلي علاقې پولټیکل ایجنټ هم د قبایلو په باره کښې هېچا ته مسئول نه دي، اصولاً خو دا په کار وه چې ګورنر په قبایلي معاملاتو کښې صوبایي اسمبلۍ ته ذمه وار وے او پولټیکل ایجنټ د قبایلي ایجنسۍ منتخب ایجنسۍ کونسل یعنې د «ایجنسۍ جرګې» ته جواب ده وے، بس صدر، ګورنر او پولټیکل ایجنټ د قبایلو دپاره هم مقننه ده، هم عدلیه او هم انتظامیه ده، نه دلته د پارلېمنټ بالادستي شته، نه د عدلیې رسایي شته، او نه د څه قانون او ضابطې پابندي بااصوله سول انتظامیه شته، او نه په دغه ملکي ادارو کښې د قبایلي خلکو څه شراکت او حصه شته، بلکې قبایل پخپله خاوره هم بې اختیاره دي او د ملک په سطح په قامي لېول هم د کار او کردار اداکولونه محروم کړے شوي دي. دوی دملک په اهمو ادارو کښې د فریاد حق نه لري، قبایل پخپله خاوره هم د ځان د تپوس جوګه نه دي او نه دوی د ملک په سطح د کومې قومي مسئلې تپوس کولے شي، د قبایلو لاس او پښې ترلے شوي دي.

دلته نن په یوویشتمه صدۍ کښې په تقریر او تحریر پابندي ده، په سیاست او سیاسي پارټو بندیزونه لګېدلي دي، غرض دا چې په قبایلي سیمه کښې میشته قبایلي عزیزان په تورتم کښې د تنهایۍ او قسماقسم مشکلاتو او مسایلو سره مخ دي، داسې ښکاري لکه چې قبایلي علاقې د اسلام اباد واکمنو په زور او ډز فتح کړې وي

رشتیا خبره داده چې د قبایلو په حقله د پاکستان د تېرو یو کم شپېته کالو فیصلې او پالیسۍ د انګریزي استعمار د پالیسۍ تسلسل دے، د پولټیکلي نظام دوام او د ایف سي ار تور قانون موجودګي زمونږ ددې دعوې ناقابل

"صدر د ګورنر او پولټیکل ایجنټانو په ذریعه د وفاق زیر انتظام قبایلي علاقو باندې راج کوي."

تردید ثبوتونه دی

د پاکستان مرکزی، صوبایی او مقامی حاکمان لاهغسې قبایلی مشرانو، او کشرانو ته د سامراج پېرنګی په سترګه ګوری. حالانکه د ۱۹۴۷ نه را په دېخوا د حاکم او محکوم تصور ختم دے. که څوک د ژوند د هرې طبقې سره تعلق لری څو د پاکستان د ټولو برخو اوسېدونکی ددې ملک شهریان دی. نو بیا ولې قبایلو ته د شک په نظر کتل کیږی. مونږ دا اعلان خپل فرض ګڼو نو باید چې د پاکستان واکداران د انګرېز پېښې پرېږدی. او ازادو قبایلو ته د سیالو پښتنو په حیث اوګوری. دوی ته د جدید زمانې او عصری تقاضو سره سم اقتصادی او سیاسی حقوق په پرامن انداز کښې

**"د قبایلو بحقله د پاکستان د تېرو یو کم شپېته کالو فیصلې او پالیسی د انګریزی استعمار د پالیسی تسلسل دے، د پولټیکلی نظام دوام او د ایف سی ار تور قانون موجودګی زمونږ ددې دعوی ناقابل تردید ثبوتونه دی."**

ورکړی او دا شان قبایل تښنے او سبانے ژوند په خوشحالی کښې تېر کړی، او د ترقی په لار روان شی. ضرورت ددې خبرې هم دے، چې قبایلی اولس غفلت او لاپرواهی پرېږدی، بنه بیدار شی، د خپل ایمان، پښتو، غیرت او د خپلو پېښو مسایلو په بنیاد تنظیم او لښکر شی. او حکمرانان دې ته مجبور کړی، چې خپل حقوق ترینه په هسکو سترګو وګټی، تورزن ازاد قبایل، ددوی خوان باشعوره کهول، د هرې طبقې سره وابسطه خلک، د دوی سیاسی پارټی او د معاشرې د خېرښېګړې تنظیمونه په هر خانے کښې او هر مقام چې وی باید په شریکه د پاکستان په ائین کښې په خپل حیثیت د نظرثانی مطالبه اوکړی، او د دې مقصد دپاره ټینګ عزم او جدوجهد اوکړی، چې د پاکستان په ائین کښې هغه دفعات ترمیم او بدل کړی کوم چې د قبایلو د انسانی، شهری او سیاسی حقوقو نفی کوی او قبایلو ته د پاکستان د نوابادی حیثیت ورکوی

پښتون

مونږ د ملک د ټولو سماجی، سیاسی او مذهبی ګوندونو نه دا په کلکه مطالبه کوو، چې هغوی د قبایلو خفګان او مسایل خپل اوګنی، او په دې لړ کښې په اسلام اباد زور او اثر استعمال کړی، چې د قبایلو په باره کښې په اساسی قانون کښې ترمیم اوکړی، ولې چې تر څو په ائین کښې د قبایلو موجوده کمزورے ائینی حیثیت بدل نشی، او د پاکستان د نورو خلکو مساوی ائینی حیثیت حاصل نه کړی، نو تر هغې د ژوند په هیڅ یو شعبه کښې خواه هغه سماجی وی، معاشی وی، سیاسی، انتظامی یا عدالتی وغیره وی، قبایل ترقی نشی کولے او نه قبایل د ملک د نورو خلکو سره د سیالی او برابری کوم تصور کولے شی

د قبایلو دپاره په موجوده مرحله کښې د ټولو نه اهمه، ضروری او فوری مسئله داده چې خپل کمتر ائینی حیثیت بدل کړی، او د نور پاکستان د خلکو مساوی حیثیت ځانته په ائین کښې وګټی. په پوره ذمه واری سره وایو چې په موجوده دور کښې د یو ملک ټولې قانونی، عدالتی او انتظامی پالیسی د هغه ملک د ائین نه راوځی، نو ځکه مونږ په ائین د نظرثانی مطالبه کوو.

د پاکستان په ائین کښې د فاټا سره انصاف نه دے کړے شوے، نو ځکه قبایل پسمانده دی او دلته مسلسل ناقلاری ده، زمونږ په فکر په قبایلو کښې د سیاسی استحکام او مضبوط اقتصاد دپاره واحد علاج په ائین کښې ترمیم کول دی، نو دا به د ټول پاکستان دپاره هم مفید کار وی، تر څو چې زمونږ ائینی حیثیت بدل نشی نو دا ناممکن ده چې زمونږ په قانونی، عدالتی او انتظامی حیثیت کښې څه بدلون راشی

حالات متقاضی دی چې قبایل په خپل مشترک جدوجهد په ائین کښې ځان دپاره خپل جایز او صحی مقام وګټی او د قبایلی اولس دپاره هغه ټول ائینی تحفظات حاصل کړی، کوم چې د نن زمانې د مهذب انسان شایان شان وی




مودې اوشوې د پېښور په هر اخبار کښې هر دویم درېم یا څلورم خبر د قتل، ډاکې او اغوا لګېدلے وی، ددې مخنیوے د سرکار په وس کښې نه دے، او نه شاید دامن او امان مسئله ددې صوبې د خلکو ضرورت دے، ددې ځائے ښاغلی حکومتی واکداران په داسې هېڅ عمل نه د پابندۍ لګولو په پوزېشن کښې دی، او نه ددې حرکتونو د قابو کولو په پوزېشن کښې، که دی نو صرف په دې پوزېشن کښې دی، چې په نشترهال کښې په ارټ او فن او ډرامه پابندۍ ولګوی، او ددې صوبې سندرغاړی د ډېګرۍ نه اوباسی او یا په سی ډی پروډکشن پابندۍ ولګوی، او ددې لارې سره وابسته په سوونو فنکاران بې روزګاره کړی، او که په ښار کښې هم چرته د وخت تېرۍ دپاره څوک په مثبت سرګرمیو کښې مشغول وی، چې هغه هم منفی سوچونو، ډاکو، قتلونو او اغواګانو ته اوزګار کړی او بیا ددې جوګه وی، چې هېڅوک ورته هېڅ نه شی وئیلے او هېڅوک په دې هېڅ پابندی نه شی لګولے، ددې ځائے د حکومتی ډلې خلک هم دغه کارونه په ایمانداری سره کوی او نور یې په هر څه کښې د سترګو نه بې وسی ښاخی هم ددې خبرو د تصدیق دپاره مونږ د فنکارانو د تنظیم یو رپورټ خپلو لوستونکو ته وړاندې کوو.

د امجد هادی یوسفزی په حواله د پېښور یو مقامی اخبار خبر خور کړے دے، وایی تېره ورځ د فنکارانو د نمایندہ تنظیم «اواز» غونډه وشوه، چې په کښې صدر

طارق جمال، سرپرست اعلی جاوید بابر، چئیرمین فخر الدین درانی، پریس سکرټری خالد خټک او اسلام الدین شامی ګډون اوکړو په غونډه کښې اووئیلے شو، چې د تیرو دریو کلونو نه د پی ټی وی پېښور مرکز وېجاړ پروت دے، دوی په نوی پروډکشن کښې بې دریغه کمے کړے دے، او څکه په کار کښې د بې دریغه کمی په وجه اداکارانو د لانګ مارچ دېکه کړې ده، دوی وایي چې د مرکزی او صوبایی مېډیا د پالسیو دلاسه د فنکارانو عزیزولی ساه ډوبی مرحلې ته رارسېدلې ده، یو طرفته معاوضې د نشت برابر دی،او بل طرفته په یو نیم کال کښې صرف دوه ډرامې جوړې شوی دی، تېر کال د یو وزیر په سفارش صرف د هزاری فنکاران کاسټ شوی وو، سفارشی او نا اهله خلکو په پی ټی وی(Ptv) قبضه کړې ده

زیانه کړے شوه، چې د پی ټی وی د هر مرکز نه د نوی ...شه ماهی په دوران کښې مختلفو علاقایی ژبو کښې ...نوی پروګرامونه تیارولے شی، خو پېښور سنټر پروګرامونه د فکرمندی د حده پورې کم کړی دی.

د صوبایی حکومت اقدامات د فنکارانو د وژلو برابر دی،دوی په اقتدار کښې د راتللو سره سمدستی په نشترهال کښې په ثقافتی سرګرمیو بندیز اولګولو، روستو یې په ډبګری کښې مېشته فنکاران بې کوره کړل، او اوس یې په سی ډی پروډکشن د بندیز لګولو اعلان کړے دے، ددې صورت حال له کبله فنکاره طبقه په لوږو تندو مجبوره شوی ده

د اطلاعاتو وفاقی وزیر شیخ رشید احمد د فنکارانو په معاوضو کښې د دوچند زیاتوالی اعلان کړے ؤ، خو تر اوسه په دې عمل درامد نه دے شوے

بلکې پی ټی وی انتظامیې پروډکشن کم کړے دے، حال دا دے چې فنکاران د لوږې مری د پی ټی وی پروډیوسران په سفارش اداکاران په ډرامو کښې کاسټ کوی، د پښتو نه علاوه، د هندکو ډرامو او میوزیکل پروګرامونو ریکارډنګ هم بند شوے دے، د سیریل ډرامې، «تندر» په یو نیم کال او «باور» په یو کال کښې مکمل کړے شو، ددې نه اندازه لګی چې د پېښور پروډیوسران په خپل کار کښې څومره مخلص دی، په دې ډرامو کښې هم زیات هغه اداکاران کاسټ شوی دی، چې د پروډیوسرانو سره یې خصوصی تعلقات وو، یا چې اعلی احکامو یې سفارش کړے ؤ، د پی ټی وی پروډیوسران په کال کښې یوه ډرامه جوړوی، او خپل جېبونه ډکوی، خو صرف په یوه ډرامه د پېښور فنکاران په روزګار کېدے نه شی، طارق جمال د حکومت نه غوښتنه اوکړه، چې که د فنکارانو جایزې مسئلې حل نه کړے شوې، نو ټول فنکاران به تر اسلام اباده لانګ مارچ کوی.

• • •

## رښتیا

رښتینې رڼا هغه وی، چې د انسان د دننه نه راپورته شی،او ده ته د خپل نفس د تیرو د لیدو نظر ورکړی، او ده ته د زندګۍ نه د فرصت چل اوښایی، او ده روح د نغمې او اهنګ سره اشنا کړی،د رښتیاو مثال د هغو ستورو دے،کوم چې د شپې او تیرو په پردو کښې نه شی پټېدے، رښتیا د هر هغه ښکلی څیز په شان وی، چې خپل اثرات د هر تماشګیر په زړه خوروی، په تېره تېره په هغه خلکو چې د بې رحمه دروغو د تاثیراتو نه خبر وی، رښتیا هغه پټه جذبه ده چې مونږ ته د ژوند د خوشحالو نه د خوند اخستو چل ښایی،او هم ددې د اثراتونه مونږ ددې امید سره وابسته کیږو، چې په دې پوهه شو، چې دغه خوشحالی خو د دنیا د ټولو خلکو دپاره دی،او په دې د ټولو خلکو یو شان حق دے، څکه نو مونږ غواړو چې دغه خوشحالی دې د ټولو خلکو نصیب شی، ډېر خلک دی چې هم د دغې پټې جذبې د خواهش مطابق ژوند کوی، ډېر خلک دی چې هم په دې رڼاګانو یې زړه منور دے، او هم دې یقین ته رسی چې هم دغه خوشحالی خدائے پاک د انسان دپاره تجویز کړې دی

خلیل جبران

محمد شیرین گردیوال



# د ډاکټر کبیر ستوري سره ژمنه (وعده)

د پښتو او پښتنو د ملي قافلې سرکښ، پیاوړے او ننګیالے، زما د سیاسي او ټولنیز ژوند کلک ویاړلے، خوږ او نژدې دوست او ملګرے ډاکټر کبیر ستورے ددې فاني دنیا نه د ابدي دنیا په سفر لاړو، اناالله و انا الیه راجعون

د چا به پلار، د چا بابا، د چاچا کاکا، د چا ماما به وي، خو ددې رشتې نه وروسته د دوستۍ انسانیت او پښتونولۍ د ټینګو مزو او تارونو په چوکاټ کښې ماته د هر څه نه رانژدې دوست او ملګرے وې

ملګریه! څښتن تعالی دې جنتونه په نصیب کړه

خو ملګریه! د جنت ښاپېریو ته هم دا زېرے ورکړه، چې ستا ملګري به ستا د ملي مبارزې او قامي وحدت ترانه ژوندۍ او ځلانده ساتي

ملګریه! ستا ژوند د پښتنو او پښتونولۍ خزانه، د علم او ټولنیز ژوند د لارې او منزل ډېره، د پت، غېرت، ښېګنې اووفا زمزمه د پښتنو د ملي یووالي او قومي وحدت ناره او د پښتنو د خېر، ابادۍ او سوکالۍ دپاره نرۍ د رنګینو نه ډکه او مسته وږمه وه

د پښتونولۍ د ستر بڼ طوطي! ته خو لاړې خو زه او زما ملګري په ایمانداري سره درسره دا ژمنه کوو، چې ستا د پښتو او پښتونولۍ هڅې او د قومي وحدت، د ملي ترانې او نارې ځپې به د نړۍ په ګوټ ګوټ کښې د پښتنو زړونو او فکرونو ته ور رسوو

د ډاکټر کبیر ستوري ژوند ته ځغلند نظر:

د هېواد ملي او منلے شخصیت د پښتون قامي وحدت تکړه او پیاوړے مبارز خدائے بخښلے ډاکټر کبیر ستورے د پښتو ژبې ملي، منلے، وتلے، شاعر، لیکوال، څېړونکے، ژورنالست او دپلوم سا پوه ؤ.

په هغه پښتون په ټبر میرداد خېل، چې د پښتنو د یوسفزو د پرګنې پورې اړه لري ستورے د لعل محمد خان زوئے او د برې پښتونخوا د کونړ د تنر په کلي کښې په ۱۳۲۱ هجري کال کښې زېږېدلے دے

ده خپله لومړنۍ زده کړه د خاص کونړ په لومړني ښوونځي او په کابل کښې د رحمان بابا په لیسه کښې او خپله لوړه زده کړه د جرمني د فرانکفورت، کولن او ماربورګ په پوهنتونونو کښې د ساپوهنې په څانګه کښې چې فلسفه، سیاسي پوهنه او ټولنپوهنه ورسره مل وه، سر ته رسولې ده، ستوري د پښتنو ټولنیز ولسولیز ګوند د بنسټ اېښودونکو مخکښانو څخه دے.

د شاعرۍ په نړۍ کښې د یوه پرمختللي ادبي بهیر پورې اړه لري، چې مشر نماینده یې د پښتو د ادب پلار اجمل خټک دے، د پښتنو د یووالي، خپلواکۍ او سوکالۍ دپاره ده ته د باچاخان نظریو ژوند وربخښلے دے

ستوري د پښتو د یو ګڼ شمېر کتابونو مولف او لیکوال ؤ، چې وایي:

ساه مې واخله خو پښتو رانه وانه خلې
زه پښتون یم په پښتو باندې پتمن یم
که زما «ستوري» په قبر چېرې راشي
په پښتو راته دعا کړه پرې مئین یم

روح دې یې ښاد وي

محمد شیرین ګردیوال

«د پښتنو ټولنیز ولسولیز ګوند (PSDP) لمړے مرستیال او په جرمني کښې د پښتنو د کلتوري ټولنې مشر دے»

# د خان عبدلولی خان په یاد کښې مشاعره

په دویم اپریل ۲۰۰۶ په جمرود کښې د عبدالرحیم اپریدی په حجره کښې د خان عبدالولی خان په یاد کښې یوه درنه مشاعره وشوه، چې په کښې بې حسابه شاعرانو برخه واخسته، او خان عبدالولی خان ته یې د هغه په سیاسی او ادبی ژوند، جدوجهد، او مېړانه د عقیدت پېرزوینې پېش کړې

د سټېج سکتر فرایض ساحر اپریدی ترسره کړل، وینا کوونکو ووې چې ولی خان د یو کوتلی، او جمهوریت خوښی سیاست دان سره سره، یو داسې لیکوال هم ؤ، چې ځو کتابونه یې لیکلی دی، او داسې مٔعلومات یې د پښتنو د ژوند او سیاسی پوهې دپاره را یو ځائے کړی دی، او په دومره جرات سره یې دغه حقایق نه یوازې قلم ته سپارلی دی، بلکې پښتانه یې د تاریخ هغوائینو ته ودرولی دی، چې که صرف دغه کتابونه هم وګوری، نو د خپلو مخونو د لیدو سره سره به په کښې د هغو سازشونو نه هم خبر شی، کوم چې د ملک د خلکو نه علاوه په بین الاقوامی سطح، مخالفو قوتونو د دوی خلاف وخت په وخت کړیدی.




حقیقت داد ے چې که ولی خان سړے دده د لیکونو په رڼا کښې وګوری، نو هم په دې پوهېد ے شی، چې هغه نه یوازې د خپل ژوند ډېره لویه برخه په ډېر روڼ تندی پښتنو ته سپارلې وه، ولې دغه لیکونه یې داسې دی، لکه چې هغه د مرګ نه پس هم زمونږ د پښتنو راهنمایی په خپل سر اخستې ده.

چې سړے د پښتنو د تېرو درې ځلورو سوو کالو په تاریخ هم نظر ورواچوی، نو حېران شی، چې د دنیا طاقتونو، او دشمنانو ددې پښتون وطن د اوسېدونکو خلاف په څومره څومره موده خواره سازشونه کړیدی، او په څنګه څنګه چلونو یې د دوی د راپرزولو او خوړولو هڅې کړې دی، دغه هر څه معلومول، راسپړل قلم ته سپارل، او د موجوده قوتونو په مخکښې په ډېر مېړانه او جرات سره دغه هر څه دکتابونو په صورت کښې پښتنو ته رسول د هر چا کار نه ؤ، په دې وجه د ولی خان په پښتون قام او پښتو ژبه دومره حق دے، چې باید یوازې دهغه یاد سیاسی خلکو ته پاتې نه شی، او د پښتونخوا ټولې ادبی جرګې او ټولنې د ولی خان په نوم علمی او تحقیقی غونډې وکړی، او د هغه دکتابونو نه د استفادې دپاره پښتانه خبر او پوهه کړی، چې زمونږ راتلونکی نسلونه هم د دغو سازشونو نه خبردار، بېدار او تکړه تیار اوسېږی

(ادبی رپورټ)



محمد زبیر حسرت

# د پښتو خبره د (پښتون) خبره

محترم رحمت شاه سايل صاحب!

سلامونه او نېکې هيلې!

«پښتون» راغله او د پښتو، پښتون او د پښتونخوا د اب او تاب سره راغله يقيناً چې د پښتون په دې دريم زېږون به د حضرت باچاخان بابا رح روح په عليين مکان کښې د خوشحالۍ نه په جامو کښې نه ځائيږي د سياست، ادب، سائنس او نوې ټېکنالوجي ټول اړخونه خپل ځان کښې رانغاړي، دا د پښتو او پښتون خوش بختي ده، چې خدائے تعالیٰ ورله ستاسو غونډې قامي شعور لرونکے انقلابي نظر لرونکے شاعر او اديب په لاس ورکړے، د خوشحال بابا خبره چې د پښتو ژبه به اوس په اب وتاب شي

سايل صاحب! وايي چې شاعري د جذباتو او احساساتو اظهار دے، دا خو يوه اسانه خبره ده خو بيا دا چې د دغو جذباتو او احساساتو اظهار دې په کومه توګه وي؟ او دغه خبره چې د جذباتو او احساساتو د څرګندونې دپاره بهترين انداز کوم دے؟ نو په دې سلسله کښې د هر څه وئيلے شوي دي، او لا نور به هم د هر څه وئيلے کيږي او د وخت تېرېدو سره به بنيادم په دې معامله نور هم غور وفکر کوي او د ښۀ نه ښۀ په لور به دا سفر هم داسې جاري وي

شاعري ښه ده که بده؟ شاعري د کار څيز دے او که بې کاره؟ د شاعرۍ ضرورت شته که نه؟ دا ټول داسې سوالونه دي چې د معلوم تاريخ له مودې راسې را روان دي او زما په خيال چې تر څو دنيا ودانه وي، نو بيا به هم دغو سوالونو مکمل، تسلي بخش او د زړه د واو جواب نه وي موندلے، خو ددغوټولو خبرو په ضمن کښې يوه خبره زه هم کول غواړم او هغه دا چې هر انسان غواړي چې هغه بل انسان يا نوروانسانانو ته د خپل زړه اواز ورسوي، دغه اواز که د خوشحالۍ وي که د غم او که د بل څه خو هر انسان د ويلو يو خواهش لري او بيا دا هم ده چې په دغو خواهشمندو کښې داسې هم وي، چې هغوی خپله خبره په وزن، اهنګ او يو داسې انداز تر بل انسانه پورې رسول غواړي، چې دغه خبره اثرناکه شي او دغه اثرناکه خبره که په نثر کښې وي او که په نظم کښې؛ خو دا شاعري ده، اوس اوس ۲۰۰۵ء کښې د ښاغلي سيدعابد جان شعري مجموعه «وجدان» چاپ شوې ده او هغه خپلې خبرې کښې ورومبی خبره دا ليکلې ده چې:

«که د شاعرۍ دپاره د فاعلا تن فاعلات پوهه ضروري وي او ددې قاعدې نه بغير شاعري ممکنه نه وي، نو بيا خو دې ګران لوستونکي ما د شاعرانو د صف نه خارج

تصور کړی، خو که شاعری لکه چې ورډزورتهـ وئیلی دی (SPONTANEOUS OVER FLO OF POWERFUL FEELING) نوم وی نو بیا زه شاعر او زما تخلیقی عمل شاعری ده»

د عابد جان خبره ډېره قوی او وزن داره ده او یقیناً چې د وجدان په لوستو د انسان احساس او وجدان، چې غالباً خلک ورته شپږم حس هم وایی، را بیدار شی. یقیناً چې یویشتمې صدی پښتو شعر و ادب له خصوصاً د شعر په دنیا کښې یو بل نوے، توانا او پلند اهنګ شاعر د ښاغلی سید عابد جان په صورت کښې ورکړو. زه خپله خبره لږه نوره وړاندې بیایم چې د شاعرۍ دپاره دا هم ضروری نه ده چې هغه دې په یو وزن، بحر او په یوه قافیه ردیف او اوزانو پوره وی، خو د وخت سره سره چې انسان څومره ترقی کړې ده او ځنې څیزونه یې غوره ګڼلی دی، نو د نورو دپاره هغه مثال جوړ شوے دے، او قانون ترې جوړ شوے دے او د هغې نه اخوا دېخوا تلل بد ګڼلے شوی دی او دغه شان د شاعرۍ اصول او قوانین هم دی او هغه کلام چې وزن، بحر، قافیه او ردیف لری نو هغه شاعری ګڼلے شوې ده، ګنی نن سبا خو ازاد، معری او نثری نظمونه او هائیکو و غیره کښې هم ښه شاعری کیږی او ښه شاعری ګڼلے شی، د جنورۍ پښتون اوله شماره کښې ستاسو په زلزله نثری نظم زما د خبرې تائید کوی

په پښتو ژبه کښې هم، چې دا د حساسو بنیادمو ژبه ده، دا خلک هم د مینې او محبت نه ډک زړونه لری، پښتون وګړی که هر څو د ناپوهه، جاهل، وحشی، ځناور او سړی خور په ناوړیو نومونو دنیا ته وپېژندلے شوی دی، او دا د هغو قلم لرونکیو کلانکارو کار نامه ده، چې د دې قام د ازادۍ غصب کولو دپاره یې په دوی بلوسه کړې ده او د دوی نه یې وهل خوړلی دی، نو دوی بیا خپله انتقامی کاروایی کړې ده او د پښتون قام اصلی تصویر یې وران کړے دے، او یا یې پرې ختمې تپلې دی. او له خانه یې ددې قام یو داسې تصویر دنیا ته وړاندې کړے دے، چې د پښتون وګړی د رنې څېرې سره سمون نه خوری، څه هم که دا یو فرضی او خیالی تصویر دے خو لاندې یې ورته د پښتون نوم لیکلے دے

متاسفانه چې پښتانه په یوه زمانه کښې هم چا «خپلې خاورې خپل اختیار» ته نه دی پرېښې او د دنیا دا بدقسمته قام همېشه دپاره د نورو سره په کشمکش او تصادم کښې پاتې شوے دے، او نتیجه یې نن زمونږ وړاندې ده، چې دا قام څومره ګډوډ او تقسیم در تقسیم دے. په ملکونو، صوبو، قبائیلی غیرو علاقو یا ایجنسو کښې پخپلو مشکلاتو کښې راګیر دے، په افغانستان کښې کله د پردو دلاسه او کله هم د خپلو دلاسه در په در خاورې په سر وی او په پاکستان کښې یې هم حیثیت دا دے چې د خپل نوم، خپلې ژبې او خپل کلچر او تاریخ نه جدا کړے شوی دی، په صوبایی سطح یې نوم «شمالی مغربی سرحدی صوبه» دے او څه په بلوچستان (جنوبی پښتونخوا) کښې دی چې هلته په پردی نامه ژوند تېروی او څه په ایجنسو کښې د پولټیکل ایجنټانو دلاسه خوار او ذلیل عمر تیروی، څه په غیرو علاقو یا ازادو علاقو کښې د ژوند د سهولتونو او علومو فنونو نه لرې پاتې کړے شوی دی، څه پښتانه په پنجاب وردیکه کړے شوی دی، چې ورباندې د پنجاب زمینداران، چودهریان او سرمایه داران او صنعت کاران قبضه دار کړے شوی دی او د دوی نه یې د دوی ژبه، ادب، کلچر او تاریخ شوکولے دے او څه د خپلو بې وسو او مجبور له لاسه د سندهـ په زمکه په دیاړو مزدورو خواریږی.

"دا قام څومره ګډوډ او تقسیم در تقسیم دے، په ملکونو، صوبو، قبائیلی غیرو علاقو یا ایجنسو کښې په خپلو مشکلاتو کښې راګیر دے، په افغانستان کښې کله د پردو دلاسه او کله هم د خپلو دلاسه در په در خاورې په سر وی او په پاکستان کښې یې هم حیثیت دا دے چې د خپل نوم، خپلې ژبې او خپل کلچر او تاریخ نه جدا کړے شوی دی"

دا ټول صورتحال يوه فکري لمحه او الميه ده، خو د کفر دپاره هم چا سره وخت نشته نو اخر ددې حل به څه وي؟ ايا پښتون وګړي به ټول عمر داسې در په در اوخاورې په سر وي او ايا هاغه څوک، چې د قامونو په عروج او زوال يقين لري، نو په دې هم يقين لرل پکار دي او که نا چې پښتون قام به هم چرته د عروج مقام او بام بيا مومي؟ ايا د دوي ژبه به هم د نشرياتي ادارو منظور نظر شي؟ ايا دا ژبه به هم چرته نصابي، تعليمي، سرکاري اودفتري عدالتي ژبه شي، سوالونه ډېر دي او جوابونه يې هم ډېر دي، خو اکثر جوابونه داسې دي چې زړه ته پرې څه خوشحالي يا اطمينان نه رسي، نو د ځان دوکه کولو دپاره هډو جواب اوربدل نه دي په کار.

زمونږ شاعران اديبان اوپوهان ځنې هغه دي چې په لږو مفادو ښه په اسانه خرڅ دي، څوک دوکه شوي دي او څوک ناپوهه دي، اومونږ د دغو ناپوهانو د اکثريت دلاندې يو، دلته عالمان شته، پوهان شته، مذهبي مشران شته، سياسي ليډران شته، لوئے لوئے تعليم يافته خلک شته، د علمونو ماهران شته، او د سائنس پوهان شته، خو دغه ټول په يو لوئے مصيبت کښې اخته دي، هر چا خپله خپله اېجنډه جوړه کړې ده، خو د دغو ټولو په اېجنډو کښې د دوي د خپلې ژبې نوم نشته! او نه ورته احساس شته چې زمونږ هم خپله يوه قامي ژبه شته او دوي ډېر په فخر د نورو ژبو ته خپلې قامي ژبې وايي، د بې حسۍ به له دې بل زيات څه ثبوت وي، او ددې قام د بدنصيبۍ به له دې زيات بل څه دليل وي؟ زما په خيال پښتون د دنيا په مخ واحد هاغه بدقسمته قوم دے، چې دے په خپله ژبه وئيلو، ليکلو او لوستلو شرميږي او ډېر په فخر سره وايي چې ماله پښتو نه راځي او نورې ژبې زده کوي، هم ډېر په شوق او فخر پرې هم کوي. نو وروستۍ خبره ډېره ښه ده چې د نوې زمانې او نويو علومو سره سم د وخت د تقاضا مطابق وي بېشکه چې نورې ژبې زده کول او پکښې علوم وفنون حاصلول ضروري دي او د زمانې رفتار سره خپل قدم يو کول له هر څه زيات ضروري دي خو خپله ژبه هيرول، سپکول او پرې شرم محسوس کول د شرم خبره ده

زمونږ شاعران، اديبان، او دانشوران چې پښتو ژبه صرف دوي ته پاتې ده نو د دوي حالت هم څه ښه نه دے، د يو بل پښې وهل، يو بل را پرزول او په يو بل تورونه پورې کول او ختې تپل، د ځان لويول او بل ووړوکے کول او سرد لاندې را غورزول يې محبوبه، اهمه او زړه پورې مشغله ده، نه يې چرې په قامي سطح سوچ کړے دے، نه يې د يو والي ضرورت محسوس کړے دے، او نه يې چرته د خپلې قامي ژبې پښتو د بالا او با اختياره کولو دپاره کوم تحريک شروع کړے دے، نه پخپله څه کوي او نه کولے شي او نه بل څوک څه ته پرېږدي او که چرته يو څو لېوني دا اواز را پورته کوي نو دهغې مثال هم په صحرا کښې د چغو مترادف دے.

زمونږ د قامي ژبې د بېخ وېستو دپاره سرکاري ادارې ښې په نره او پوره سرګرمۍ سره لګيا دي ددې بنياد يې ووېستو او وباسي يې، سرکاري تعليمي ادارو او دزده کړې مرکزونو خو دا ژبه فنا کوله ولې دغه طوفان سره يو بل طوفان د پبلک سکولونو او د انګلش مېډيم په نامه هم ملګرے شو، دغه انګلش مېډيم سکولونه هم عجيبه دي، چې د انګرېزي لفظونو ترجمه پښتنو ماشومانو ته د هغوي په خپله پښتو ژبه کښې نه کوي، بلکې په پردۍ ژبه يې ورته کوي، لکه BALL ته غونډوسکے يا پنډوس نه وايي، ګېنډ ورته وايي او د CAT ترجمه ورته پيشو نه بلکې بلي کوي او داسې د DOG دپاره د کتا تورې استعمالوي او دا

"سرکاري تعليمي ادارو او دزده کړې مرکزونو خو دا ژبه فنا کوله ولې دغه طوفان سره يو بل طوفان د پبلک سکولونو او د انګلش مېډيم په نامه هم ملګرے شو"

تش په نامه پبلک او انګلش مېډیم سکولونه دومره عام دي او اولس ورته دومره په شوق او مینه خپل ماشومان د قسلولو دپاره لېږي. چې اندازه لګول یې هم ګران دي، هم دغه سکولونه زمونږ د ماشومانو نه یو په دوه ډبل فیسونه اخلي او هم په دغو فیسونو زمونږ د ماشومانو ذهني قتل کوي. دا سکولونه دهغو خونخوارو قاتلانو کردار ادا کوي چې په اجرتي قاتلانو بللے شي، بلکې د دوی نه هم لاندې دي. کمال خو دا دے چې نن لوئې هنر او لویه خوش بختي دا ګنلې شي او دا ورته کمال ښکاري چې اولاد مو انګرېزي زده کړي، بېشکه چې انګرېزي خپل یو بین الاقوامي رول لري او د دغه رول په خاطر د دغه ژبې زده کول یو ضروري امر دے؛ خو د دې دا مطلب هرګز نه دے چې بس انګرېزي د ټولې کامیابۍ کنجي ده

نن زمونږ د قام دپاره یواځې د انګرېزۍ ژبې زده کړه څه کمال نه دے، بلکې دې قام له د هنر تعلیم پکار دے، د زراعت تعلیم پکار دے، د انجنیرنګ تعلیم پکار دے، او د نوې دور د نویو تقاضو تعلیم پکار دے، صرف ژبه دیو قام حالت نه شي بدلولے، او ددې دپاره د ژبې څه قید نه وي او که داسې وي نو بیا د چین، جاپان، جرمني او روس ترقي ګني د انګرېزۍ په زده کړې پورې تړلې ده؟ جرمني، فرانس اونورو ملکونو چې ترقي کړې ده نو دوی څه په انګرېزۍ زده کړې باندې خو ترقي نه ده کړې، ژوندي قامونه تل خپل ضرورتونه پخپله پوره کوي، مونږ که پښتو کښې غزل او نظم لیکلے شو، که افسانه، ډرامه، ناول، تاریخ، مذهب او فلسفه لیکلے شو، نو ولې دا جدید علوم مونږ په پښتو کښې نه شو لیکلے؟ او ایا د مېډیکل او انجنیرنګ تعلیم او ټیکنیکل تعلیم په پښتو کښې نه شي ورکولے کېدے؟ دا ټول کارونه کېدے شي خو محنت غواړي، کوشش غواړي، او د هر څه نه علاوه یوه لېونۍ جذبه او ولوله غواړي او رښتیا خبره دا ده چې یو ژوندے قامي شعور غواړي، او کله چې دغه ژوندے قامي شعور بیدار او پیدا شي نو بیا دا هرڅه دومره ګران نه دي

(فضل خالق بونیرے)

د وطــن خــاوره بــه ورنکړمــه د زر پــه بــدل
جنــت بــه ځنګــه هېرومــه د سـقر پــه بــدل
یمــه منصور پــه دار بــه وانــه وړم د خپلې وینا
لکــه مــلا بــه بــدل نــه شــم د ډالــر پــه بــدل
هــر ســړے پوهــه دے پــه ښــه بــدو پــوهېږي بــلا
ازغــی بــه څــوک واخلـی د سرو ګلو د کر پــه بــدل
قــدم پــه کېږدمــه پــه پلونــو د نیکونــو د پښتو
وطــن بــه خپــل کړمــه پــه وینــو د خپــل سر پــه بــدل
ظــالم بــه وژاړي د اوښکو پــه ځــائے وینـې خپلې
ددې اولــس خیــرې ګرېــوان د اوښکو تــر پــه بــدل
لېونــے نــه یــم، ښــه پــه خــود یمــه بې خــوده نــه یــم
ښــکلے حســېن بــه ځنګــه ورکــړم د شمر پــه بــدل
څــومره چې علــم د انســان وی دومــره پوهــه لــری
پــه قــدر ګــوری ورتــه هــر څــوک د هنــر پــه بــدل
څنګه به غرق کړی خوار وګړی خپل وطن په اوبو
چا لــه بــه ورکړی څــوک اباد کــور د کنډر پــه بــدل
د چا ظالم د چا جابر د چا شین سترګی په خولۀ
څنګــه قبــول کــړم محــرم د لــوئې اختــر پــه بــدل
مــونږه بــه هــم د امیــد شــمعې ورتــه بلې ساتو
وخــت کــه هــر څــو تیــرې راکړې د سحر پــه بــدل
تاسو انصاف وکړئ په مېنځ کښې منصفیانو کنه
سروه څــوک اخلــی د چینــار یــا د نښتر پــه بــدل
د پــردی باټــه غــوره ګــنم خپلــه پخــه برجــو
شــال بــه وانخلمــه د چــا نــه د څــادر پــه بــدل
فضل خالقه په اخلاص که اوبۀ هم راکړی څوک
وینـې بــه ورکړمــه هغــو لــه د ځیګــر پــه بــدل

# د وطن د جمهوریت سندره

خورشید ثاقب

به مختلفو ومتونو کښې د اسملۍ او د سېنټ د الیکشن د هارس ټریډینګ نه پس مې دا سندریز نظم اولیکلو.

د لوړ ائین پګړۍ په سر دې لیډران خرڅیږی
وطنه ستا جمهوریت ته سلام
ډېر لوئې انسان دے، خو په دې بیه ارزان خرڅیږی
وطنه ستا جمهوریت ته سلام
ستا په ائین په ائینی ایوان کښې څه او نه شو
ستا په تاریخ په تاریخی ایوان کښې څه او نه شو
د یو مایوسه نابالغ جمهور بچی دلاسه
ستا په جمهور په جمهوری ایوان کښې څه اونه شو
په لوئې سازش دې لوړ ناموس د لوئې ایوان خرڅیږی
وطنه ستا جمهوریت ته سلام
وطنه ستا عظمت ته ستا جمهوریت ته سلام
خود رښتیاو د وینا شوندې ګنډلے نه شم
وطنه ستا لوئې حریت او صداقت ته سلام
خو د نړۍ په دستور سترګې پټولے نه شم
دا چې عیسی په لږه بیه هم ارزان خرڅیږی
وطنه ستا جمهوریت ته سلام
دا چې پګړۍ د پېغمبر نوم د اسلام خرڅیږی
هم مصله د رسالت د خدائے کلام خرڅیږی
چې خدائے مو یو پېغمبر یو دے، هم کلام یو دے
دغه تضاد ولې ساتو چې مو انجام یو دے
ووټ له نامه د خدائے خدایی او هم قران خرڅیږی
وطنه ستا جمهوریت ته سلام
دلته چې خان، اقتدار اخلی او وطن ورکوی
مونږ میرجعفر غوندې هغه غداران اوپېژندل
چې د مظلوم او د غریب وینه ارزانه ګڼی
مونږ د کرسی غله د مظلوم قاتلان اوپېژندل
په لوئې فریب دې هم یوسف نن د کنعان خرڅیږی
وطنه ستا جمهوریت ته سلام

چې د نهر غریب مسکین د خلې نمرۍ شوکوی
سپینه جامه درنه قبا کښې ټګان ښه پېژنو
چې د موسی په حق ګویی باندې موسی وژنی
دغه سرکشه او تابه فرعونیان ښه پېژنو
نن د تاجونو په دې جنګ کښې هم شاهان خرڅیږی
وطنه ستا جمهوریت ته سلام
چې د وطن په خزانو باندې ماران ناست دی
دا تالی ختمی د فرنګ لوټ ماران ښه پېژنو
چې تقدس د پاکې خاورې یې تاله ترغه کړو
د مغربی سامراج کنجر دلالان ښه پېژنو
زمونږ د سر سودا کوی چې غداران خرڅیږی
وطنه ستا جمهوریت ته سلام
د لوړ ائین پګړۍ په سر دې لیډران خرڅیږی
وطنه ستا جمهوریت ته سلام

### د ښځې دپاره

رسول حمزه توف / سید افضل شاه

که یو زر سړی هم په تا مئین شی
نو خامخا به رسول حمزه توف په هغې
کښې یو وی
که یو سل سړی په تا مئین شی
نو رسول حمزه توف به یقیناً پکښې شامل وی
که صرف لس سړی په تا مئین شی
نو رسول حمزه توف به ضرور پکښې وی
که یو سړے په تا مئین وی
نو هغه به د رسول حمزه توف نه بغېر
بل څوک نه وی
خو که
څوک هم په تا مئین نه وی او ته
یوازې یې نو ددې مطلب به
دا وی چې چرته په اوچتو غرونو
کښې رسول حمزه توف مړ شوے دے

عطاءالله جان سید و سوات

موږ د یو فکر، یوې لار خلک یو
موږ ګوري هم ښه د معیار خلک یو

موږ په هر لور محبتونه وېشو
لوسو موږه ډېر د کار خلک یو

د خلکو خیال کښې که اوزګار خلک یو
خو د قام سترګې یو بېدار خلک یو

مینه کول که په رښتیا ګناه وي
بیا خو بېشکه ګنهګار خلک یو

موږ لېوني یو په موږ کار مه لرئ
د خپلې خوښې خپل اختیار خلک یو

بس دغه لویه کم عقلي ده زموږ
خان ته چې وایو ډېر هوښیار خلک یو

دې خوار وطن کښې بې روزګاره ګرځو
نور ښه د کار، ښه د روزګار خلک یو

د چا په یو نظر کتو جوړېږو
ګرانه په زړه داسې بیمار خلک یو

زموږ خویونه د ښاریانو نه دي
جانانه خبر دے که د ښار خلک یو

خکه خو داسې خوار و زار ګرځو چې
ددې خپل خوار اولس غمخوار خلک یو

د وخت تیارو کښې رڼاګانې کوو
جانه د ستورو سره شمار خلک یو

شاهین خادم شاني

په خزان کښې د سپرلي په امید ژوند کړم
خو سپرلي ته چې مې پام شي ژړا راشي

ددې زیست په سور لوو تاریکو کښې
ستا د ذات یوه زره راته رڼا شي

بندګي مې د رښتیاوو کړه قبوله
که د مینې حق مې دغسې ادا شي

دا سکوت او خاموشي مې ستا په وړاندې
هسې ښه ده، نه چې ګفت راته خطا شي

په ډېر صبر مې ستا هر ستم تسلیم کړو
په دې طمع که یو هم په کښې وفا شي

ما مې خپلې اوښکې سترګو کښې کړې پټې
هسې نه ستا خوږې سترګې په ژړا شي

ګل بدنه هر انداز دې دلنشین کړم
خو معصوم معصوم نظر زړه ته بلا شي

ستا د مینې الهامي اثر باقي دے
ګنې ډېرې مینې ختمې په دنیا شي

چې پخپله د خپل رنځ علاج تري نه شي
داسې خلک به د نورو څه دوا شي

چې د خولې نمرې، د سر سر پېچک یوسي
ددې وخت جمهوریت به څه بالا شي

که هر څو دي د شاني حالات مرګوني
خو ستا مینه مې په مړ ژوندون کښې ساه شي



ډاکټر کبیر ستورے، اجمل خټک
او عبدالله بختانی خدمتګار
په یو سټیج ناست دی



د د پورنډو لاین د سمینار په
موقعه په سټیج ناست
ډاکټر کبیر ستورے،
...ل خان لالا او نور کسان



د جنازې بازو مې نیسه - چرې به ما په راستی خوله در کړې وینه
د خدائے بخښلی ډاکټر کبیر ستوری د جنازې یو منظر

onthly
PAKHTOON

# د قصه خوانۍ د شهیدانو یادګار



مونږ خپله خپله لکه ګل سپړدلې نوې ځوانی
د ازادۍ د لېونۍ ناوې نه ځار کړله
قصه خوانۍ هغه لمحې به تاته هم یادې وی
چې ستا سینه مو په سرو وینو لاله زار کړله



Publication Cell Baacha Khan Trust